د پوهني وزارت
د تعليمي نصاب د پراختيا، د ښوونکو د
روزنې او د ساينس د مرکز معينيت
د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي
کتابونو د تاليف لوی رياست

پښتو

اووم ټولگی

پښتو

اووم ټولگی

په بازارکې يې اخيستنه
ره قانوني چلن کيږي.

د چاپ کال: ۱۳۹۰ هـ . ش.

Ketabton.com

د پوهنې وزارت

د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ښوونکو د
روزنې او د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

پښتو

اووم ټولګی

د چاپ کال: ۱۳۹۰ هـ.ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیکوالان:

محمد قاسم هیله من، د مؤلف مرستیال محمد قدوس زکوخېل

ایډیټران:

محمد زرین انځور، پوهنمل بریالی باجوړی

دیني، سیاسي او فرهنگي کمیټه:

- مولوي عبدالصبور عربي
- دکتور محمد یوسف نیازی
- حبیب الله راحل د پوهنې وزارت سلاکار د تعلیمي نصاب د پراختیا په ریاست کې.

د څارنې کمېټه:

- دکتور اسدالله محقق د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ښوونکو د روزنې او د ساینس مرکز معین.
- دکتور شېرعلي ظریفي د تعلیمي نصاب د پراختیا د پروژې مسؤول.
- د سرمؤلف مرستیال عبدالظاهر گلستاني د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف لوی رئیس.

کمپوز او ډیزاین: صفت الله مومند

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملي سرود

دا وطن افغانستـــان دی　　دا عزت د هـــر افـــغان دی
کور د سولې کور د تورې　　هر بچی یې قهرمـــــان دی
دا وطن د ټولو کور دی　　د بـــــلوڅـــو د ازبکـــو
د پښتـــون او هزاره وو　　د تـــرکمنـــو د تاجکـــو
ورسره عرب، ګوجـر دي　　پـــاميريان، نورستانيـــان
براهوي دي، قزلباش دي　　هـــم ايمـــاق، هم پشه یان
دا هيـــواد به تل ځليږي　　لـــکـــه لمـــر پر شنه اسمان
په سينـــه کې د اسيـــا به　　لـــکـــه زړه وي جـــاويدان
نوم د حق مو دی رهبـــر　　وايو الله اکبر وايو الله اکبر

د

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

د پوهنې د وزیر پیغام

ګرانو ښوونکو او زده کوونکو،

ښوونه او روزنه د هر هېواد د پراختیا او پرمختګ بنسټ جوړوي. تعلیمي نصاب د ښوونې او روزنې مهم توکی دی چې د معاصر علمي پرمختګ او ټولنې د اړتیاوو له مخې رامنځته کېږي. څرګنده ده چې علمي پرمختګ او ټولنیزې اړتیاوې تل د بدلون په حال کې وي. له دې امله لازمه ده چې تعلیمي نصاب هم علمي او رغنده انکشاف ومومي. البته نه ښایي چې تعلیمي نصاب د سیاسي بدلونونو او د اشخاصو د نظریو او هیلو تابع شي.

دا کتاب چې نن ستاسو په لاس کې دی، پر همدې ارزښتونو چمتو او ترتیب شوی دی. علمي ګټورې موضوعګانې پکې زیاتې شوې دي. د زده کړې په بهیر کې د زده کوونکو فعال ساتل د تدریسي پلان برخه ګرځېدلې ده.

هیله من یم دا کتاب له لارښوونو او تعلیمي پلان سره سم د فعالې زده کړې د میتودونو د کارولو له لارې تدریس شي او د زده کوونکو میندې او پلرونه هم د خپلو لوڼو او زامنو په باکیفیته ښوونه او روزنه کې پرله پسې ګډه مرسته وکړي چې د پوهنې د نظام هیلې ترسره شي او زده کوونکو او هېواد ته ښې بریاوې ور په برخه کړي.

پر دې ټکي پوره باور لرم چې زموږ ګران ښوونکي د تعلیمي نصاب په رغنده پلي کولو کې خپل مسؤولیت په ریښتوني توګه سرته رسوي.

د پوهنې وزارت تل زیار کاږي چې د پوهنې تعلیمي نصاب د اسلام د سپېڅلي دین له بنسټونو، دوطن دوستۍ د پاک حس په ساتلو او علمي معیارونو سره سم د ټولنې د څرګندو اړتیاوو له مخې پراختیا ومومي.

په دې ډګر کې د هېواد له ټولو علمي شخصیتونو، د ښوونې او روزنې له پوهانو او د زده کوونکو له میندو او پلرونو څخه هیله لرم چې د خپلو نظریو او رغنده وړاندیزونو له لارې زموږ له مؤلفانو سره د درسي کتابونو په لا ښه تالیف کې مرسته وکړي.

له ټولو هغو پوهانو څخه چې د دې کتاب په چمتو کولو او ترتیب کې یې مرسته کړې، له ملي او نړیوالو درنو مؤسسو او نورو دوستو هېوادونو څخه چې د نوي تعلیمي نصاب په چمتو کولو او تدوین او د درسي کتابونو په چاپ او وېش کې یې مرسته کړې ده، مننه او درناوی کوم.

ومن الله التوفیق

فاروق وردګ

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیک لړ

شمیره	سرلیکونه	مخ
لومړی لوست	د خدای ﷻ ستاینه	۱
دویم لوست	زموږ ګران پیغمبر	۵
دریم لوست	پسرلی اوښکلا یې	۹
څلورم لوست	د (ی) ډولونه	۱۳
پنځم لوست	ملي مشر میرویس نیکه	۱۷
شپږم لوست	کلمه ، نوم او ډولونه یې	۲۳
اووم لوست	بلخ ، د مد نیت زانګو	۳۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتم لوست	لنډۍ، ولسي ادبيات	۳۵
نهم لوست	زده کړه : د ژوند اړتيا	٤١
لسم لوست	ليکدود او اړتيا يې	٤٥
يوولسم لوست	ورځپاڼه : د معلوماتو چينه	٤٩
دولسم لوست	ليکوال اوښوونکی: صالح محمد هوتک	٥٥
ديارلسم لوست	طاق ظفر : د خپلواکۍ ځلی	٥٩
څوارلسم لوست	قاضي او نوکر	٦٣
پنځلسم لوست	عبدالقادر خان خټک : نامتو شاعر	٦٧
شپاړسم لوست	دوديزې لوبې	٧١
اوولسم لوست	کرستين اندر سن	٧٧
اتلسم لوست	د مطالعې ارزښت	٨٣
نولسم لوست	د يووالي ګټه	٨٧
شلم لوست	د سبوګټې: ورځنۍ اړتيا	٩١
يوويشتم لوست	چاپيريال ځنګه وساتو؟	٩٥
دوه و يشتم لوست	ژبه او ګرامر	٩٩
درو يشتم لوست	د نشې زيانونه	١٠٣
څلر و يشتم لوست	د ماين خطرونه	١٠٩
پنځه و يشتم لوست	شاعر او سپوږمۍ	١١٣
شپږ و يشتم لوست	د مشرانو حقونه	١١٩
اوويشتم لوست	صفت (ستاينوم) او ډولونه يې	١٢٣
اته و يشتم لوست	نظم او ډولونه يې	١٢٩
	وييپانګه	١٣٥

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی لوست

د خدای ﷻ ستاینه

هر نېك کار د خدای ﷻ په پاك نامه پیل کېږي. هر کار چې د خدای ﷻ په نامه پیل شي، پای یې نېکمرغه وي. په هغه کې برکت اینبودل کېږي، ستونزې یې له مخې ځخه په اسانی لېرې کېږي او په پای کې هغه ځه لاس ته راځي چې غوښتنه یې شوې وي. له خدای ﷻ سره د مینې په پیداکېدو د مسلمان زړه پیاوړی کېږي. د خدای ﷻ ستاینه په زده کوونکو کې د مینې احساس روزي او په هغوی کې د توحید روحیه پیاوړې کېږي. زده کوونکي په دې حقیقت پوهېږي چې الله ﷻ د ځمکې، اسمانونو او ټولو کایناتو خالق دی.

- موږ چا پیدا کړي یو ؟
- ځمکه، اسمان او کاینات د چا خلقت دی ؟

زما رب چې هم خالق د کل جهان دی
هم مالک دی د زمین او هم آسمان دی
جهانونه واړه ده دي پیدا کړي
دی د دواړو جهانونو نګهبان دی
که مارغه دی، که حیوان، که بنیادم دی
د الله ﷻ د عظمتونو ثنا خوان دی
د موسیٰ سره یې راز په کوه طور کړ
محمد ﷺ یې مېلمه کړی په اسمان دی
محمد ﷺ چې دی بهتر د مخلوقاتو
نازل کړی یې په ده باندې قرآن دی
د خالق صفت مخلوق کولی نه شي
ای نسیمې ستا په ځان د څه ګومان دی؟

سیده حیات بیګم نسیم

سیده حیات بیګم نسیم د الطاف ګل کاکاخیل لور ده. په کال ۱۹۳۸م. کې په چترال کې زېږېدلې. سیدې قران کریم، احادیث، عربي، فارسي، اردو او پښتو لوستي وو. د شعرونو دیوان یې د "نسیم وږمې" په نامه په کال ۱۹۸۶م. کې چاپ شوی دی.

یادونه:

هغه کلمې چې د ث، ح، ذ، ص، ض، ط، ظ، ع، ف او ق توري په کې راغلي وي، عربي کلمې بللې کېږي، لکه: خالق، معبود، ثواب، طاهر، مضمون... .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د متن لنډیز:

الله ﷻ د ټولې نړۍ پيداکوونکی او خالق دی. دی د دواړو جهانونو ساتونکی دی. حيوان، پيرې، ماهی، مرغه او... انسان د لوی خدای ﷻ ستاينه کوي. پيغمبران يې د مخلوقاتو د لارښوونې لپاره را استولي دي. د الله ﷻ ستاينې ډېرې دي او مخلوق يې ټولې ستاينې نه شي پوره کولی.

فعاليتونه

۱ــ زده کوونکي دې لاندې پوښتنو ته ځوابونه ووايي:
- ستاسې په اند حمد ولې د کتاب په پيل کې راغلی دی؟
- حمد څه ته وايي او موږ ولې د خدای تعالی حمد وايو؟
- د حمد په ويلو زموږ په کار کې څه اساني راځي؟

۲ــ زده کوونکي دې په متن کې:
- عربي، دري او پښتو کلمې پيدا او په دريو کتارونو کې دې وليکي.
- ورته او مشابه کلمې ولټوي او په جلا، جلا کرښو کې دې وليکي.
- د ستاينوم، رب، کوه طور، خالق، مالک او واړه کلمې پيدا او په جملو کې وکاروي.

۳ــ زده کوونکي دې لاندې بيت په نثر واړوي:

که موسی سره يې راز په کوه طور کړ
محمد ﷺ يې ميلمه کړی په آسمان دی

۴ــ زده کوونکي دې:
- پورته حمد په ګډه په خوږه ژبه او لوړ اواز ووايي.
- په خو جملو کې د خدای ﷻ په هکله د خپل احساس څرګندونه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې راتلونکې ورځې ته د خدای ﷻ پالنې په اړه یو شعر، نثر او یا یو انځور راوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دویم لوست

زموږ ګران پیغمبر ﷺ

- تاسې د ګران پیغمبر ﷺ د مبارک نامه له اورېدو وروسته څه وایئ؟

حضرت محمد ﷺ په مکه مکرمه کې زېږېدلی او په (۴۰) کلنۍ کې په پیغمبرۍ ګومارل شوی چې انسانان د خپل څان او خدای ﷻ پېژندلو ته راوبولي. قرآن پر هغه نازل شوی چې د انسان د دواړو جهانونو د کمال او نیکمرغۍ لارې پکې ښودل شوې دي. د اسلام پیغمبر حضرت محمد ﷺ د نیکو خویونو او غوره اخلاقو یوه بشپړه بېلګه ده. د هغه هرعمل او وینا د مسلمانانو لپاره لوی لارښود دی.

- پر کشرانو باندې د ګران پیغمبر د شفقت او مهربانۍ په هکله څه پوهېږئ؟
- د حضرت پیغمبر ﷺ وینا او کړو ته څه وایې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

الهي راکړه وصال د خپل حبيب
زړه مي ښاد کړي په جمال د خپل حبيب
د هغو به گفتگو وي له قرآنه
چې تل اوري قيل و قال د خپل حبيب
د قيامت له حرارته يې باک نشته
هر چې نوش کاندي زلال د خپل حبيب
د صحرا د ريگ حساب راسره نشي
که هر څو شمېرم کمال د خپل حبيب
دروازې مې دواړه سترگې د ختن شوې
چې پرې وينم خط و خال د خپل حبيب
که نظر په واړو ښکلو د جهان کړم
هرگز نه وينم څوک سيال د خپل حبيب
آرام نه کړي د سرو شوندو بې جوابه
خوله مې سترې کړه په سوال د خپل حبيب
بيهوده دې شمس الدينه قيل وقال دی
څو آگاه نشې په حال د خپل حبيب

شمس الدين کاکړ

د شاعر پېژندگلوي:

دا نعتيه کلام د شمس الدين کاکړ دی. نوموړی د ديارلسمې هجري پېړۍ له تکړه شاعرانو څخه و. شمس الدين کاکړ د پيرمحمد کاکړ د سبک له پيروانو څخه و. نوموړی په اصل کې دکندهار و، خو د عمر ډېره برخه يې په هندکې تېره کړې ده. د شعرونو يو په زړه پورې ديوان لري چې په ۱۲۳۸ هـ . ق. کال کې يې بشپړ کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د متن لنډيز:

په دې نعت شريف کې د خدای ﷻ د ستر پيغمبر حضرت محمد ﷺ يادونه د ((خپل حبيب)) په نامه شوې ده. د شمېر له مخې د بيابان د شګو په اندازه د هغه د کمال او حکمتونو يادونې شوې دي. په دې شعر کې له ((خپل حبيب)) څخه هدف د اسلام ستر پيغمبر حضرت محمد ﷺ دی او شاعر يې د ټولو ښېګڼو مالک ګڼي او په مينه يې يادوي.

څرګندونه

کمال هغه حالت دی، چې انسان په کې د خپل پيدايښت حقيقت پېژني. د خپل خدای ﷻ او د هغه د بنده ګانو په وړاندې خپل مسؤوليت درک کوي.

فعاليتونه

۱ـ د لاندې نوو کلمو معنا د کتاب په پای کې ولټوئ، ځان پرې وپوهوئ او په جملو کې يې راوړئ:

ښاد	زلال	قيل و قال
ختن	باك	سيال

۲ـ زده کوونکي دې په وار سره نعت په لوړ اواز ولولي او بيا دې مفهوم پخپلو خبرو کې څرګند کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳ـ زده کوونکي دې د ګروپي کار په ترڅ کې عربي، دري او پښتو کلمې بېلې کړي.
۴ـ په متن کې ورته او مشابه کلمې ولټوئ.
۵ـ څو تنه زده کوونکي دې د متن له مخې د پیغمبر د اخلاقو په اړه خبرې وکړي.
۶ـ یو شمېر زده کوونکي دې لاندې بیت معنا کړي:

د صحرا د ریګ حساب راسره نشي
که هر څو شمېرم کمال د خپل حبیب

۷ـ نور زده کوونکي دې دا بیت په ساده ژبه تحلیل او په نثر دې ولیکي:

د قیامت له حرارته یې باک نشته
هر چې نوش کاندي زلال د خپل حبیب

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د حضرت محمد ﷺ د نیکو اخلاقو په هکله د خپل مور او پلار په مرسته په خپلو کتابچو کې څو لنډې، لنډې جملې ولیکي.

د حضرت محمد ﷺ وینا:
څوك چې په کشرانو زړه سوی او د لویانو درناوی نه کوي، زما په ډله کې نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دریم لوست

پسرلی او ښکلا یې

- پسرلی د کال څویم فصل دی؟

یو کال څلور فصله لري. پسرلی د کال لومړی فصل دی. اوړی (دوبی)، منی او ژمی د کال نور درې فصلونه دي. د نړۍ یو شمېر هېوادونه د افغانستان په څېر څلور فصلونه، نه لري. یو شمېر هېوادونه چې سمندرونو ته نژدې او یا د استوا لیکې ته څېرمه پراته دي، دوه فصله لري. یوه ته یې وچ او بل ته یې باراني فصل وایي.

- پسرلی د عمر له کومې برخې سره پرتله کېدای شي؟
- د پسرلي موسم څه ځانګړتیاوې لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان یو غرنی هېواد دی. سمندر ته ډېر نژدې نه دی. له دې امله بېل بېل فصلونه لري. په یو شمېر سیمو کې ژمی ډېر سوړ وي، خو یو شمېر نورې سیمې بیا معتدل ژمی لري. یو شمېر سیمې په اوړي کې ډېرې تودې او په ژمي کې ډېرې سړې وي. په لوړو سیمو کې په ژمي کې واورې او په ټیټو کې بارانونه اوري. همدا واورې او بارانونه دي چې په هېواد کې د اوبو زېرمې جوړوي.

په پسرلي کې په دښتو، غرونو ، رغونو او بڼونو کې راز راز ګلان زرغونیږي. خلك ډلې ډلې د ګلانو د سیل او د طبیعت له ښکلا څخه د خوند اخیستو لپاره دښتو، د غرونو لمنو او سیل ځایونو ته ځي. که په ژمي کې ډېرې واورې او په پسرلي کې ډېر بارانونه و اوري، نو له امله یې راتلونکی کال ښېرازه او پسرلی یې له ښکلا ډك وي.

په پسرلي کې په ځمکه کې نوې سا پو کیږي. ځمکه یا په طبیعي توګه او یا هم د بزګرانو او نورو کروندګرو د کار و زیار له امله شنه او خړوبیږي او د انسانانو د اړتیا وړ غلې دانې او ډول ډول مېوې زرغونوي. مرغان هم له یخو او سړو سیمو څخه تودو او ګرمو سیمو ته ځي. انسانان هم د نورو په څېر په خوښښت او حرکت راځي.

ځمکه تمامه شنه بخملي ده
نوی بهار دی د کال ځواني ده
دا زوړ جهان چې بېرته ځوان شوی
اغېزه ټوله د پسرلي ده
ځمکې په خپل مخ ایښې ګلونه
ونو په غاړه کړه امېلونه
د کال ځواني ده وطن سمسور دی
خوشحاله ګرځي زلمي او نجونه

سحر سبا دی غوټی غوړیږي
د گل په پاڼو شبنم ځلیږي
عجب احوال دی نن په گلشن کي
گلونه خاندي بلبل کړیږي

گل پاچا الفت

د متن لنډیز:

د طبیعت پسرلی موږ ته دا پیغام راکوي چې ژوند هم بېلا بېل پړاوونه او موسمونه لري. کله پر انسان پسرلی وي او کله منی. د ځوانی دوره پسرلي ته ورته وي او منی زړښت ته. د طبیعت پسرلی د نوي کال په راتلو بیا راځي، خو د ژوند پسرلی پر انسان یو وار راځي او چې تېر شو، بیا نه راځي. له دې امله باید د ژوند له پسرلي نه چې انسان د کار و زیار وسه لري، سمه گټه واخلي او د ژوند د مني لپاره ترې توښه برابره کړي. پسرلی زموږ د ژوند لوی او ارزښتمن لوست دی. باید هغه د خپل ژوند مشال کړو.

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې د لاندې نوو کلمو معنا د کتاب په پای کې ولټوي او په مناسبو جملو کې دې وکاروي:

زوکړه، ښیرازه ، ښکلا، مشال، خړوب

۲ـ زده کوونکي دې په متن کې ورته او مشابه کلمې پیدا او ولیکي.

۳ـ شاگردان دې یو یو دې پوښتنو ته ځوابونه ورکړي :

- پسرلی څو میاشتې او د کال کوم فصل دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د پسرلي او ژمي د فصلونو تر منځ توپير څه دی؟
- د پسرلي د فصل ښکلا په څه شي کې ده؟
- پسرلی د انسان د ژوندکومې برخې ته ورته دی؟

۴ـ لاندې بيت په نثر واړوئ:

دا زوړ جهان چې بېرته ځوان شوی
اغـېزه تــــولـه د پســـرلــي ده

۵ـ زده کوونکي دې د کال د څلورو فصلونو او د نړۍ د نورو برخو د اقليمونو په هکله خبرې وکړي.

۶ـ زده کوونکي دې د پسرلي د ښکلا او په ژوندکې د ځوانۍ له موسم سره د هغې پرتله وکړي.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د پسرلي متن ولولي، په مفهوم دې ځانونه پوه کړي او د پسرلي د ښکلا په اړه دې يو څو کرښې په کتابچو کې وليکي.

تـل دې بـهـار وي زمـــوږ وطــن کې
لـکه چـې روح وي ښايسته بـدن کې
ځـانـگـې د گـــلـو دې تـل تــازه وي
خـــزان دې نـــه وي زمـــوږ چــمن کې

گل پاچا الفت

(c) ketabton.com: The Digital Library

د (ی) ډولونه



■ که مو د (ی) بېلا بېل ډولونه زده نه وي، ایا یو متن سم لوستلای یا لیکلای شئ؟

هره ژبه ځانته بېل گرامر او قاعدې لري. پښتو هم د خپل جوړښت له مخې له نورو ژبو سره په غږ او لیکنه کې توپیر لري. که دا بنې د چا زده نه وي، نو د یو پښتو متن په لوستلو اولیکلو کې له ستونزو سره مخامخ کیږي او هغسې چې لازمه ده،کلمې او جملې په سمه توگه نشي لوستلای. په پښتو کې (ی گانې) پنځه لیکنی بڼې لري. دلته تاسو ته په لنډ ډول درپېژندل کیږي.

■ د سړي جمع او مفرد څنگه لیکئ؟

■ هغه لیکنه به سمه وي چې د (ی گانو) توپیر او سمه کارونه په کې نه وي شوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه دمخه چې و ویل شول، (ی) د پښتو ژبې یو کومکي غږ دی او پنځه ډوله ویل (تلفظ) کېږي. دا غږونه په عمومي ډول د کلمو په منځ او پای کې څرګندېږي.

۱ـ نرمه (ی): دا (ی) هیڅ ټکي نه لري، بې ټکو (ی) هم ورته وايي.

زياتره د نارينه نومونو لپاره کارول کېږي. لکه: سړی، منګی، لرګی، زلمی، توريالی.

بېلګې يې په لاندې جملو کې وګورئ:

يو سړی راروان دی او لرګی يې په لاس کې دی.

منګی يې له سره ولويد.

زلمی او توريالی نن سهار لاړل.

۲ـ څرګنده (ي): د دې (ي) لاندې دوه ټکي څنګ په څنګ ايښودل کېږي. زياتره د جمع، مغيره او د نسبتي نومونو په پای کې راځي، لکه: سړي، منګي، لرګي، دوبي، موچي، پردي، خپلوي.

بېلګې يې په لاندې جملو کې وګورئ :

سليم او وزير کاکا ډېر ښه سړي دي.

کله کله پردي هم په کار راځي.

خپلوي او دوستي پالل غواړي.

موچي ته مې بوټونه دګنډلو لپاره ورکړل.

دوبي ته مې کالي راوړل.

۳ـ اوږده (ې): هغې (ې) ته وايي چې لاندې ترې دوه ټکي سرپرسر يا لاندې باندې راغلي وي. دا (ې) زياتره د مؤنثو نومونو په پای کې راځي، لکه: ادې، شيدې، ناوې، مستې.

بېلګې يې په لاندې جملو کې وګورئ :

ادې شيدې تومنه کوي.

د کاکا ناوې مستې جوړوي.

زرغونې ادې ته غږ کړ.

۴ـ د تانيث (ۍ) : دې (ۍ) ته لکۍ لرونکې (ۍ) يا زورکۍ واله وايي چې د مؤنثو

(c) ketabton.com: The Digital Library

نومونو په پای کې راځي، لکه: ډوډۍ، خولۍ، څوکۍ، سپوږمۍ، تورپیکۍ او نور.

بېلګې يې په لاندې جملو کې وګورئ:

ګلالۍ پر څوکۍ ناسته ده.

تورپیکۍ د احمد خولۍ پرېمينځي.

هوسۍ ډوډۍ خوري.

۵ـ مخاطبه (ئ): دې (ئ) ته فعلي (ئ) وايي او په جمع امريه فعلونو کې راځي، لکه: خورئ، ځئ، کښېنئ، پاڅېږئ، ودرېږئ.

بېلګې يې په لاندې جملو کې وګورئ :

هلکانو ډوډۍ وخورئ.

ځئ لاړ شئ.

کښېنئ او درس ولولئ.

د متن لنډيز:

(ی) ګانې د پښتو ژبې غږونه دي. پنځه بېلا بېل ډولونه لري. د کلمو په پای کې راځي. په پښتو کې پنځه ډوله (ی) ګانې دي چې هره يوه يې ځانته ځانګړنې لري او په جلا جلا ځايونو کې استعماليږي. ددې تورو د ښو زده کړه د هر چا لپاره، په تېره هغو ته چې د پښتو متنونو له ليکلو او لوستلو سره سروکار لري، اړينه او ضروري خبره ده.

څرګندونه

لکۍ لرونکې (ۍ) او فعلي (ئ) دواړه يو ډول تلفظ لري، خو لکۍ لرونکې (ۍ) په ښځينه نومونو کې اوفعلي (ئ) په فعلونو کې راځي. ددې لپاره چې د نومونو او فعلونو توپير وشي، دغه بدلون پکې راغلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

۱ـ په لاندې جملو کې د (ی) تلفظي بېلابېلې بڼې وګورئ او اړوند ټکي ورلاندې کېږدئ:

- تاسې په کوم ټولګي کې یاستئ؟
- زموږ کور ډېر لوی دی.
- د احمد خپلی شکېدلې ده.

۲ـ دا لاندې جملې بشپړې کړئ:

- خپلوي او .... پالل غواړي.
- دوبي ته مي .... راوړل.
- ادې .... تومنه کوي.
- هوسۍ .... خوري.

۳ـ په لاندې کلمو کې نرمه (ی) په خرګنده (ي) واړوئ او بیا یې تلفظ او د معنا توپیر په ګوته کړئ:

سرى لرګى منګى پردى مربى

۴ـ په لاندې کلمو کې د (ی) ګانو نومونه ولیکئ:

خولۍ، منګی، لرګی، لیکئ، ځې

۵ـ پنځه مؤنث نومونه ولیکئ چې په پای کې یې لکۍ لرونکې (ۍ) راغلې وي.

کورنۍ دنده

زده کوونکې دې د مور او پلار د حقونو په اړه یو څو کرښې ولیکي او بیا دې په متن کې پورته ټولې نومول شوې (ی) ګانې په نښه کړي او په بله ورځ دې په ټولګي کې د نورو ترمخه ولولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځم لوست

ملي مشر، میرویس نیکه

د افغانستان د تاریخ په پاڼو کې یو شمېر داسې نومیالۍ څېرې شته چې کارنامې او یادونې یې په زرینو کرښو لیکل کېږي. په دغو نامتو څېرو کې د میرویس نیکه څېره ډېره ځلنده او تلپاتې ده. په دې لوست کې به د افغانستان د تاریخ د دغه نومیالي او مهم شخصیت په هکله یو مطلب ولولئ.

- د میرویس نیکه ستره ځانګړتیا کومه وه؟
- میرویس نیکه څنګه واکمن و ؟
- میرویس نیکه له کومې لارې مشرۍ ته رسیدلی و ؟

میرویس نیکه زموږ د هېواد ملي مشر او نومیالی واکمن و. د اټکل له مخې په ۱۰۸۴هـ. ق. (۱۶۷۳میلادي) کې زیږېدلی دی. پلار یې ښالم خان نومید. ښالم خان د کندهار د هوتکو د قبېلې یو منلی مشر و. میرویس نیکه د وخت زیاتره دیني زده کړې په کوچنیوالي کې سرته رسولې وې. په زلمیتوب کې یې د سوداګرۍ په کسب پیل وکړ. په دې توګه یې ډېرو ځایونو ته سفر وکړ. د سفرونو په ترځ کې د بېلا بېلو خلکو او ولسونو له حال احوال څخه خبر شو. پوهه، تجربه او معلومات یې لا زیات کړل.

په ۱۱۰۶هـ. ق. کال کې د صفوي شاه حسین د واکمنۍ په پېر کې ګرګین د کندهار حاکم و. ګرګین ډېر ظالم سړی و. د کندهار پر اوسیدونکو یې زیات زور او زیاتی کاوه. د خلکو شکایتونه او عرضونه چا نه اورېدل. د افغانانو ددغه مهال زیاتره مشران او لویان صفوي یرغلګرو بندیان کړي یا وژلي وو. د خلکو سترګې یوازې میرویس خان ته اوښتې. میرویس خان چې تر دغه مهاله په سوداګرۍ بوخت و، د خلکو غوښتنو ته یې غاړه کېښوده. هغه له سوداګرۍ څخه ملي خدمت غوره وباله او د خلکو او قومونو تر منځ د اختلافونو په لیرې کولو یې پیل وکړ. خلک یې د ملي یووالي تر بیرغ لاندې راټول کړل.

میرویس خان د خپلې پوهې اوتدبیر له مخې ځان ګرګین ته نژدې او د هغه باور یې پرځان پیداکړ. له دې وروسته میرویس خان اصفهان ته سفر وکړ. هغه چې ډېر پوه، زړور او ژبور سړی و، ډېر ژر یې د اصفهان په دربار کې نفوذ وکړ. ځان یې په هغوی باندې د افغاني قبیلو د مشر او د ګرګین د سلاکار په توګه ومانه. نوموړی له یو سپارښت لیک سره بېرته کندهار ته راستون شو.

میرویس نیکه له بېرته راستنېدو وروسته د قومونو تر منځ د اختلافونو د له منځه وړلو لپاره هلې ځلې چټکې کړې. ګرګین ځان له خطر سره مخامخ ولید. وارخطا شو او میرویس خان یې بندي اصفهان ته ولیږه. میرویس خان هلته د خپلې پوهې، تدبیر، فصاحت، بلاغت او قوي منطق له لارې ډېر ژر له بند څخه خوشې او د حج د فریضې د اداکولو اجازه یې هم ترلاسه کړه. د حج پر مهال یې د هغه ځای له وتلو عالمانو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولیدل او د گرگین زور زیاتی یې هغوی ته بیان کړ او له هغوی څخه یې د یو ظالم حاکم په وړاندې د یو پاڅون لپاره شرعي فتوا وغوښتله. اصفهان ته راستون او له صفوي دربار څخه یې د خپلې مشرۍ او گرگین ته د مشورې ورکولو فرمان تر لاسه کړ.

کندهار ته له راستنېدو وروسته یې یو شمېر قومونه د صفوي واکمنۍ په وړاندې مخالفتونو ته وهڅول. بیا یې د یو ملي پاڅون له لارې گرگین و واژه او د هغه لښکر یې تارومار کړ. په دې توگه پر کندهار باندې د یرغلگرو واک پای ته ورسید. میرویس خان په هـ . ق. کال کې د کندهار په کوکران کې د افغانانو د یوې ملي جرگې له لارې په مشرۍ وټاکل شو او د یو ملي خپلواك ولسي حکومت بنسټ یې کېښود.

میرویس نیکه په ډېره پوهه اوتدبیر د هېواد د ملکي او پوځي چارو په سمبالښت پیل وکړ. شاوخوا سیمې یې په خپل حکومت پورې وتړلې. د ټولو میشتو قومونو او قبیلو د ملي یووالي لپاره یې نه ستړې کیدونکې هلې ځلې وکړې. د میرویس نیکه ستره ځانگړتیا دا وه چې هغه د خپل ژوند تر پایه هیڅکله ځان د پاچا یا امیر په توگه نه ښود او نه یې درباري تشریفات خوښول، بلکې د یو ملي مشر په توگه یې له هر چا سره غوره سلوك کاوه. هر چا خپل عرض او فریاد له ستونزو پرته تر هغه رسولی شو. له همدې امله یې د افغان ولس په زړه کې ژور ځای نیولی او له ډېره درنښته او گرانښته خپل دغه نومیالی مشر د ((نیکه)) په درانه لقب لمانځي.

میرویس نیکه د یو ملي مشر په توگه افغان ولس ته له او و - اتو کالو نه هیریدونکي خدمت او ویاړلو کارنامو څخه وروسته په ۱۱۲۷ هـ . ق . (۱۷۱۸م.) کال کې وفات او د کندهار د نوي ښار لویدیځ ته د ((کوکران)) په کلي کې خاورو ته سپارل شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د متن لنډيز:

میرویس نیکه یو ملي مشر و. له کوچنیوالي په زیرکتیا او پوهې مشهور و. هغه مهال پښتانه له یو شمېر ملي ستونزو سره مخامخ وو. له یوې خوا قومي مشران په خپلو کې مخالف وو او له بلې خوا په کندهار کې د شاه حسین صفوي د حکومت حاکم، گرگین له خلکو سره ناوړه چال چلند کاوه. هغوی به یې په یو او بل نامه ځورول. یو شمېر قومي مشران یې بندیان کړي وو. لنډه دا چې وضعه ډېره کړکېچنه وه. په دې وخت کې پښتنو میرویس نیکه ته مخ واړاوه. دغه نومیالي مېړه هم ملي خدمت له خپل شخصي خدمت څخه غوره وباله. ملا یې وتړله، د ډېرو ستونزو له گاللو وروسته یې د ولس په مرسته دښمنان مات کړل او د ملي افغاني حکومت بنسټ یې کېښود. افغانانو د یوې ملي جرگې له لارې میرویس نیکه د هغه د غوره خدمتونو د سرته رسولو له کبله د ملي مشر په توگه وټاکه.

فعالیتونه

۱ـ په متن کې ورته او متضادې کلمې ولټوئ.

۲ـ د لاندې نو و کلمو معنا د کتاب په پای کې پیدا او په جملو کې یې وکاروئ:
واکمن، ترجیح، نومیالی، منلی، ویاړ، اټکل، یرغلگر، پاڅون، پېر.

۳ـ د جرگې په اړه خبرې وکړئ.

۴ـ زده کوونکي دې په دوو ډلو وویشل شي. هره ډله دې د میرویس نیکه د ژوند په اړه خبرې اترې وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵_ زده کوونکي دې د پورته متن په لومړي پراګراف کې (ی ګانې) ولټوي او ودې وايي چې کوم ډول (ی ګانې) دي.

۶_ زده کوونکي دې ووايي چې له يوه هېواد څخه د پرديو د شړلو لار د ولس په څه شي کې نغښتې ده؟

۷_ زده کوونکي دې يوه ملي جرګه تمثيل کړي. هغوی دې موضوع پخپله يا د ښوونکي په مرسته وټاکي او د بېلا بېلو مشرانو د خبرو اترو له لارې دې د حل يوه لاره راوباسي.

۸_ زده کوونکي دې يو يو د ملي مشر ځانګړتياوې بيان کړي.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د تر لاسه شوو معلوماتو په رڼا کې د ميرويس نيکه په اړه په خپلو کتابچو کې يو څو کرښې وليکي.

د ميرويس نيکه وينا:

((عقل او حکمت يوازې په ناز او نعمت کې نه دی او نه يوازې د نعمت د خاوندانو په دماغو کې ځای لري. زموږ په غرو کې هم عاقلان او حکيمان شته.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

زده کوونکي دې لاندې شعر ولولي او خوند دې ترې واخلي:

ورځ

له جهانه تیاره ورړم رڼا راوړمه
د غفلت له خوبه خلک پاڅومه
هنګامه د ژوندون ګرمه کړم عالم کې
حرکت او کار ته هر څوک رابلمه
شوق د کار هومره په زړونو کې پیدا کړم
چې غرمو کې په دهقان یوې کومه
څوک په غرونو خېژوم په سختو لارو
په چا باندې درانه پیټې بارومه
ټول عالم کړم سرګردان او ناقراره
خو د زجر سره اجر ورکومه
محرک زه د انسان د ارادو یم
دا ویده عالم له خوبه ویښومه
که ژوندون فعالیت او حرکت وي
په جهان کې زه دغه اثر لرمه
وخت د سعې او عمل د کار او زیار یم
چې وز ګارمې نیوی نه شي هغه ښکاریم

ګل پاچا الفت

کلمه، نوم او ډولونه يې



■ کلمه څه ته وايي او له جملې سره څه توپير لري؟

هغه لفظ چې د يوې معنا د افادې لپاره له خولې راوځي، کلمه نوميږي.

هغه کلمې چې کلام جوړوي، د کلام توکي نوميږي او د کلمې ډولونه هم ورته وايي. جمله لږ تر لږه له دوو کلمو څخه، چې معنا څرګنده کړي، جوړيږي. په پښتو کې د کلمې ډولونه يا د کلام توکي له نوم، ضمير، صفت، فعل، قيدونو او اداتو يا تورو څخه عبارت دي.

■ نومونو په ژبه کې کومې اسانتياوې رامنځته کړې دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوم:

دا سړی خورا نیك خویه دی.

احمد زما پوروړی دی.

زرغونه ښه ښایست لري.

ایمل ستا پخوانی ملګری دی.

دا تیږه ډېره درنه ده.

په پورته جملو کې هغو کلمو ته پام وکړئ چې کرښه ورلاندې کښل شوې ده.

نوم هغه کلمه ده چې پرته د زماني له ښوولو یو څوك، یو څیز او یا یو شی ونوموي، لکه په پورته کلمو کې سړی، احمد، زرغونه، ښایست، ایمل او تیږه.

نوم د معنا او مفهوم له مخې پنځه ډولونه لري، لکه: خاص نوم، عام نوم، ذات نوم، معنا نوم، جنس نوم، جمع نوم.

پوښتنه

۱_ خاص نوم:

په لاندې جملو کې نومونو ته پام وکړئ او وګورئ چې څه راز شیان نوموي:

احمد شاه بابا د معاصر افغانستان بنسټ اېښودونکی دی.

ننګرهار د ګلو هار دی.

ملالۍ د میوند د جګړې اتله پښتنه وه.

هند ډېر لرغونی تاریخ لري.

ایران زموږ ګاونډی هېواد دی.

په پورته جملو کې احمدشاه بابا، افغانستان، ننګرهار، ملالۍ، میوند، هند او ایران

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې نومونه دي چې د اورېدو پر مهال يې فکر هماغه لوري ته ځي او سمدلاسه هماغه خلك، ښارونه او يا هېوادونه درپه زړه کېږي.

په دې توګه خاص نوم (ځانګړی نوم) هغه نوم دی چې يو ځانګړی شخص، څيز يا ځای ونوموي.

پوښتنه

۲_ عام نوم:

لاندې جملې ولولئ او نومونو ته پکې پام وکړئ.

دا يو تکړه هلك دی.

هېواد پر هر چا ګران دی.

سږکال د وچکالۍ له امله کابو ټول څاروي مړه شول.

دا ښځه او سړی څوك پېژني؟

په پورتنيو جملو کې هلك، هېواد، څاروي، ښځه او سړی داسې نومونه دي چې په يو ځانګړي شخص يا څيز باندې دلالت نه کوي او د اړوند جنس ټول غړي څرګندوي. دغو نومونو ته عام نوم ويل کېږي.

عام نوم داسې يو شی يا څيز نوموي چې ځانګړی يا خاص نه وي، لکه په پورته جملو کې درکړل شوې بېلګې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه

۳_ ذات نوم:

دا جملې ولولئ او هغو کلمو ته پام وکړئ چې کرښه ورلاندې کښل شوې ده:

ډېره درنه ده، که مالوچ؟

د ښا اوبه ډېرې يخې وي.

دومره لوړ غړ! ستونی به دې وشکېږي.

پورته جملې وګورئ او هغو کلمو ته ځير شئ چې کرښې ورلاندې ايستل شوي دي.

ذات نوم يو حس کېدونکی شی راښيي. يا په بله وينا داسې يو نوم نوموي چې زموږ په حواسو حس کېدای شي او بهرنی وجود ولري، لکه : ډبره، مالوچ، لرګی، ښا، اوبه، ستونی.

پوښتنه

۴_ معنا نوم:

لاندې جملې ولولئ:

دا خپل ښايست راپورې اور شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

روغتيا د نېکمرغه ژوند ضامنه ده.

داسې هيله مې درڅخه نه کېږه.

ننګ، پت او مېړانه پښتنې دودونه دي.

رخه د خوښۍ مخه نيسي.

خدایﷻ دې له درد، غم او اندېښنې څخه لېرې لره.

د معنا نوم په يو غير محسوس څېز يا په يوې پديدې پورې اړه لري او هغه نوموي، يعنې هغه څيز نوموي چې بهرنۍ وجود نه لري، لکه په پورته جملو کې ښايست، روغتيا، هيله، ننګ، پت، مېړانه، رخه، خوښي، درد، غم، اندېښنه.

پوښتنه

۵_ جنس نوم:

وخت لکه سره زر دی.

که اوبه نه وي، ژوند به نه وي.

جوار او غنم د افغانستان کرنيز محصولات دي.

بې تېلو څراغ نه بلېږي.

په پورته جملوکې د کرښې له پاسه کلمو ته ځير شئ او وګورئ چې څه راز نومونه دي؟

هغه نوم چې نه شمېرل کېږي مفرد او جمع يې يو ډول وي، د جنس نوم ورته وايي، لکه په پورته جملو کې سره زر، اوبه، غنم، جوار او تېل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه

۱_ جمع نوم:

د سرې مياشتې ملي ټولنه له بېوزلو کورنيو سره مرسته کوي.

دا رمه د باتور کاکا ده.

افغان ولس له برمه ډکه مخينه لري.

دا نوم په څرګنده د لفظ له مخې يو مفرد نوم دی، خو په معناکې يوه ډله يا ټولی نوموي او جمع نوم ورته وايي، لکه: ټولنه، ولس، رمه او نور. په پښتو کې جمع نوم د ډېرو ډلو په لحاظ بيا هم جمع کېږي، لکه: ټولنې، ولسونه، رمې.

پوښتنه

نوم د شمېر له مخې په دوه ډوله دی، مفرد او جمع.

۱_ مفرد نوم:

په لاندې جملو کې هغو نومونو ته پام وکړئ چې کرښه ترې لاندې ايستل شوې ده:

دا <u>هلک</u> ولې ځانته راغی، هغه نور څه شول؟

ددې <u>باغ</u> دا يوه <u>ونه</u> خرابه ده، هغه نورې ښې دي.

د توري او قلم خاوند، خوشحال ختك د پښتو وتلی شاعر او اديب و.

مفرد نوم هغه نوم دی چې د يوې ډلې په يو شخص يا يو څيز دلالت وكړي، لكه په پورته جملو كې هلك، باغ، ونه، قلم، خاوند، شاعر.

۲ـ جمع نوم:

لاندې جملې ولولئ او هغو كلمو ته پام وكړئ چې كرښه ترې لاندې ايستل شوې ده:

دا هلكان ځوك دي؟

زموږ د كلي باغونه خراب او ونې يې ټولې وچې شوي دي.

د مال او دولت خاوندان تل له بېوزلو سره مرسته كوي.

په پورته جملو كې هلك په هلكانو، باغ په باغونو، ونه په ونې، خاوند په خاوندان اوښتي او د جمع حالت يې نيولی دی.

په دې توګه ويلی شو، جمع نوم هغه نوم دی چې د يوې ډلې له يو څخه زيات اشخاص يا شيان ونومويي، لكه: هلكان، نجونې، ونې، قلمونه او نور.

په پښتو كې د مفرد نوم جمع كول ځانته قاعدې لري. نارينه نوم ځانته او ښځينه نوم ځانته د خپلو قاعدو له مخې جمع كېږي.

پوښتنه

فعاليتونه

۱ـ

◆ زده كوونكي دې و وايي چې كلمه له جملې سره څه توپير لري؟ څو مثالونه دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړاندې کړي.

- نوم څه راز کلمه ده؟ څو مثالونه يې په ټولګي کې وواياست.
- د نوم ډولونه کوم دي؟ يوازې نومونه يې واخلئ.

۲ _

- په متن کې دا راغلي کلمې : افاده، سرېتوب، وچکالي، توکی، پوروړی، پت، توپير، چابك، مېړانه معنا او په مناسبو جملو کې يې وکاروئ.
- وګورئ، په متن کې د کلمو په پای کې د (ی ګانو) کومې بڼې راغلي، ويې ليکئ.

۳ _

- ددې لاندې مفردو نومونو جمع حالت وليکئ: کتاب، هلك، باغ، قلم، نوم، کلمه.
- د خاصو نومونو يو څو بېلګې وواييئ.
- جنس نوم څه ته وايي؟ بېلګې يې وليکئ.

۴ _

- د زده کوونکو يوه ډله دې مفرد نومونه وايي او بله ډله دې د هغه نومونو د جمع حالت ووايي.
- زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي، يوه ډله دې له بلې څخه د عام نوم او د جنس نوم پوښتنې وکړي او هغه بله ډله دې هغه نومونه ووايي.
- لاندې څو نومونه درکړل شوي، تاسو وواياست چې هغه کوم ډول نومونه دي: جلال اباد، زرمينه، مالوچ، ښايست، ټولنه، هلکان، پسرلی، واوره، غنم.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په کور کې يو متن وليکي او د پورته يادو شوو نومونو ټول ډولونه دې په کې وکاروي او په نښه دې کړي. سبا دې هغه په ټولګي کې ووايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

اووم لوست

بلخ، د مدنيت زانګو

■ بلخ ته ولې د مدنيت زانګو وايي؟

بلخ يا بخدي زموږ د هېواد يو لرغونی ښار دی. بلخ د هېواد په شمال کې د امو د سيند تر څنګ پروت دی، له ډېرو سمسورو او حاصل خېزو ولايتونو څخه ګڼل کيږي. بلخ په تاريخونو کې په ډېر وياړ او ښه نوم ياد شوی، له دې امله ورته ام البلاد (د ښارونو مور) ويل شوی دی. بلخ د مېړنيو خاوره وه. رستم له همدې ځايه پورته شوی دی چې د فردوسي په شهنامه کې ددې سيمو اتل و. اريايان د خپل مدنيت په لومړي پړاو کې دې ځای ته رارسيدلي او دلته ميشت شوي دي (۲۸۰۰ ق. م.). د بلخ تاريخي ښار د هېواد تېر وياړ را په زړه کوي.

■ ستاسو په اند به بلخ څومره تاريخي مخينه ولري؟

بلخ په ځينو ليکنو کې په (باختريش) يادشوی دی. د تاريخ په ډېرو پاڼو کې بلخ د ام البلاد، يعنې د اريانا او افغانستان لومړنی ټاټوبی او د ښکلو او لوړو بيرغونو د ښار په نوم ياد شوی دی. د بلخ تاريخي مخينه له ميلاد څخه دمخه څه ناڅه دوه زره اته سوه کالو ته رسيږي.

د بلخ يا بخدي کلا د وارا (ارګ) په نامه هم ياده شوې ده. دا ځای د اريانا لومړنی استوګنځی او پلازمېنه وه. دا پلازمېنه لومړنی ټاټوبی و چې اربايي پاچا، يما د هغې بنسټ ايښی و. وارا د خوندي اوسېدو ځای (پناګاه) معنا لري چې بيا وروسته د کور، ماڼۍ او معبد په نومونو هم کارول شوې ده.

د اريانا دايرة المعارف د ليکنې له مخې هغه خرابې چې د بلخ د شاوخوا په شو کيلومترۍ کې ليدل کيږي، ددغه ځای دبدبه او تاريخي عظمت په سترګو کې مجسموي. د هغې له پاته شونو او اثارو څخه د بلخ بالاحصار، د بالاحصار د مدخل برج عياران، يو پنډ او لوی ديوال، لوی منارونه او د خاورو يوه غټه غونډۍ د يادونې وړ دي. د بلخ نهه ګونبدي جومات په بلخ کې پروت دی او د ځينو څېړونکو په وينا د افغانستان اسلامي ابداتو ډېره پخوانۍ ابده ګڼل کيږي او په اتمې پېړۍ پورې يې تړي.

اوسنی بلخ چې مزار شريف يې ولايتي مرکز دی، پخواني بلخ ته نژدې ودان شوی دی. د بلخ پخواني يادګارونه زياتره د بلخ په ولسوالۍ کې تر سترګو کېږي. خلك يې له علم او پوهې سره مينه لري. زياتره پخواني پوهان، عارفان او شاعران په دې لرغوني ولايت کې تېر شوي دي.

د حضرت علي کرم الله وجهه مبارکه روضه هم د مزار شريف په ښار کې موجوده ده. دا ښکلې او له شان او شوکته ډکه مقبره د هرات د تيموريانو د وخت له شاهکارونو څخه شمېرل کيږي. دا مبارکه روضه د مزار شريف د ښار د پرمختيا لامل شوه، خو د ام البلاد بلخ له ښار څخه اوس له ځينو کنډوالو او د کلا له خرابيو پرته نور څه نه دي پاتې.

د مولانا جلال الدين محمد بلخي، ناصر خسرو بلخي، رابعه بلخي، ابن سينا بلخي او نورو د زيږېدو ټاټوبی د بلخ لرغونی ولايت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بلخ په ولایت کې معارف پر مختللی دی. په هرې ولسوالۍ کې د هلکانو او نجونو ښوونځي شته او زیات شمېر زده کوونکي ورته ځي. یو پوهنتون هم لري چې د بلخ پوهنتون په نامه یادیږي.

د متن لنډیز:

بلخ د افغانستان لرغونی ښار دی. ډېر بډای مدنیت یې درلود. تاریخي مخینه یې له میلاد څخه دمخه تر ۲۸۰۰ کلونو پورې رسیږي. بلخ هغومره ښایسته ښار و چې د ښارونو د مور یا ام البلاد په نامه یې شهرت درلود. د بلخ پخوانی ښار په ځینو لیکنو کې د (باختریش) په نامه یاد شوی دی. د تاریخ په ډېرو پاڼو کې بلخ د ام البلاد، یعنې د اریانا او افغانستان لومړنی ټاټوبی او د ښکلو او لوړو بیرغونو د ښار په نوم یاد شوی دی. هغه خرابې چې د بلخ د شاوخوا په څو کیلومترۍ کې لیدل کیږي، ددغه ځای دبدبه او تاریخي عظمت په سترګو کې مجسموي. د بلخ نهه ګونبدی جومات په بلخ کې پروت دی او د ځینو څېړونکو په وینا د افغانستان اسلامي ابداتو ډېره پخوانۍ ابده ګڼل کیږي او له اتمې پېړۍ سره تړاو لري.

فعالیتونه

۱ - زده کوونکي دې په پورته لوست کې:

- خاص نومونه پیدا کړي.
- مترادفې کلمې ولټوي.
- د (ی ګانو) مختلف ډولونه په نښه کړي.
- د بلخ د نومیالیو پوهانو، لیکوالو او شاعرانو نومونه واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- زده کوونکي دې لاندې پوښتنو ته ځوابونه ووايي:

- د بلخ يا بخدي کلا په کوم نوم ياده شوې ده؟
- بلخ ته ولې د ښارونو مور يا ام البلاد ويل کېده؟
- د اريانا لومړنی پاتوبی کوم ځای دی؟
- د لرغوني بلخ بېلابېل نومونه کوم دي؟
- ستاسو په اند به بلخ څومره تاريخي مخينه ولري؟
- د حضرت علي کرم الله وجهه روضه چېرته واقع ده؟

۳- زده کوونکي دې د لاندې جملو خالي ځايونه په پنسل ډک کړي:

- د بلخ نهه گونبدي جومات .... پروت دی.
- د افغانستان د اسلامي ابداتو ډېره پخوانی ابده د .... ياديږي.
- د بلخ نهه گونبدي جومات په .... پېړۍ پورې اړه لري.
- اوسنی بلخ د هېواد په ....کې د .... پروت دی.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د بلخ د لرغونتيا او د افغانستان په تاريخ کې د هغه د ارزښت او اهميت په هکله څو لنډې جملې وليکي او بيا دې په دې ليکنه کې نومونه او د (ی گانو) بېلا بېل ډولونه وښيي.

نېکه خبره وکړه چې په هغې باندې وپېژندل شې او نيک کار وکړه چې د نېکانو په ډله کې وشمېرل شې.

حضرت علي کرم الله وجهه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتم لوست

لنډۍ، ولسي ادبيات

- ولسي ادبيات يا شفاهي ادبيات څه ته وايي؟

ولسي ادبيات د ولسي پوهې او يا ولسي زده کړې برخه ده. د ولسي پوهې لمن خورا پراخه ده او د يو ولس دودونه، عادتونه، کرنه، پوښاک، خصوصيات، کيسې، سندرې او داسې نور شيان پکې شامل دي. ولسي ادب د ټولنې د ادب هغه برخه ده، چې د خلکو په ژبه جاري وي، له يوې خولې نه بلې ته ليږدول شوي او لومړی جوړوونکی يې معلوم نه وي.

- تاسو تر اوسه د ادم خان او درخانۍ يا د موسیٰ خان او ګل مکۍ په څېر کومه کيسه اورېدلې ده؟
- وايي چې ولسي ادبيات د يو ولس د ژوند هينداره ده، څنګه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

لنډۍ د ولسي ادب یوه برخه ده. جوړوونکي یې معلوم نه وي او د ټول ولس مال ګڼل کېږي. په دې ترتیب که لنډۍ واورو، نو باید د جوړوونکي د نوم فکر یې راسره پیدا نه شي، خو دومره پوهېدای شو چې دا لنډۍ د یو نارینه د زړه اواز دی، که د یوې ښځې.

لنډۍ او متلونه د ټولنې ګډ مال دی او شعر او شاعري د یو شاعرخپل مال.

د ولسي ادب په څنګ کې لیکلی ادب پروت دی. لیکلی ادب په یو ځانګړي شاعر یا لیکوال پورې اړه لري. مؤلف یې معلوم، نوم یې خوندي او حق یې ساتلی او محفوظ دی. د ولسي اثر لیکوال که څه هم لومړی یوشخص وي، خو وروسته د هغه نوم هېرېږي او اثر یې د ټول ولس د ژبې مال ګرځي.

د ولسي ادب او لیکلي ادب تر منځ یو بل مهم توپیر دادی چې په لیکلي ادب کې یو لیکوال کوښښ کوي په معیاري او نسبتاً منل شوې املاء او انشاء یو شی ولیکي، خو ولسي ادب له دغه قید او شرط څخه وتلی دی او خپله لهجوي ځانګړتیا ساتي. په بل عبارت د ولسي ادب ژبه د لیکلي ادب لپاره د خامو موادو حیثیت لري. یو لیکوال له ولسي ژبې او ادب څخه هم خام مواد اخلي او هغه په لیکلي ادب کې پخوي.

پښتو ولسي ادب د څرنګوالي او ډول له مخې زښت ډېر ډولونه لري. په هره سیمه او هر خېل کې تقریباً خاص ډول سندرې پیداکېدای شي. موږ دلته د هغوی له ډلې څخه یوازې په لنډیو خبرې کوو.

لنډۍ

لنډۍ د پښتو د ولسي ادب یوه بیساري بدایه پانګه ده. زموږ د ټولنې د ژوند او فکر داسې خوا نشته چې په لنډیو کې غبرګه شوې نه وي. مینه، ښکلا، وصال، بېلتون، خوښي، خواشیني، تېرى، عدالت، سربښندنه، هېوادپالنه او داسې نور په لنډیو کې ځای شوي دي. لنډۍ چې د ټپې، مسرۍ او ټیکی په نومونو هم یادېږي، د پښتنو په هره سیمه، هر کلي او کور کې د ولسي ادب یوه مهمه برخه ده. په هره سیمه کې په خاصو غړونو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټاکلي ډول ویل کیږي.

پښتو لنډۍ دومره ستره ژړمه لري چې د نړۍ په بله ژبه کې به ساری ونه لري. که څه هم تر اوسه په زرګونو لنډۍ راټولې شوي دي، خو بشپړ باور دی چې په ولس کې د هغو شمېر په سلګونو زره دی.

لنډۍ د جوړښت له مخې دوه مسرۍ لري. لومړۍ مسرۍ یې نهه او دویمه یې دیارلس سېلابه وي.

د پښتو په ولسي ادب، په تېره بیا په لنډیو کې د ښځو ونډه ډېره زیاته ده. همدغه لنډۍ دي چې د ویرونو، ودونو او د غم او خوښیو په وختونوکې یې وایي. د لنډیو جوړوونکي هم زیاتره ښځې دي. زیات شمېر لنډۍ د هغوی د زړونو د ژورو تاثراتو، خواشینیو او خپګانونو انعکاس کوي. دا لنډۍ د هغوی د زړونو اواز دی، د هغوی د دردمند زړه څګېروی دی او د هغوی د غمځپلې سینې اه دی.

دلته د لنډیو یو څو بېلګې وګورئ:

د نتکۍ لال به پرې خیرات کړم
که مې اشنا په دښمن مات کړل سنګرونه

***

زما د زړه صدف دې مات کړ
څکه تر سترګو مرغلرې تویومه

***

له مانه ولې مرور یې
کم عقله یاره په پردي اختیار کې یمه

***

ګریوان مې ټول په اوښکو لوند دی
ما د جانان له غمه ډېر ژړلي دینه

(c) ketabton.com: The Digital Library

سترګي به ولي اوښکي نه کړي
چې په موسم د خوشحالۍ راغلل غمونه
***
تر توريالي مين به جار شم
چې د غليم په وينو سره کاندي لاسونه
***
په ناموس ننګ په وطن جنګ دی
د وطن جنګ ته په غورځنګ ورځه مينه

څپه

پورته مو د لنډۍ په جوړښت کې څپې یا هجا او سیلاب یادکړل، دلته یې په لنډه توګه درپېژنو.

څپه، هغه ژبنی واحد دی چې یا یو خپلواك (vowel) وي او یا له یو خپلواك او یو یاڅو بېواکو (consonant) څخه جوړه او په یوځايي ډول له خولې راوځي، لکه ابا، چې دوه څپې لري. لومړۍ یې یوه څپه او یو خپلواك دی او دويمه څپه يې (با) ده، چې له یو بیواك او یو خپلواك څخه جوړه شوې ده او په ګډه دواړه یوه کلمه جوړوي.

څپه	۱	۲	۳	۴	۵	۶	۷	۸	۹	۱۰	۱۱	۱۲	۱۳
لومړۍ مسره	که	په	مې	وند	کې	ش	هيد	نه	شوې				
دويمه مسره	خدای	ږو	لا	له	يه	بې	نن	ګی	ته	دې	سا	تې	نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د متن لنډيز:

پښتو ډېر پراخ ولسي ادبيات لري. دغه ولسي ادب چې له ليکني يا تحريري ادب سره توپير لري، د ولسونو او پرګنو د ربښتينو هيلو څرګندوی دی. لنډۍ زموږ د ولسي ادب يوه ډېره په زړه پورې برخه ده. د لنډيو ځانګړی شاعر يا وينا وال نه دی څرګند او د ټول ولس شريکه پانګه ګڼل کيږي. د منځپانګې له پلوه لنډۍ بيلابېلې موضوعګانې په خپله غولۍ کې رانغاړي.

فعاليتونه

١ـ زده کوونکي دې د لاندې پوښتنو ځوابونه ووايي:

- ولسي ادبيات د څه شي برخه ده؟
- په ولسي پوهه کې کوم شيان شامل دي؟
- ولسي ادب يا شفاهي ادب څنګه له يوه نسل څخه بل نسل ته لېږدول کيږي؟
- ايا د ولسي ادب جوړوونکي يا ويونکي څرګند دي؟
- د ولسي او ليکلي ادب تر منځ مهم توپير څه دی؟
- د ملالۍ لنډۍ ټول په يادو ياده کړئ او ووايئ چې دغه لنډۍ زموږ په تاريخ کې څه مقام لري.

٢- زده کوونکي دې دا لاندې جملې په پنسل بشپړې کړي:

- لنډۍ، چاربيتې د .... مال او غزل او شعر د ... مال دی.
- د ولسي ادب په څنګ کې .... ادب پروت دی.
- ليکوال خپل خام مواد له .... اخلي.
- څېړه په .... ډوله ده، يوه .... او بله ....

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- زده کوونکي دې په څلورو ډلو ووېشل شي:

لومړۍ ډله دې د لنډۍ جوړښت ووايي او په خو بېلګو کې دې بيان کړي.

دويمه ډله دې د لنډۍ برخې بيان او په څو لنډيو کې دې وښيي.

درېيمه ډله دې دا لاندې لنډۍ هجا کړي:

د بنې غرږ راباندې وشو
لکه ډوډۍ په تناره کې وريته شومه

څلورمه ډله دې دا لاندې لنډۍ بشپړې کړي:

۱_ که په ميوند کې شهيد نه شوې
....

۲_ جانان مې سر په وطن کېښود
....

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د خپل کور له خلکو او ګاونډيانو څخه لږ ترلږه لس لنډۍ زده کړي، په کتابچه کې يې وليکي او سبا دې په ټولګي کې ووايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نهم لوست

زده کړه: د ژوند اړتیا

■ موږ ولې لیك او لوست زده کوو؟

لیك لوست د زده کړې په معنا دی. زده کړه سړي ته د یوې موضوع د لیکلو او لوستلو وړتیا ورکوي. هغسې چې د بدن د پیاوړتیا او ودې لپاره بدني روزنه (ورزش)، خواړه اهمیت او ارزښت لري، د ذهن او فکر د ودې او پیاوړتیا لپاره زده کړه ارزښت لري. د زده کړې له لارې سړی ځان او جهان پېژني، خپل خدای ﷻ پېژني، د خپل شاوخوا شیان پېژني، ښه له بدو او بد له ښو څخه بېلولای او د دوست او دښمن توپیر کولای شي. د خپل ځان، خپلې کورنۍ او خپلې ټولنې د سوکالۍ او هوساینې لپاره کار کولای شي، خپل وطن ودانولای شي او د خپلو خلکو او هېوادوالو لپاره د ښه خدمت جوګه کېدای شي.

■ زده کړه د انسان په ژوندکې څه ارزښت لري؟

■ لوستي او نالوستي خلك یو له بله څه توپیر لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ په هېواد کې د زده کړې بهیر په دودیز ډول له ډېر پخوا څخه پیل شوی او په بېلابېلو لارو یې وده او پراختیا موندلې ده. پخوا به هلکانو اونجونو په جوماتونو کې دیني زده کړې کولې. قرآن کریم به یې زده کولو، د هغه په معنا اوتفسیر به یې ځان پوهولو او نورې دیني اومذهبي پوهې به یې تر لاسه کولې، د وخت دودېزکتابونه به یې لوستل چې لیکل او لوستل زده کړي. دې زده کړو ته غیر رسمي زده کړې ویل کېدې.

د وخت په تېرېدو، ددې زده کړو ترڅنګ رسمي زده کړې پیل شوې. د زده کړې منظمې دورې رامنځته شوې. لکه لومړني ښوونځي، منځني ښوونځي او نور. په دې ښوونځیو کې د ټولنې د اړتیاو و له مخې د ټاکلو هدفونو او موخو د تر لاسه کولو لپاره ټاکلي درسي کتابونه لوستل کېدل. کله چې به له دې ښوونځیو څخه ځوك فارغ شو، نو په ښه ډول به په لیك او لوست پوهیدل او خپلې اړتیاوې به یې پوره کولې.

په هېواد کې عصري زده کړې د امیر شیر علي خان په وخت کې پیل او د امیر حبیب الله خان د پاچاهۍ پر مهال په ۱۲۸۲ هـ . ش . کال (۱۹۰۳ م.) په هېواد کې د حبیبیې د لېسې په جوړېدو د رسمي او اساسي زده کړو بنسټ کېښودل شو. اوس دا زده کړې ډېرې پراخې شوې. پر لومړنیو او منځنیو زده کړو سربېره ثانوي زده کړې، مسلکي زده کړې، د لوړو زده کړې او لوړې زده کړې شته. په ملیونونو هلکان او نجونې پکې لوست لولي او د هېواد لپاره دیني عالمان، قاضیان، ښوونکي، طبیبان (ډاکټران)، انجینران، اقتصاد پوهان او نور روزي.

همدا زده کړې د هېواد د ودانۍ، پرمختګ او د هغې د اوسیدونکو د هوسا او سوکاله ژوند بنسټ او تهداب جوړوي.

د متن لنډیز:

زده کړه د انساني ژوند د نېکمرغۍ کونجي ده. هغسې چې ورزش د بدن د ودې لپاره ارزښت لري، همداشان زده کړه د انسان د فکر او ذهن له ودې او پراختیا سره مرسته کوي. زده کړه له انسان سره مرسته کوي چې ښه له بدو څخه توپیر کړي. زده کړه انسان لوړو پوړیو (مدارجو) ته رسوي. زده کړه د ژوند یوه ډېره مهمه اړتیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده. بې زده کړې ژوند په تورتم کې اوسېدو ته پاتې کېږي. په تورتم کې سړی خپله شاوخوا نه شي لیدلای. د شیانو د لیدلو لپاره رڼا ته اړتیا ده. ژوند لکه تیاره ډګر او زده کړه لکه ډیوه ده، چې په برکت یې سړی هرڅه لیدلای شي. زموږ په هېواد کې د زده کړې بهیر په دوديز ډول له ډېر پخوا څخه پیل شوی او په بېلا بېلو لارو یې وده او پراختیا موندلې او تر اوسنی کچې رارسېدلی دی. لنډه داچې د ژوند تولې نېکمرغی او خوشحالی په زده کړې کې نغښتې دي. موږ ټول باید هم پخپله او هم د کور او ګاوند نجوني او هلکان زده کړې ته وهڅوو او د هغې په ګټو يې وپوهوو. پرې نه ږدو چې یو هلك او نجلی هم له زده کړو بې برخې پاتې شي.

فعالیتونه

۱- زده کوونکي دې لاندې پوښتنو ته ځوابونه ووايي:

- که د بدن ودې ته ورزش ارزښت لري، د ذهن ودې ته څه شی ارزښت لري؟
- د انساني ژوند د نېکمرغۍ کونجي څه شی ده؟
- دوديزې زده کړې څه ته وايي؟
- موږ ولې زده کړه کوو؟

۲- زده کوونکي دې په څلورو ډلو ووېشل شي او هره ډله دې د لاندې پوښتنو يوې ته تشريحي ځواب ووايي:

لومړۍ ډله: د پوهو او ناپوهو خلکو توپير په څه کې دی؟ ایا هغوی یو تر بله برابر دي؟ بیان یې کړئ.

دويمه ډله: زموږ په هېواد کې د زده کړې بهير څنګه وده موندلې ده؟ په خپله ژبه یې بیان کړئ.

درېمه ډله: د اوسنيو زده کړو بهير او د هغې له لارې د ټولنې د اړتياوو د پوره کولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اړه خبرې وکړئ.

څلورمه ډله: ستاسو په اند يو انسان ولې بايد تل د زده کړې لورته هڅه وکړي، څه گټه لري؟ په تفصيل پرې خبرې وکړئ.

۳- هر زده کوونکی دې په پورته لوست کې د معنا نومونه ولټوي او ودې يې ليکي.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په خپلو کورونو کې د زده کړې د ارزښت په هکله پنځه کرښې مقاله وليکي او بله ورځ دې د ټولگيوالو په وړاندې ولولي.

زده کړه له کوره تر گوره

وايي: يو دوست د يوعالم د ناروغۍ پر مهال د پوښتنې لپاره د هغه کور ته ورغی. عالم چې د ځنکدن په حالت کې و، له خپل دوست څخه يې د يوې مسئلې پوښتنه وکړه. دوست يې ورته وويل، ته د ځنکدن په حالت کې يې، په مسئله څه کوې؟ عالم ورته وويل: ((دا به ښه وي، چې پر دې مسئلې باندې پوه شم او بيا مړ شم.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

لسم لوست

لیکدود او اړتیا یې



په تېرو ټولګیو کې مو یو شمېر کلمې او د هغو د کره لیکلو بنې ولیدې. دا هم درته څرګنده شوه چې د زده کړې لپاره باید په سم او کره لیکلو او لوستلو وپوهېږئ. په هره ژبه کې د وینا او لیک تر منځ توپیر شته. هغسې چې خلک خبرې کوي، په لیک کې نه لیکل کېږي. سم لیکل ځانته یو معیار لري او دا معیار د ژبې د قاعدو له مخې رامنځته کېږي. ددې لپاره چې په لیک او لوست کې له ګډوډۍ سره مخامخ نشو، نو لا زمه ده چې دغه معیارونه زده او په لیک لوست کې یې په پام کې ونیسو.

- که مو د کلموسم لیکل زده نه وي، ایا سمه لیکنه کولای شو؟
- څنګه کولای شو چې د سم لیکلو او سم لوستلو ژبنۍ وړتیا ولرو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تورو، کلمو، اشارو او ليك نښنو د ليکلو طريقې ته املاء وايي چې په پښتو کې يې ليکدود بولي. په بله معنا په سمه بڼه د خپلو خبرو يا د بل د خبرو ليکلو ته املاء وايي.

سم ليکل د سم تلفظ له مخې کيږي. ناسم تلفظ ناسم ليکل رامنځته کوي. په هره ټولنه کې د خلکو وينا او ليکنې تلفظ يو څه توپير لري.

څرنگه چې ليکلې ژبه د ليکلو د طرز او د هغو د نښنو له پېژندنې پرته منځ ته نشي راتلای، له دې امله بايد د هغې لارې چارې زده کړو.

کلمې چې د انسان له خولې راوځي، که د تورو په بڼه وليکل شي، ليکنه بلل کېږي.

خروشتي او يوناني ليك چې تر اسلام دمخه په افغانستان کې دود و، د اسلام د سپېڅلي دين په راتگ سره له منځه لاړ او خپل ځای يې عربي ليکدود ته پرېښود.

د عربي ليکونو له ډلې څخه دوه ډوله ليك، يعنې نسخ او نستعليق د پښتو غږونو لپاره ومنل شو او د سلطان محمود غزنوي په وخت کې د هغه د وزير حسن ميمندي په لارښوونه د قاضي سيف الله په وسيله د پښتو د ځانگړو تورو لپاره مخصوصې نښې تنظيم شوې . د پښتو د غږونو د ښو په ليکلو کې وخت په وخت بدلونونه راغلي دي. کله کله په دې برخه کې ځينې اختلافات هم رامنځته شوي، خو د پښتو ژبپوهانو او عالمانو د هڅو او پاملرنو له امله دغه اختلافات ډېر ژر له منځه تللي او د پښتو د غږونو او کلمو د ليکنې لپاره يوه کره او واحده بڼه رامنځته شوې ده.

پښتو الفبې دا لاندې دېرش توري لري:

ا، ب، پ، ت، ټ، ج، ځ، څ، خ، د، ډ، ر، ړ، ز، ژ، ږ، س، ش، ښ، غ، ك، گ، ل، م، ن، ڼ، و، هـ، ی، ي، ې، ۍ، ئ.

د عربي ژبې دا لاندې لس توري هم په پښتوکې په دخيلو کلمو کې کاريږي:

ث، ح، ذ، ص، ض، ط، ظ، ع، ف، ق

پښتو داسې اته توري لري، چې هغه په دري او عربي ژبو کې نشته او هغه دا دي:

ټ، څ، ځ، ړ، ږ، ډ، ښ، ڼ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د متن لنډيز:

املا او ليك د يوې ژبې د سمې ليکنې لارې ته وايي. هره ژبه ځانته ليكدود لري. دا ليكدود د هغې ژبې په ټولو ليكنو كې كارول كيږي. موږ په خپل ګړ دود او لهجه كې يو راز خبرې كوو، خو په ليكنو كې بيا هغه ډول نه ليكو، لكه: ((څه كې؟)) سمه او ليكنۍ بڼه يې (څه كوې؟) ده. ((الكه الته ورشه)) سمه او ليكنۍ بڼه يې ((هلكه هلته ورشه.)) دې ته ليكنۍ بڼه وايي. په واحد ليكدود كې د ژبې له لهجو او ځانګو څخه هغه بڼه را اخلي چې ليكل يې اسانه وي او له بلې كلمې سره يې معنا ګډه نشي.

فعاليتونه

۱ـ زده كوونكي دې لاندې پوښتنو ته ځوابونه ووايي:

- املا څه ته وايي؟
- له اسلام دمخه په پښتونخوا كې كوم ليك مشهور و؟
- په افغانستان كې د اسلام تر راتګ وروسته كوم ليك دود شو؟
- ايا د ولس ژبې ته ليكنۍ ژبه ويلی شو؟
- ليكلې ژبه څه شي ته وايي؟

۲ـ زده كوونكي دې د لاندې جملو تش ځايونه په مناسو كلمو په پنسل ډك كړي:

- پښتو الفبې .... توري لري.
- د پښتو ژبې .... توري په درې كې نه كارول كيږي.
- د عربي ژبې .... توري په پښتو ليك كې كارول كيږي.
- ليك تر ژبې .... راپيدا شوی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳_ د زده‌کوونکو:

لومړۍ ډله دې په لوست کې بېلا بېلې (ی ګانې) په نښه کړي.

دويمه ډله دې په پورته لوست کې خاص نومونه په ګوته او د نورو ترمخه دې يې ووايي او درېمه ډله دې په پورته لوست کې پنځه عام نومونه په نښه او په ټولګي کې دې يې ولولي.

کورنۍ دنده

زده‌کوونکي دې هڅه وکړي، د کورنۍ د غړو په مرسته داسې کلمې پيدا کړي چې د تلفظ او ليکلو تر منځ يې توپير وي. دا کلمې دې يو په بل پسې وليکي او ټولګي ته دې يې راوړي.

له ګناهه تـل پرهېز کړه	له فساده ډېر ګـــريز کړه
ګناه مـه ګڼه حقـــيره	که کمکۍ وي که کبيره
استخفاف[1] د ګناه جانه	سرې باســي له ايمانه

ملا فيض محمد مرحوم (د موسهي اخوندزاده)

((فيض محمد اخونزاده د لوګر د موسهي او سيدونکی او د ديارلسمې هجري پېړۍ له نوميالیو ديني پوهانو، ملي غازيانو، ليکوالو او شاعرانو له ډلې څخه دی. د امير شير علي خان معاصر او د روضة المجاهدين په نوم خپل يو منظوم کتاب يې هغه ته ډالۍ کړی دی.))

۱ _ استخفاف: خفيفه او سپکه ګڼل

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو ولسم لوست

ورځپاڼه: د معلوماتو چینه

- د رسنیو په اړه څه معلومات لرئ؟
- ورځپاڼه څه ډول رسنۍ ده؟
- دکتاب، مجلې او ورځپاڼې توپیر څه دی؟

نن ورځ رسنۍ په ټوله نړۍ کې ډېر اهمیت او ارزښت لري. رسنۍ چې د ټولنیزو اړیکو د وسیلو په نوم هم یادېږي، د ورځپاڼې، جریدې، مجلې، راډیو، تلویزیون او د نورو په بڼه خپرونې کوي. اوس نړۍ له تخنیکي پلوه ډېره پرمختللې ده او د رسنیو نوې بڼه رامنځته شوې چې برېښنایي رسنۍ ورته وایي او د انټرنیټ، راډیو، تلویزیون په بڼه دي. ورځپاڼه د رسنیو په لړ کې خپل ځانګړی ځای لري. په دې لوست کې د ورځپاڼې په هکله له تاسو سره خبرې لرو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورځپاڼه هغه خپرونې ته وايي چې هره ورځ د سهار يا مازيگر يا په اوونۍ کې درې ځلې خپرېږي. ورځپاڼې بېلا بېل معلومات، ورځني او تازه خبرونه، نړيوالې سياسي، پوځي او اقتصادي موضوعګانې ، ورزشي لوبې اعلانونه او نور رنګارنګ معلومات خپروي. ورځپاڼه د سرمقالې لپاره ځانګړی ځای لري چې مسؤول چلوونکی پکې د روانو چارو په اړه د خپلې ادارې نظريات ښکاره کوي. په پرمختللو هېوادونو کې د يوې ورځپاڼې د مخونو شمېر کله کله ډېر زيات وي. د هرې موضوع لپاره بېلې بېلې پاڼې او يا ځانګړې ستونونه لري.

په افغانستان کې لومړۍ خپرونه د امير شېرعلي خان د واکمنۍ (۱۲۴۷ – ۱۲۵۸ هـ . ش.) په پېر کې رامنځته شوه. دا خپرونه شمس النهار نومېده چې کله په اوونۍ او کله هم په پنځلسو ورځو کې يو وار خپرېده. ددې خپرونې مسؤول مدير او مهتمم ميرزاعبدالعلي نوميد. دې خپرونې د بېلا بېلو موضوعګانو لپاره ځانګړې مخونه او خبريالان درلودل. بهرني خبرونه هم پکې خپرېدل.

له شمس النهار وروسته بيا ((سراج الاخبار افغانستان)) رامنځته شو. دا اخبار د هېواد د پياوړي ليکوال مولوي عبدالرؤف خاکي کندهاري په مديريت د اميرحبيب الله خان په واکمنۍ کې پيل شو، خو يوازې يوه ګڼه خپور شو. وروسته د ((سراج الاخبار افغانيه)) په نامه يوه مهمه جريده د نوميالي ژورناليست او ليکوال محمود طرزي له خوا د ۱۲۹۰ هـ .ش. کال د تلې په مياشت کې تاسيس شوه. لومړۍ په ډبرينه چاپخونه او وروسته په حروفي بڼه په دولسو اوڅوارلسو مخونو کې مصوره خپرېده.

په ۱۹۱۹م. کال کې له خپلواکۍ اخيستلو وروسته په هېواد کې خپرونې زياتې شوې. د هېواد پر پلازمېنې کابل سربېره د هېواد په نورو ولايتونو کې د خپرونو شمېر تر درويشتو پورې ورسېد.

په افغانستان کې له ۲۰۰۱م. کال راوروسته د نوې ادارې له جوړېدو او د رسنيو (مطبوعاتو) او د بيان د ازادۍ له رامنځته کېدو وروسته د ورځپاڼو او خپرونو په شمېر کې بې کچې زياتوالی راغی اوهغه دا چې يوازې په پلازمينې کې له درېو سوو

ځخه زياتې ورځپاڼې، اوونيزې، مياشتنۍ او نورې رامنځته شوې. همداسې د هېواد لوی ښارونه دروا‌خلئ. د دغو خپرونو په لړکې له ورځپاڼې، جرېدې، مجلې، راډيو او تلويزيون څخه نيولې تر برېښنايي رسنيو پورې ټولې شاملې دي. يو شمېر يې رسمي او دولتي دي، يو شمېر يې په بېلا بېلو ټولنو او سازمانونو پورې تړلې دي او نورې يې ازادې او شخصي بڼه لري.

زموږ په هېوادکې ورځپاڼې له څلورو څخه تر اتو او دولسو پورې مخونه لري. زياتره يې په اخباري کاغذ باندې چاپيږي. د ليك او لوست دکچې د ټيټوالي له امله زموږ په هېوادکې ورځپاڼې لږ شمېر لوستونکي لري. هېواد، انيس او اصلاح نامتو ورځپاڼې دي او کابل ټايمز په انګليسي ژبه خپرېږي. بايد وو ايو چې کتابونه او رسالې په مهالنۍ بڼه نه خپرېږي، خو رسنۍ يعنې ورځپاڼې، جريدې او مجلې په يوه ځانګړي مهال په پرله پسې توګه خپرونې کوي.

د متن لنډيز:

ورځپاڼې او اخبارونه داسې معلومات او خبرونه خپروي چې سرې ورته په هماغه شيبه او مهال اړتيا لري. ورځپاڼې او رسنۍ موږ د نړۍ له ورځنيو پېښنو او د علم او تخنيك له پرمختياو وخبروي. ورځپاڼه د لوستونکي معلومات زياتوي او د نړۍ له روانو او جاري حالتونو څخه يې خبروي. راډيو اوتلويزيون هم انسان ته د ورځنيو معلوماتو او نوو څېړنو او پرمختياوو په هکله په زړه پورې پروګرامونه خپروي. بايد دتلويزيون د مثبتو، علمي او معلوماتي پروګرامونو ننداره وکړو او له هغو څخه لازم معلومات تر لاسه کړو. له مطالعې سره عادت او په هغې باندې روږدېدل، د انسان لپاره ډېر ضروري دي. ګرانو زده کوونکو ته سپارښتنه کيږي چې له مطالعې سره مينه پيدا کړي او لږ ترلږه په يوې ورځپاڼې کې ګډون وکړي او د هغې له موضوعګانو څخه ګټه واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

۱_ لاندې پوښتنو ته تشریحي ځوابونه وواياست:

- د ورځنيو معلوماتو په انتقال کې د ورځپاڼو د ارزښت په اړه خبرې وکړئ.
- زموږ په هېوادکې لومړۍ خپرونه په کوم وخت کې او د چا له خوا رامنځته شوه؟
- دکتاب، مجلې او ورځپاڼې توپير څه دی؟

۲- لاندې پوښتنو ته سم ځوابونه وواياست:

- له شمس النهار وروسته کومه خپرونه رامنځته شوه؟
- ورځپاڼه څه راز خپرونه ده؟
- په ورځپاڼې کې کوم ډول موضوعګانې خپرېږي؟
- د هېواد د څو ورځپاڼو نومونه واخلئ .

۳- د لاندې جملو تش ځایونه په مناسبو کلمو ډک کړئ :

- په ....کال کې له خپلواکۍ اخيستلو وروسته په هېوادکې د خپرونو شمېر زيات شو.
- سراج الاخبار افغانيه د .... له خوا رامنځته شوه.

۴- زده کوونکي دې په درېو ډلو ووېشل شي.

لومړۍ ډله دې په پورته لوست کې خاص نومونه په نښه او په يو لست کې دې يې وليکي.

دويمه ډله دې په لوست کې اوږدې (ې ګانې) په نښه او د هغوی اړوندې کلمې دې په يو لست کې وليکي.

درېمه ډله دې دا لاندې کلمې معنا او په جملو کې وکاروي:

ارزښت، مطالعه، ځانګړی، ورځپاڼه، خبريال، پياوړی، پلازمېنه

کورنۍ دنده

الف: زده کوونکي دې له ورځپاڼو څخه د خپلې خوښې يوه موضوع قيچي (پرې کړي) بله ورځ دې يې له ځان سره راوړي. هر زده کوونکی دې د خپلې موضوع په اړه نورو ته معلومات ورکړي.

ب : ايا تاسو مينه لرئ چې کومه مقاله يا مضمون مو په ورځپاڼه کې خپور شي؟ ايا تاسو غواړئ ليکوال شئ؟ همدا مو وخت دی. لستوني بډ وهئ، د ښوونکو، مور پلار يا نورو انديوالانو په مرسته په ليکنه پيل وکړئ.

کتاب د بشر د روح خواړه دي.

حضرت علي کرم الله وجهه

د شلمې پېړۍ د تمدن ستنه کتاب او رسنۍ دي.

روزولت

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاندې جدول په بله سپينه پاڼه کې ولیکئ او په متن کې یې د
((پوهنه)) کلمه پیدا او په خپله خوښه یې رنګه کړئ.

س	ر	و	ف	ح	د	ح
چ	ز	ع		ا	ي	س
خ	ر	ا		س	ع	ط
ط	هـ	ن	هـ	و	پ	ب
ا	ع	ف	ا	ک	م	د
ظ	خ	ر	ښ	ز	ځ	ډ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دولسم لوست

ليکوال او ښوونکی: صالح محمد هوتك

- د صالح محمد هوتك نوم مو اورېدلی دی؟

لکه چې دمخه مو لوستي دي، زموږ د هېواد د علم او ادب د ډگر د اتلانو شمېر زيات دی. د دغو پوهانو په ډله کې يو هم مولوي صالح محمد هوتك دی. صالح محمد هوتك پر شعر او شاعرۍ سربېره ښوونکی هم و. د خلکو په درد ښه پوهېده او د خلکو د خوږ او درد د لېرې کولو لارې چارې ورته ښې څرگندې وې. دلته د نوموړي په اړه له تاسو سره خبرې کوو.

- د شاعرانو او ليکوالو له شعري پيغامونو څخه څه انتباه اخيستلی شو؟
- ولې موږ دگران هېواد په پوهانو، شاعرانو او ليکوالانو وياړو او د هغوی له لارښوونو څه گټه اخلو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

مولوي صالح محمد هوتك کندهاری د فیض محمد زوی په ۱۲۶۹ هـ . ش. کال په کندهار کې زېږېدلی دی. لومړنی زده کړې یې د کابل په حبیبیې ښوونځي کې تر سره کړې دي. وروسته په همدې ښوونځي کې د ښوونکي په توګه ټاکل شوی دی. د پښتو ژبې د لوست تدریس یې کاوه او د پښتو ژبې درسي کتابونه یې لیکل.

د هغه زیاتره لیکنو تعلیمي او درسي بڼه درلوده. مثنوي یې یو ادبي اثر دی. دا اثر درې زره بیتونه لري او د مولوي جلال الدین محمد بلخي د مثنوي له ځینو برخو څخه په ازاده توګه ژباړل شوې دي. مولوي صالح محمد هوتك د پښتو د اوسني ادب د یوې مخکښې څېرې په توګه نه هیرېدونکي خدمتونه کړي دي.

د نوموړي د ((بلبل ژړا)) یا په ((قفس کې بلبل)) شعر د عبدالهادي داوي د شعر ژباړه ده. دې شعر زیات شهرت وموند، ځکه په ژباړه کې یې له دومره ظرافت څخه کار اخیستی چې ځانګړې ادبي ښکلا لري. د امیرحبیب الله د واکمنۍ په وخت کې په سراج الاخبار کې خپور شوی دی، د خپلواکۍ د ولولو په پیداکولو کې یې هم په خپل وخت کې ستره ونډه اخیستې ده. موږ یې د نمونې په توګه څو بیته را اخلو:

یو سحر زما تر غوږ شوله بلبله
په قفس کې یې ژړل دا یې ویله
چې بندي شوم د صیاد له سخته دله
ولې نه پوښتي څوک حال زما یوله بله
ولې نشته بې فغانه کاروبار زما
ولې حبس ابدي راغی په وار زما
نه محرم چې د زړه حال ورته بیان کړم
نه مې وس چې خبرداره بلبلان کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

((په قفس کې بلبل)) د پښتو د معاصر ادب یوه غوره بېلګه ده. یو ملي ارمان په کې په ښکلي عاطفي رنګ کې غبرګ شوی دی.

نوموړي لاندې اثار لیکلي دي:

۱ - خود اموز پښتو (دوه ټوکه)، د پښتو لومړی کتاب، پښتو ژبه، (دوه ټوکه)، د پښتو تدریسي کتاب، پښتو صرف و نحو (ژباړه)، اطاعت اولو الامر، پښتو مثنوي، تذکره الشعراء او یو شمېر نور. مولوي صالح محمد هوتک په ۱۳۳۹ هـ . ش . کال په کابل کې وفات شوی دی.

د متن لنډیز:

صالح محمد هوتك د پښتو خوږ ژبی شاعر، لیکوال او ښوونکی و. دی د خپلواکۍ سخت لېوال و او له همدې کبله د ده شعرونه ټول د وطن له مینې ډك دي. په شعر او لیکوالۍ او همدارنګه د شعر په ژباړه کې یې لوی لاس درلود. د ده د شعر ژبه تونده وه. له دې امله د هېواد غلیمان ترې ډارېدل. لکه چې دمخه مو ولوستل صالح محمد هوتك زیات شمېر لیکنې کړې دي چې هره یوه یې ځانګړې ارزښت لري.

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې لاندې پوښتنو ته ځواب ووایي:

- د مولوي صالح محمد هوتك د شعرونو موضوعګانې څه دي؟
- د صالح محمد هوتك د شعر کوم اړخ ډېر غښتلی و؟
- د صالح محمد هوتک د ځو کتابونو نومونه واخلئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ستاسې په نظر مولوي صالح محمد هوتک د پښتو ژبې ودې ته څه خدمت کړی دی؟

۲- زده کوونکي دې د لاندې جملو خالي ځايونه په مناسبو کلمو پر پنسل ډک کړي:

- مولوي صالح محمد هوتك خپلې زده کړې په ...... کې ترسره کړې دي.
- د صالح محمد هوتك مثنوي .... بیته لري.
- صالح محمد .... په پښتو ژباړلی دی؟

۳- زده کوونکي دې د لاندې پوښتنې تشریحي ځواب ووایي:

- په قفس کې د بلبل د ژړا شعر څه شی څرګندوي؟ بیان یې کړئ.

کورنۍ دنده

تاسې په ټولنه کې د شاعر او لیکوال په ارزښت څومره پوهېږئ؟ په دې اړه څو کرښې ولیکئ. د لیکلو په وخت کې مو د مولوي صالح محمد هوتک د شعر په هکله خبرې په پام کې وي.

هیڅکله ځان د چا بنده کوه مه، ځکه ته خدای تعالی ازاد پیدا کړی یې.
حضرت علي کرم الله وجهه

که ونه کړای شو ازاد واوسېږو، غوره ده چې مرګ ته په خلاصه غېږ هرکلی ووایو.
مهاتماګاندي

د يو بنه حکومت نښه، د هغه د وينا او عمل ازادي ده.
کنفیسیوس

(c) ketabton.com: The Digital Library

طاق ظفر: د خپلواکۍ څلی

د افغانستان تاریخ د یرغلگرو او ښکېلاک گرو په وړاندې له سرښندنو او مبارزو ډک دی. وخت په وخت د نړۍ او سیمې یرغلگرو زموږ پر گران هېواد تیری کړی دی، خو زموږ خلکو یې هم په مېړانه مقابله کړې ده.

د پغمان د برې څلی (طاق ظفر) د افغانستان د خپلواکۍ د بېرته گټلو یوه ښه نښه ده، دا د هېواد د مېړنیو د یاد څلی دی.

- تاسو د پغمان د طاق ظفرنوم اورېدلی؟
- د یادگار څلي او منارونه د څه شي استازیتوب کوي؟
- د خپلواکۍ د درسونو زده کړه څه گټه لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پغمان طاق ظفر یا د بري ځلی زموږ د هېواد د تاریخي کارنامو د ویاړ نښه او یادګار دی. د پغمان طاق ظفر د هېواد د خپلواکۍ د شهیدانو د یادونې په موخه له کابل څخه ۲۷ کیلومتره لیرې په پغمان کې جوړ شوی او ډېر عظمت او دبدبه لري.

نوموړی ځلی د افغانستان د خپلواکۍ د ستر اتل غازي امان الله خان د پاچاهۍ په پېر کې جوړ شوی دی. کله چې امیر امان الله خان د سلطنت واګې په لاس کې واخیستل، د هېواد د خپلواکۍ اخیستل یې پر ځان لازم وګڼل. په ټینګ هوډ او کلکې ارادې یې د ۱۲۹۸هـ . ش. کال د زمري میاشتې په اته ویشتمه د افغانستان خپلواکي له انګرېزانو څخه واخیسته. طاق ظفر د نوموړي هېوادپال پاچا د ویاړلو کارنامو لپاره په پغمان کې جوړ شوی دی. د هغو ځوانانو نومونه چې د خپلواکۍ په لار کې قرباني شوي او د هېواد د ازادۍ لپاره یې خپلې وینې تویې کړې دي، د نوموړي ابدې په غاړو مورګو کې لیکل شوي دي. دا نومونه د دې زړور او سرتېر ولس لپاره د خپل تېر تاریخ روښانه هنداره ده.

کومې تاریخي ابدې چې د افغانانو د لرغوني تاریخ د حماسو، کارنامو او یادګارونو انځور وړاندې کوي، یو یې هم منارونه دي. منارونه او ابدې د یرغلګرو په وړاندې زموږ د نیکونو د مېړانو، اتلولیو، سرښندنو، بریالیتوبونو او زړورتیا ځلانده نښې دي.

د هېواد په ډېرو ځایونو او ښارونو کې یادګاري منارونه او ځلي جوړ شوي دي. په کابل ښارکې د میوند د ډګر د اتلې ملالۍ په یاد د میوند ځلی، د جمهوري ارګ په وړاندې د خپلواکۍ منار او نور یادولای شو.

د متن لنډیز:

افغانان د تاریخ په اوږدو کې له ویاړ او برمه ډکې ورځې لري. د دغو ویاړونو د تلپاتې یاد لپاره یې د ځینو په یاد منارونه او ځلي جوړ کړي دي. هر ځلی موږ ته د خپلو نیکونو او پلرونو د سرښندنو یادونه کوي. د خپلواکۍ د اخیستلو د لارې شهیدانو اتلولي راپه زړه کوي. له هېواد سره مینه او د وطن د ساتنې او ودانولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

لپاره د هاند او هڅو مینه راسره پیداکوي. موږ ته د دې درس راکوي چې د خپلو نیکونو او پلرونو میراث په مېړانه وساتو او د هغه درناوی وکړو.

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې لاندې پوښتنو ته تشریحي ځوابونه ووايي:

- طاق ظفر د څه شي نښه ده؟
- منارونه او یادګاري ځلي موږ ته څه را په زړه کوي؟ څرګند يې کړئ.
- د نیکونو او پلرونو میراث څنګه ساتلی شو؟ خبرې پرې وکړئ.

۲ـ د لاندې پوښتنو درې ځوابونه لیکل شوي، تاسو يې سم ځواب په نښه کړئ:

خپلواکي څنګه ساتل کېږي؟

- خپلواکي د یو ولس په وینو ساتل کېږي.
- خپلواکي د پخلاینې له لارې ساتل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- خپلواکي د ولس په اتحاد او یووالي ساتل کېږي.

۳ــ د خپلواکۍ د ګټلو یادګاري ځلي ولې جوړېږي؟

- چې د هېواد ښارونه ښایسته شي.
- چې ځرګنده کړي مونږ خپلواکي اخیستې.
- چې پرې وویاړو او د ساتلو لپاره یې سرونه وښندو.

۴ــ زده کوونکي دې په دوو ډلو وویشل شي. د یوې ډلې غړي دې په وار د پورته لوست په اړه پوښتنې وکړي او د بلې ډلې غړي دې په خپل وار هغې ته ځوابونه ووايي. ښوونکی دې د بهیر ځارنه وکړي.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د هېواد د خپلواکۍ د ګټلو په اړه د مور او پلار یا نورو لویانو په مرسته خپل معلومات بشپړ او بله ورځ دې یې په ټولګي کې په خپله ژبه ووايي.

> ازادي تر پاچاهیه لا تېرې کا
> چې د بل ترحکم لاندې شي زندان شي
>
> خوشحال خان ختټك

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

قاضي او نوکر

- له بېکارانو او بدکارو سره ناسته ولاړه څه زيان لري؟

دا يوه اخلاقي کيسه ده. زده کوونکي ښايي د لوست او زده کړې تر څنګ روزنيز او اخلاقي لوستونه هم زده کړي چې په پای کې په ښو او نيکو اخلاقو يو سمبال انسان ترې جوړ او د ټولنې او ولس د ښه خدمت جوګه شي. له نيکانو او ښو خلکو سره ناسته ولاړه سړی سمې او نيکې لارې ته رابولي، خو له بدانو او بېکارانو سره سړی د بدمرغۍ کندې ته لوېږي.

- ايا تاسې له ښو خلکو سره د ناستې ولاړې په ګټه پوهېدلي ياست؟
- دا څه معنا لري چې د ديګ تر څنګ ناسته د سرې جامې، لاسونه او پښې توروي؟

یو سړی له قاضي سره نوکر و. په ډېر اخلاص او ایمانداري یې د قاضي خدمت کاوه. قاضي هم ترې خوښ و او هر ډول مرسته به یې ورسره کوله.

یوه ورځ نوکر د قاضي د ځمکې په اړولو بوخت و. په ځمکه کې یې له سرو زرو یوه ډکه کټوه وموندله او نېغه یې قاضي ته راوړه. ورته ویې ویل: قاضي صاحبه! دا د سرو زرو کټوه مې ستا په پټي کې وموندله. قاضي ډېر زیات خوشحاله شو او مزدوري یې ورزیاته کړه. هر وخت یې مرستې ورسره کولې.

څه موده وروسته هغه سړي د قاضي مزدوري پرېښوده او بېکاره شو. له یوه او بل سره به ګرځېده. د خدای ﷻ کړه وو، له غلو او بدکارو سره ملګری شو. یوه ورځ یې د یوې ښځې غوږوالۍ پټې کړې. خلکو هغه ونیو او د غلا په تور یې محمکې ته راوست. په محکمه کې همغه قاضي ناست و چې دی ورسره څه موده د مخه نوکر و. غل یې قاضي ته وړاندې کړ.

قاضي چې مزدور ولید، نو ډېر خپه شو. له ځان سره یې و ویل دا خو ډېر نیک سړی و. د یو بل چا په تور به یې دلته راوستی وي. که هغه غلا کولای، نو هغه زما په ځمکه کې موندلې سره زر به یې پټ کړي وو.

قاضي ترې پوښتنه وکړه چې دروغ او رښتیا ښکاره شي. هغه هم ورته رښتیا و ویل او خپل جرم یې ومانه. قاضي ورته و ویل: ((زما په ځمکه کې دې ددې غوږوالیو سل هومره سره زر وموندل، خو بې خیانته دې راکړل. اوس دې دا ناڅیزه غوږوالۍ پټې کړې دي. ولې؟))

مزدور ورته و ویل: ((لومړی مې له ښو خلکو سره ناسته او ولاړه وه. په غلا نه پوهېدم او نه مې بدکارونه کول. اوس له وزګارو او بدکارانو سره مل یم، ځکه په غلا او بدو کارونو روږدی شوم.))

له پورته کیسې ښخه مو دا نتیجه واخیسته چې هیڅ وخت باید له بدکارانو او وزګارو خلکو سره ناسته ولاړه ونه کړو. که کله له هغوی سره ناستې ته اړ شو، باید د هغوی له بدو کارونو ښخه پند او عبرت واخلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له بدانو سره مه کښېنه هوښیاره
بدان تا باسي له ژونده له روزګاره
څو دې توان وي له بدانو لېرې ګرځه
چې بد ګرځې، بد په پرځې بدکرداره

د متن لنډيز:

په ډېرو ټولنو کې دا وينا موجوده ده چې سړی بايد له بدو خلکو سره له ناستې ولاړې ځان وژغوري. انسان د طبيعت له مخې منونکی خوی لري. ددې لپاره چې سړی له ناوړو او بدو کارونو خوندي پاتې شي، بايد له بدانو سره خپله ناسته ولاړه کمه کړي. له پوهانو او عالمانو سره ناسته ولاړه سړی د نېکمرغۍ او له بدانو سره د بدمرغۍ خوا ته بيايي. اوس نو د هرچا خوښه چې ځان د بدمرغۍ کندې ته غورځوي او که له ځانه غوره او نېک انسان جوړوي ! ؟ غوره او نېک انسان خپله هم نېکمرغه دی او ټولنه هم ورسره نېکمرغه کېږي.

فعاليتونه

۱ـ زده کوونکي دې دا لوست په پوره پام ولولي او که داسې کومه ورته کيسه يې په زړه وي، نورو زده کوونکو ته دې يې ووايي.

۲ـ له لوست څخه تر لاسه شوی پند دې په خپله ژبه ووايي.

۳ـ زده کوونکي دې په پورته لوست کې د پنځه ګونو (ی) ګانو لرونکې کلمې بېلې او هره ډله دې په يو لست کې وليکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې پام وکړي چې د لوبو او ساعت تېرۍ پرمهال له چا سره ناسته ولاړه لري.

په خپلو ملګرو او همزولو کې دې په پام کې ولري او دې ته يوه ورته کيسه دې سباته په ټولګي کې ووايي.

که خپلو اولادونو ته ادب ورزده کړئ، داکار تر هرې ورځې صدقې ورکولو غوره دی.

حضرت محمد ﷺ

که سپين اوسره يې په کور کې تل وي
چې نه يې علم نه يې عمل وي
بنياد يې نشته اخر به خوار شي
بخت به ترکومه ورسره مل وي

عبدالقادر ختك

ښوونه او روزنه يوه لړۍ ده چې پيل يې د پلار او مور په لاسونو کې دی.

جان ديوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځلسم لوست

عبدالقادر خان خټک: نامتو شاعر

■ د پښتو ژبې د کلاسیکو یا پخوانیو شاعرانو او لیکوالو په اړه څه معلومات لرئ؟

د پښتو ژبې په ادب کې ډېر نومیالي شاعران تیر شوي دي چې زموږ ژبه او ادب یې غني کړی دی. د شعرونو دیوانونه لري او د ادب په نورو برخو کې یې هم په سلګونو کتابونه لیکلي او موږ ته یې راپرېښي دي. د خوشحال خان خټک کورنۍ په دې لړ کې ډېر خدمتونه کړي دي. د دې لویې کورنۍ یوه څېره عبدالقادر خان خټک ده چې په دې لوست کې د هغه ژوند لیک او شعرونه لولو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبدالقادر ختټ د پښتو ژبې د ستر لیکوال او د توريې او قلم خاوند خوشحال خان ختټ زوی دی. د زېږېدو نېټه يې ۱۰۶۳ هـ . ق. ده. د ژوند ښايسته ډېره برخه يې د وخت په تيارو کې پټه پاتې ده. له کوچنيوالي څخه يې په دوديزې زده کړې پيل کړی و. د عبدالقادرخان د وينا له مخې لومړنی استاد يې خپل پلار، خوشحال خان و.

د عبدالقادر خان ختټ له اثارو داسې جوتيږي چې هغه لوړ علمي او ادبي صلاحيت درلود. خدایﷻ ښه استعداد ورپېرزو کړی و. پر پښتو سربېره په فارسي او عربي ژبو ډېر ښه پوهېده. عبدالقادر خان په ديني او ادبي پوهنو کې لوی لاس درلود او د همدې پوهنو تدريس يې هم کاوه.

عبدالقادر خان ختټ د خپل علمي، ادبي او فرهنگي ژوند ترڅنگ سياست ته هم لاس ورغځولی دی. د ملي او سياسي هڅو په لړکې يې له خپل پلار، خوشحال خان سره په ځينو مشهورو جگړو کې برخه اخيستې وه.

د عبدالقادر خان ختټ شعرونه تصوفي او عرفاني اړخ هم لري.

زموږ د دغه شاعر د مړينې کره نېټه څرگنده نه ده، خو د ځينو شواهدو او تاريخي پېښو له مخې يې مړينه د ۱۱۲۵هـ . ق. کال په شاوخوا کې اټکل شوې ده.

د عبدالقادر خان د اثارو شمېره د ۶۰ په شاوخوا کې ښودل شوې ده چې د اشعارو ديوان، نصيحت نامه، ځلوېښت حديثونه، قصيده برده، يوسف زليخا اوگلدسته تر لاسه شوي او د ادم خان درخانۍ او د معماوو د رسالې نومونه يې اخيستل شوي دي.

د متن لنډيز:

عبدالقادر خان ختټ خپلې زده کړې له خپل پلار خوشحال ختټ څخه ترلاسه کړې دي. د هغه له اثارو څخه داسې جوتيږي چې هغه يو پوه او د ادبي واک او ښه استعداد خاوند و. په فارسي او عربي ژبو ډېر ښه پوهېده. عبدالقادر خان په ديني او ادبي پوهنو کې لوی لاس درلود او د همدې پوهنو تدريس يې هم کاوه. نومورې زيات شمېر کتابونه ليکلي يا ژباړلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عبدالقادر خټک د شعر دغه بېلګه ولولئ:

غزل

مه شه خوښ د پادشاهۍ په تخت ختلو
همېشه يې غم کوه د پرېوتلو
چې مو اوس کړې په مظلومو رډې رډې
غافل مه شه ددې سترګو د وتلو
چې پېشه يې همېشه دل ازاري وي
د هغو مخونه نه دي د کتلو
ځکه تل کړې په زردوزو جامو کبر
چې غافل يې د کفن د اغوستلو
د اجل د سورو تاخت ناګهاني دی
چې هيڅ کور يې نه خلاصيږي له نتلو
هغه زړه عبدالقادره چې مړه وي
په ګوګل دننه نه دی د ساتلو

فعاليتونه

زده کوونکي دې:
- په خپل وار پورته شعر په ډېره ښه او ادبي ژبه و وايي. (ديکلمه دې يې کړي.)

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د لوست نوي لغتونه وار په وار په مناسبو او معنا لرونکو جملو کې وکاروي.
- دا بیت په خپله ژبه معنا کړي:

مه شه خوښ د پادشاهۍ په تخت ختلو
همېشه يې غم کوه د پرېوتلو

- دا بیت په نثر واړوئ:

چې مو اوس کړې په مظلومو رډې رډې
غافل مه شه ددې سترګو د وتلو

- ووايي چې له ګلستان څخه پر پښتو د ژباړل شوي کتاب نوم څه شی دی او چا ژباړلی دی؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په خپله خوښه د پورته شعر درې، درې بیته په روانه ژبه په نثر واړوي او سبا دې یې د نورو ترمخه په ټولګي کې ووايي.

شاعران د ارزښتمنو او ښو انسانانو د سر پګړۍ دي.
ټاګور

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپاړسم لوست

دوديزې لوبې



■ ايا خپلې ملي او دوديزې لوبې پېژنئ؟

هر ولس ځانته ملي او دوديزې لوبې لري. افغانستان له دې پلوه خورا بډای دی. په هېواد کې پرتې سيمې د خپل جغرافياوي اوتاريخي مخينې له مخې بېلابېلې لوبې لري. د هېواد په شمال کې وزلوبه خورا مينه وال لري، په داسې حال کې چې سانګې وهل د هېواد په سويلي ولايتونو کې خورا اوږد تاريخ لري. همداسې غېږې نيول، خوسی کول اونور بيا د هېواد په ډېرو سيمو کې ترسره کيږي. زياتره دا لوبې د ژمي په موسم کې کيږي.

■ د هېواد په دوديزو لوبو پوهېدل څه ګټه لري؟

لوبې او سپورت یا بدني روزنه د يوې ټولنې د عمومي روزنې يوه برخه ده. د بدني روزنې له لارې د ټولنې د غړو روغتيايي حالت ښه کېږي او يوه روغه او سالمه ټولنه رامنځته کېږي. په سالمه ټولنه کې بدن او دماغ وده کوي. له بدني او دماغي يا فکري ودې پرته يوه ټولنه پرمختګ نه شي کولای.

بدني روزنه زموږ په هېواد کې خورا لرغونی تاریخ لري او لکه د نورو لرغونو ارزښتونو او معيارونو په څېر موږ ته راپاتې ده. په دې لوبو کې داسې لوبې هم وي چې نه يوازې د وخت د تېرولو او تفريح لپاره ورڅخه کار اخيستل کېده، بلکې د جګړو پرمهال هم ډېرې ګټورې وې. دا لوبې لا تراوسه د هېواد په بېلا بېلو سيمو او کلو بانډو کې دود دي. له عادي ورځو پرته د اخترونو او د نوي کال په رادبره کېدو زياتره دا لوبې په ډېرې مينې او ليوالتيا ترسره کيږي. پر دې برسېره زموږ په هېواد کې داسې لوبې شته چې د ماشومانو له خوا سرته رسيږي، لکه پټ پټانی، مشوانی يا خطکان، غوز لوبه او داسې نورې سيمه يېزې او کليوالي لوبې.

د لويانو په لوبو کې د اس ځغلول، تيره اچول، خوسی، سانګې وهل، وزلوبه او نور شامل دي.

د اس ځغلول

د اس ځغلول زموږ په هېواد کې لرغونی تاريخ لري. دا لوبه له ميلاد دمخه زموږ د هېواد په ډېرو سيمو کې دود وه. زرګونه کلونه وړاندې د لويو قبيلومشرانو د اسونو ګلې لرلې. په تېرو وختونو کې د اس سپرلی او له اس څخه ګټه اخيستل په پوځي تشکيلاتو کې هم يو مهم ځای درلود. داکار په بلخ، کندوز، تخار او جوزجان کې اوس هم دود دی او ډېره ګټه ترې اخيستل کيږي.

تيره اچول

دا لوبه په ټول افغانستان، په تېره بيا په ختيځو ولايتونو کې ډېره دود ده. په دې لوبه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې هغه ځوانان ډېره برخه اخلي، چې عمر يې د ۱۵ او ۳۵ کلونو ترمنځ وي. ددې لوبې د لوبغاړو شمېره دوه تنه يا له دو و څخه زياته وي او زياتره د پسرلي په موسم کې تر سره کيږي. په دې لوبه کې يوه داسې تيره ټاکل کيږي چې وزن يې د هغوی د عمر په تناسب وي. بيا يو ارت ميدان ټاکي او په ټاکلي ځای کې يوه کربنه کاږي چې له هغې څخه مخکې ولاړ نه شي. له هغې وروسته د تيږې په اچولو پيل کوي. دا کار په نوبت تر سره کيږي او هر هغه څوک چې تر نورو يې تيږه وړاندې اچولې وي، د لوبې گټونکی اعلانيږي.

خوسی

خوسی يوه په زړه پورې لرغونې لوبه ده. دا لوبه د پښتنو په سيمو، په ځانگړې توگه په ختيځو ولايتونو کې ډېره دود ده. دا لوبه د مازيگر پر مهال او زياتره د پسرلي په وخت کې ترسره کيږي. د لوبې د ترسره کولو لپاره يو لوی او ارت ميدان ټاکل کيږي. لوبه د دوو ځلور کسيزو يا پنځه کسيزو ډلو له خوا پرمخ وړل کيږي. د لوبو له ډلې څخه يو، يو تن د لوبې د مير يا مشر په توگه ټاکل کيږي. د ميدان په يوې څنډې کې پنځوس متره وړاندې يو ځای د پتخې يا (پتې) په نوم ټاکي. لوبه داسې تر سره کيږي چې دواړه ډلې يو له بل څخه جلا يو د بل مخامخ ودريږي. يو، يو تن غښتلی هلك د پتخې په ځای کې ولاړ وي. د دواړو ډلو غړي خپلې ښي پښې شاته کاتوي او په کيڼ لاس يې گوتې ټينگې نيسي. د لومړی ډلې غړي هڅه کوي ځانونه پتخې ته ورسوي، خو د مقابلې ډلې لوبغاړي يې مخه نيسي. لوبه تر هغې پورې روانه وي چې يا ټول غړي وسوځي او يا ځانونه پتخې ته ورورسوي.

سانگې وهل يا د نېزې وهل

د هېواد له لرغونو لوبو څخه يوه هم د سانگې وهل دي. د سانگې له وهلو څخه اريايانو د جنگي الې په توگه کار اخيست. د نېزې کښتنی برخه د اوسپنې په تېره سر

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښل شوې وي. دا لوبه د تکړه او غښتلو ځوانانو له خوا په غښتلو او چابکو اسونو ترسره کيږي. ددې لوبې لپاره لوی ميدان ټاکل کيږي. وروسته په دې ميدان کې د يو، يو متر په واټن درې ځايه د ۳۵ سانتي مترو په اوږدوالي لرګين موږې په ځمکه کې ټک وهل کيږي. وروسته تقريبا د دوو سوو مترو په ليرې والي يو ځوان د اس په سپرلۍ ډير چابك د موږو په لور راځغلي. کله چې موږو ته نژدې کيږي، خپل ځان د اس پرشا يوې خوا ته کږوي او نيزه په ښي لاس د موږې په لور برابروي، تر هغې چې موږی د نېزې په واسطه له ځمکې څخه راوباسي. په دې وخت کې دوه تنه ډولچيان ډولونه وهي. کله چې اس د موږې په لور ځغلي د ډولونو غږ د هرې شېبې په تېرېدو تيزيږي. کله چې موږی د نيزې په څوکه پورته شي د ډولونو شور او زوږ لا پسې مست اوزيات شي. که موږی خطا شي د ډولونو غږ کرار او په عادي توګه وهل کيږي. په دې توګه د لوبې ګټونکی او بايلونکی اعلانيږي.

دا لوبه په غزني او کتواز کې ډېر دود ده او زياتره د جشنونو، ودونو او ميلو پر مهال ترسره کېږي. دغه راز دا لوبه په مزارشريف او هزاره جاتو کې ډېر مينه وال لري او کله ناکله دا لوبې جوړوي.

وزلوبه

وزلوبه د افغانستان يوه ډېره لرغونې لوبه ده. ډېر خلك يې مينه وال دي. ددې لوبې تاريخ د مقدوني سکندر د يرغلونو په تاريخ پورې تړي. داسې هم ويل کيږي چې اربابي پهلوانانو به د دښمن پر لښکر باندې يرغلونه کول او د هغوی له عسکري ځايونو څخه به يې ژوندي، ژوندي خلك له ځان سره په اسونو وړل چې بيا وروسته يې د يوې لوبې بڼه غوره کړه. دا لوبه د هېواد په شمالي برخو کې رامنځته شوې، له دې امله د بلخ، سمنګانو، جوزجان، بدخشان، تخار، کندوز، بغلان، فارياب او پروان په ولايتونو کې ډېره دود ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې لوبې لوبغاړي ته (چاپ انداز) یا (پهلوان) وایي. لوبه په یو حلال شوي خوسي ترسره کیږي. د خوسي خېټه تر حلالولو وروسته پاکوي او د ۲۴ ساعتونو لپاره په اوبو کې اچول کیږي چې پوستکی یې ټینګ او ښه کلك شي. د خوسي وزن د ۳۰_۴۵ کیلوګرامو په اندازه وي.

د وزلوبې لپاره د نورو لوبو په څېر یو ارت میدان ټاکل کیږي. په هغې کې د جګولو دایره، د حلال دایره او بیرغ په څرګند ځای کې په نښه کیږي. لوبغاړي په دوو ډلو یا ټیمونو لوبه کوي. خوسی د جګولو په دایره کې اچول کیږي او بیا ټول چاپ اندازان ترې راتاویږي. هر یو هڅه کوي، چې خوسی له ځمکې راجګ او د میدان په بلې برخې کې یې د بیرغ ترڅنګ د حلال په دایره کې واچوي. له بیرغ څخه د خوسي راتاوول یوه نومره لري او د حلال په دایره کې یې اچول دوې نومرې لري.

دا لوبه کله کله د دوو او کله د زیاتو ډلو له خوا تر سره کیږي. که د دوو ډلو ترمنځ وشي، نو د لوبغاړو شمېره لس، لس تنه وي، خو د زیاتو ډلو دګډون پر مهال د هرې ډلې د لوبغاړو شمېر پنځه، پنځه تنه وي. دا لوبه ډېره ستونزمنه او د ټیپي کېدا او ان کله ناکله د مرګ خطر ورسره ملګری وي.

د متن لنډیز:

زموږ هېواد تاریخي دودیزې لوبې لري. هره یوه یې ځانته خپل ارزښت لري. دا لوبې په بېلا بېلو سیمو او بېلابېلو موسمونو کې ترسره کیږي. وزلوبه، څانګې وهل، تیږه اچول، خوسی او نورې په زړه پورې لوبې دي. په دودیزو لوبو کې زیاتې ګټې پرتې دي. د بدني روزنې له لارې بدن پیاوړی کیږي، ښه اخلاق په انسان کې وده کوي، انسان د ټولنې ارزښتمن غړی کیږي. همدارنګه په ملي کچه د ملي وحدت، ورورګلوۍ او یو والي د ودې او پراختیا لپاره خورا ارزښت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې پر پنځوډلو ووېشل شي:

- لومړۍ ډله دې د اس ځغلولو،
- دويمه ډله دې د تيرېږي اچولو،
- درېمه ډله دې د خوسي،
- څلورمه ډله دې د ښانګي وهلو، او
- پنځمه ډله دې د وزلوبې په اړه خپل معلومات د ټولګي په وړاندې ووايي.

۲ـ زده کوونکي دې د لاندې پوښتنو ځوابونه ووايي:

- بدني روزنه د نيکو اخلاقو په پراخولو کې څه ګټه لري؟ بيان يې کړئ.
- د بدني روزنې ټولنيزې ګټې کومې دي؟
- بدني روزنه زموږ روغتيا ته څه ګټه لري؟

۳ـ زده کوونکي دې په متن کې خاص نومونه، عام نومونه، مفرد او جمع نومونه په ګوته او په بېلو بېلو ليکو کې دې يې وليکي.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په کور کې له خپل پلار، ورور يا بل خپلوان څخه پوښتنه وکړي چې د هغوی د ځوانۍ په وخت کې کومې کومې لوبې په کوم کوم موسم کې ډېرې دود وې. زده کوونکي دې پخپلو کتابچو کې د دغو لوبو په اړه له هغوی څخه معلومات وليکي او سبا ته دې په ټولګي کې پرې خبرې وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوولسم لوست

هانس کرستین اندرسن

Hans Christian Anderson

■ له ملي او نړیوالو ادبي ځېرو څخه د چا نومونه اخیستلی شئ؟

د ملي او ولسي ادبي ځېرو په څنګ کې د نړیوالو ادبي ځېرو او د هغوی د ژوند لیك او ادبي اثارو پېژندنه زیات ارزښت لري. زده کوونکي د هغوی له ژوند لیك څخه اغېزمن کېږي او همدارنګه یې له ادبي اثارو څخه خوند اخلي او په ځان کې د استعداد او پیاوړتیا فکراو سوچ ورسره پیدا کېږي چې که وکړای شي، یوه ورځ هغوی هم دغه کچې ته ورسېدای شي. موږ دلته په دې لړۍ کې د هانس کرستین اندرسن لنډ پېژندلیك او د کیسو یوه بېلګه راوړې ده. اندرسن کوچنیانو ته د کیسو په لیکلو کې خورا مشهوره نړیواله ادبي ځېره ده.

■ ایا د اندرسن نوم مو اورېدلی دی؟

■ ولې موږ د نړیوالو ادبي ځیرو ژوند لیک لولو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

هانس کرستین اندرسن (۱۸۰۵ – ۱۸۷۵ م.) ډنمارکي شاعر او کیسه لیکونکی و. پلار یې موچي و. هانس د ځوانۍ عمر په بېوزلۍ کې تېر او یو متفکر او حساس ځوان ترې جوړ شو. په ۱۴ کلنۍ کې یې پلار مړ شو او مور یې بل مېړه وکړ. نوموړي له ستونزمن ژوند سره سره یوه غندونکې منظومه قطعه ولیکله. دې کار هغه ته زیات بریالیتوب وربه برخه کړ. اندرسن ډېر داستانونه او کیسې ولیکلې چې زیاتره یې کوچنیانو ته لیکل شوي دي. اندرسن نه یوازې د ډنمارك له نومیالیو لیکوالو څخه ګڼل کېږي، بلکې د نړۍ له سترو لیکوالانو څخه هم شمېرل کېږي.

دلته د هانس کرستین اندرسن د ((شهزادګۍاونخود)) او ((بلبل او سور ګل)) دکیسو دوه پښتو ژباړې راوړو.

شهزادګۍ او نخود

په پخوا زمانو کې یو شهزاده و. شهزاده غوښتل په یوې ښې او بډایې کورنۍ کې واده وکړي. ددې کار لپاره یې ډېرو لرو او نژدې سیمو ته سفرونه وکړل.

شهزاده په خپلو سفرونو کې له ښېلا ښېلو کورنیو سره ولیدل، خو د هغوی په کورنیو کې یې د ځان وړ او مناسبه نجلۍ ونه موندله. په پای کې یې د واده فکر له سر څخه وایسته او خپل هېواد ته راستون شو.

په یوې توپاني شپې کې چې برېښنا تول هسك روښنانولو او ډېر سخت باران ورېده، د شهزاده د پلار (پاچا) د ماڼۍ د دروازې ټکول تر غوږه شول. پاچا وارخطا شو اوله ځایه جګ شو. خپل خدمتګار ته یې وویل چې لاړ شي او د ماڼۍ دروازه پرانیزي او وګوري چې په دې شپه کې څوك دروازه ټکوي؟ کله چې خدمتګار دروازه پرانیستله، ویې لیدل چې یوه نجلۍ باران لمده کړې او له سر او مخ څخه یې اوبه رواني دي. نجلۍ رانئوته. هغه دومره لمده شوې وه چې په هرځای کې به درېده، هغه ځای به لمدېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملکې ترې وپوښتل: ((ته څوك يې؟))

نجلۍ ځواب ورکړ: ((ستاسو دګاونډي هېواد د حاکم لور.))

ملکې او پادشاه يوبل ته وکتل. ملکې په ورو وويل: ((زه هغه نن شپه ازمايم او معلوموم يې چې هغه رښتيا وايي او رښتيا هم شهزادګۍ ده او که نه؟))

وروسته نو پرته له دې چې چاته ووايي، خپلې کوټې ته لاړه. خپله بستره يې لرې کړه او يو نخود يې په بستره کې کېښود. بيا يې د بڼکو يو توشك په هغې هوار کړ. خپلو خدمتګارانو ته يې وويل هغه نجلۍ دې کوټې ته راولي او ورته دې ووايي چې په دې بسترې کې ويده شي.

سهار د وخته چې شهزادګۍ له خوبه را پاڅېده، نو ملکې ترې وپوښتل: ((ايا بيګا دې سم خوب وکړ؟))

نجلۍ په ځواب کې وويل: ((نه، بېګاه هيڅ خوب رانغی. ځای مې ښه نه و. ډېره خرابه شپه مې تېره کړه.))

پادشاه اوملکه د نجلۍ له ځواب څخه ډېر خوشحاله شول. هغوی پوه شول، دا هغه نجلۍ ده چې هغوی ورپسې ګرځي. ځکه يوه حساسه او ځيرکه نجلۍ کولای شي تر توشك لاندې يو نخود وپېژني.

پادشاه او ملکې خپل زوی خبر کړ چې يوه مناسبه نجلۍ يې ورته موندلې ده. هغه په خپلو پښو دې ماڼۍ ته راغلې ده. له هغې وروسته شهزاده له هغې نجلۍ سره واده وکړ. هغه نخود يې په مناسب ځای کې د يو يادګار په توګه کېښود او کله به يې چې هغې ته کتل، هغه باراني شپه به يې يادېدله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

بلبل او سورګل

په ټولو ختیځو اشعارو کې د بلبل او دګل د مینې خبرې کیږي، ځکه چې د شپې په توري تیاره کې سندر بول بلبل د خپل خوشبویه ګل لپاره سندرې وایي.

ما (ازمیر) ته په څېرمه پرتو لوړو سیمو کې، چې ښاروان پکې خپل اوښان مخکې کړي وو، یو سورګل ولید. وحشي کوترې د اسمانڅکو ونو په څانګو او ښاخونو کې لاندې باندې الوتلې او ښکې یې د سپینو زرو په څېر ځلېدې. کله به چې پرې د لمر وړانګې لګېدې نو د مرغلرو په څېر به بربښېدې.

د سورګل د بوټې په منځ کې یو ګل و، چې تر نورو ګلانو ډېر ښکلی و. یو بلبل د هغې تر څنګ ناست و او خپل خوږ او درد یې ورته غږولو. خو سورګل چوپ و. ان یو ځاځکی شبنم یې د خواخوږۍ د اوښکو په توګه له پاڼو څخه نه څڅېده. ګل د یوې تیږې په سینې پرېوتی و. سورګل وویل: ((هومر، د نړۍ تر ټولو ښه شاعر دلته ویده دی. زه خپل عطر ترې ځاروم او که توپان پاڼې پاڼې کړم، د هغه پرمخ یې شیندم. د نړۍ ستر سندربول دلته خاورې شوی او ما له دې خاورې څخه سر راپورته کړی دی. زه دهغه د قبر یو سورګل یم. داسې مغرور او ښکلی ګل چې تا بېوزلي بلبل ته نه غوړېږم.)) بلبل غمګین شو اودومره سندرې یې وویلې چې په ځمکې ولوېد او مړ شو.

یو سوداګر له اوښانو سره هلته ورسېد. د سوداګر کوچنی زوی مړ مرغه وموند او د ستر شاعر د مړي ترڅنګ یې ښخ کړ. باد سورګل وښوراوه. شپه راغله. سورګل خپلې پاڼې له ځانه راتاوې کړې چې تود شي. یوه ډله بهرنیان هلته راغلل. د هغوی په ډله کې د شمال یو شاعر و. هغه ګل وشکولو او د خپل کتاب په پاڼو کې یې کېښود او د نړۍ بلې

برخې، یعنې خپل هېواد ته یې یوړ. سور ګل له غم او کړاو څخه مړاوی شو او د کتاب د پاڼو په منځ کې ویده شو. کله چې هغه شاعر خپل هېواد ته ورسېد، کتاب یې پرانیست او ویې ویل: ((دا ګل مې د یو ستر شاعر له قبر څخه شکولی دی.))

سور ګل دا ټوله کیسه په خوب کې لیدلې وه. کله چې له خوب څخه پاڅېد، د یخ باد د لګېدو له امله یې یخني وشوه او له پاڼو څخه یې یو څاڅکی شبنم د شاعر په قبر ولوېد. کله چې لمر سهار خپل سر ځمکې ته راهسك کړ، سور ګل له پخوا څخه ډېر ښکلی برېښېده. توده ورځ وه او ګل په خپل تود هېواد، اسیا کې و. د پښو غږونه واورېدل شول. څو تنه بهرنیان هغې خوا ته راروان وو. د هغوی په منځ کې د شمالي سیمې یو شاعر و. هغه ګل وشکولو، مچې یې کړ او خپل هېواد ته یې یوړ.

ګل لکه مومیایي بدن د شاعر په کتاب کې پروت و. هر کله چې به شاعر خپل کتاب پرانیسته، ویل به یې: ((د سترشاعر د قبر ګل))، بس هغسې چې یې په خوب کې لیدلی و.

د متن لنډیز:

هانس کرستین اندرسن په یوې بېوزلې کورنۍ کې زېږېدلی دی. پلار یې موچي و. د کوچنیوالي او ځوانۍ عمر یې په ډېره تنګسه کې تېر کړی دی. نوموړی د خورا تېز فکر خاوند و. له ستونزو سره سره یې خپله هیله له لاسه ور نه کړه. د غندلو یوه منظومه یې ولیکله. دې منظومې د هغه بخت راویښ کړ او له دې لارې د خلکو په خولو کې ولوېد. اندرسن ډېرې کیسې او داستانونه ولیکل چې زیاتره برخه یې کوچنیانو ته لیکل شوې ده. اندرسن نه یوازې په ډنمارك کې چې د هغه اصلي ټاټوبی دی، مشهور دی، بلکې په نړۍ کې له سترو لیکوالو څخه ګڼل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

۱_ زده‌کوونکي دې لاندې پوښتنو ته ځوابونه ووايي:

- ایا تاسو تر دې دمخه د اندرسن کومه کیسه لوستې؟ که هو نو نوم يې واخلئ.
- د اندرسن د ماشومتوب او ځوانۍ عمر خنګه تېر شوی دی؟
- ایا د ژوند له ټولو ستونزو اوتنګسو سره سره یې خپله هیله له لاسه ورکړې وه؟
- ایا د اندرسن د ((شهزادګۍ اونخود)) کیسې درته خوند درکړ؟

۲- زده‌کوونکي دې په پورته لوست کې خاص نومونه په یو لست او عام نومونه په بل لست کې ولیکي او یو له بل سره دې مقابله کړي.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې هڅه وکړي، د خپلې تجربې له مخې او یا هم د مور او پلار په مرسته یوه کیسه ولیکي او په بله ورځ دې په ټولګي کې د نورو ترمخه ولولي.

یوازې هیله شرط نه دی، د هغې د لاسته راوړنې لپاره هڅه او هاند هم شرط دی.

هانس کرستين اندرسن

د مطالعې ارزښت

■ تاسو له مطالعې خوند اخلئ؟

په تېرو لوستونو کې مو د زده کړې په اړه یو څه ولوستل. دلته د مطالعې په اړه غږېږو. مطالعه لوستلو ته وايي. کېدای شي دا لوست د یو کتاب، یوې ورځپاڼې یا یوې مجلې متن وي، یوه کیسه وي یا بل کوم یو روزنیز مطلب. مطالعه نور ډولونه هم لري. لیدل او مشاهده کول هم د مطالعې برخه ده. انسان لکه څنګه چې د خپل بدن د ودې لپاره خوړو او ورزش ته اړتیا لري، همداسې د فکر او ذهن د ودې لپاره مطالعې ته اړتیا لري. دا مطالعه یوازې د ښوونځي او درسي کتابونو له لارې لاس ته نه راځي، بلکې انسان باید د ذهن د لا ودې لپاره په موضوع پورې اړوند نور کتابونه او لیکنې هم ولولي.

■ د مطالعې له لارې څه شی ترلاسه کولای شو؟

■ مطالعه زموږ د ژوند لپاره څه ارزښت لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

مطالعه یوازې په کتاب پورې محدوده نه ده. دکتابونو او لیکل شو و متنونو د لوستلو تر څنګ د خپل چاپېریال او په هغې کې د پرتو شیانو په هکله سوچ کول هم د مطالعې یوه برخه ده. د بېلګې په توګه، غرونه، سیندونه، سمندرونه، ځنګلونه، طبیعي منظرې، لمر، سپوږمۍ او ستوري او داسې نور شیان زموږ شاوخوا ته پراته دي. په دې هکله سوچ کول چې دا ټول د انسان د ګټې او خدایي نظام د ټینګښت په موخه رامنځته شوي او هر یو زموږ په ژوند مستقیمې او یا غیر مستقیمې اغېزې لري. که په دوی کې یو یا ټول نه وای، څه به پېښ شوي وای او زموږ پر ژوند به یې څه ډول اغېزه کړې وای.

مطالعه یو مهارت او وړتیا ده او د مینې له لارې په انسانانو کې پیدا کېږي. د نړۍ ټولو پوهانو او لیکوالو، نوښتګرانو (مخترعین) اونورو د خپلې ژورې مطالعې له لارې ناپېژندل شوې او تر ځمکې لاندې پټې خزانې او سرچینې د بشر د خدمت لپاره چمتو کړې دي.

په ورځپاڼو، مجلو او نورو مهالنیو خپرونو کې ګډون او د هغو لوستل سړی په هېواد کې دننه او له هېواده بهر له ورځنیو پېښو څخه خبروي. د ناولونو، کیسو او داستانونو لوستل د انسان فکري ځواك غښتلی کوي. د دیني او مذهبي کتابونو لوستل او مطالعه سړی له دیني موضوعاتو سره اشنا کوي. د رادیو او تلویزیون د روزنیزو او علمي خپرونو اورېدل او لیدل سړی په فکري لحاظ بډایوي. د تفریحي فلمونو ننداره د سړي دماغ پیاوړی کوي او ستړیا یې له منځه وړي.

د مطالعې د هر اړخیزو ګټو په پام کې نیولو سره باید موږ خپل وخت وزګار تېر نه کړو. تل مو کتاب په لاس کې وي. هرځای چې وي، ددې وخت لرو چې کتاب ولولو، د خپل شاوخوا په هکله فکر وکړو او د هر څیز په باره کې له ځان څخه پوښتنې وکړو. وخت لکه سره زر دی اوهیڅوك سره زر وړیا له لاسه نه ورکوي. مطالعه ټاکلی ځای او وخت نه لري. په هر وخت او هرځای کې کولی شو، یو څه شی ولولو. که سرویس ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

سترګې په لار واوسو، که په موټر کې واوسو، که په کور کې واوسو یا بل هر ځای، د مطالعې لپاره وخت او فرصت لرو، باید له لاسه یې ورنه کړو. یوازې هغه مهال چې له انسان سره پاتې کېږي، هغه د مطالعې مهال دی او بس.

مطالعه او لوست هم د ژوند د مهمو موضوعګانو په څېر ټینګ هوډ او عزم ته اړتیا لري. د دې کار لپاره باید خپل کارونه ښه پلان کړو او مطالعې ته زیات وخت ورکړو. دا یو حقیقت دی، موږ هغه کارونه ښه سرته رسولای شو چې مینه ورسره ولرو.

په لوست او مطالعې کې باید خپل حواس په کار واچوو. په تیره بیا غوږ او سترګې د موضوعګانو په درک کې ځانګړی ارزښت لري. د اورېدو له لارې کولای شو د لوست مفهوم پیدا کړو. ښه به دا وي چې د فورمولونو او لغاتو د یادولو پر ځای د هغوی شکل او بڼې حافظې ته وسپارو او محتوا یې په یاد کړو.

د متن لنډیز:

مطالعه د انسان ذهن پیاوړی کوي. هغسې چې ورزش بدن پیاوړی کوي، هغه شان مطالعه د انسان ذهن او فکر پیاوړی کوي. هرکتاب، مجله یا د لوستلو بل کوم څیز چې په هرځای او هر وخت کې په لاس راغلل، باید ویې لولو. وایي، هر کتاب په یو وار لوستلو ارزي. د ژوند ټولې علمي اړتیاوې په درسي کتابونو کې نشته. دا کتابونه تاسو ته د زده کړې لارې چارې درښیي او همدغه لارې دي چې تاسې پرې خپله پوهه له نورو کتابونو څخه تر لاسه کوئ. باید تل مطالعه وکړو او یوه شېبه هم بېکاره تېره نه کړو. درسي کتابونه لکه د څراغ په څېر دي او موږ ته نور ګټور کتابونه ښیي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې د لاندې پوښتنو تشریحي ځوابونه ووايي:

- ايا د مطالعې لپاره ټاکلی وخت او ځای شته؟ بيان يې کړئ
- ايا له مطالعې پرته انسان خپله پوهه پراخولی شي؟ څنګه؟ بيان يې کړئ.

۲ـ د لاندې جملو خالي ځايونه په مناسبو کلمو پر پنسل ډک کړئ:

- مطالعه يو مهارت او .... ده.
- .... د انسان فکر او ذهن پیاوړی کړي.
- هر کتاب يو وار په .... ارزي.

۳ـ پنځه تنه زده کوونکي دې د مطالعې په اړه دوې، دوې دقيقې خبرې وکړي او نور زده کوونکي دې ترينه د موضوع په اړه پوښتنې وکړي.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په خپل کورکې د مطالعې لپاره د کور د غړو په مرسته يو کتاب يا مجله يا کومه ورځپاڼه وټاکي او په بله ورځ دې نورو زده کوونکو ته د هغه د مطالعې د ګټو په اړه خبرې وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نولسم لوست

د یووالي ګټه

■ تاسې د یووالي په خوند پوهیږئ؟

د یووالي او اتفاق په اړه مو په تېرو ټولګیو کې یادونه کړې ده. دلته په لنډ ډول یوه کیسه چې پکې په عملي ډول د یووالي خوند نغښتی دی، لولو. یووالی له کورنۍ نه نیولې تر یو هېواده ډېر ضروري دی. څنګه چې یوه وړه کورنۍ د بې اتفاقۍ له کبله خرابېږي همدارنګه یو هېواد هم د خپلو وګړو له بې اتفاقۍ څخه ډېر زیان مومي.

■ تاسو د یووالي د ارزښت په اړه څه معلومات لرئ؟

■ د یووالي ګټه څه ده؟

وايي، يوه ورځ د کوترو يو سېل راغی او په يوې کروندې کې کښېناستې. هلته د غنمو داني پرتې وې. يوې کوترې ولېدلې، ورو الوته، دانو ته کښېناسته او په ټولولو يې پيل وکړ. نورې کوترې هم ورپسې ورغلې او په دانو ټولولو لګيا شوې. کله چې په دانو مړې شوې، د الوتلو تکل يې وکړ. ټو کوترې په دام کې نښتې وې، وانه الوتلای شوې. هرې يوې شتنکې وهلې چې ځان خلاص کړي، خو څه يې لاس ته رانغلل.

په دوی کې يوه هوښياره کوتره وه، ويې ويل: ((هغه وخت چې موږ دا خوندورې دانې لېدلې وې، بايد فکر مو کړی وای چې دا دانې چا او د څه لپاره اچولې دي. که مو فکر کړی وای په دې کړاو به اخته شوې نه وو. اوس هم بايد يو فکر وکړو، کېدای شي ځانونه خلاص کړو. لږه دمه وکړئ، کله چې ما وويل نو ټولې په يو دم له ځايه پورته شئ.))

ښکاري چې لږ څه وړاندې ناست و، ويې ليدل چې کوترې په دام کې نښتې دي، ورمنډه يې کړه. په دې وخت کې هغې هوښيارې کوترې د پورته کېدو امر وکړ. ټولې يو دم له ځمکې پورته شوې. دام يې له ځان سره په هوا کړ او لاړې.

ښکاري چې دا حال وليد د کوترو په لور يې ورمنډه کړه. لږه شېبه وروسته يې کوترې له سترګو پنا شوې. د ښکاري تمه پرې شوه او سترې ستومانه راستون شو.

د متن لنډيز:

کوترې وږې وې. د دانو خوړلو لپاره په يوې کروندې کې کښېناستې. په دانو خوړلو يې پيل وکړ. خبرې نه وې چې ښکاري ورته دام ايښی و. دانې يې ټولې کړې، مړې شوې، غوښتل يې چې والوزي. يو ځو کوترې والوتې، خو نورې په دام کې نښتې وې. په پاتې شوو کوترو کې يوه هوښياره کوتره وه. يوه لاره يې وسنجوله. ټولو ورسره ومنله. په يو غږ والوتې. دام يې له ځان سره په هوا او ځانونه يې د ښکاري له منګولو څخه وژغورل. دا د يووالي او اتفاق برکت و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څرګندونه

سپل: د مرغیو، کوترو یا نورو الوتونکو لویې ډلې ته سپل وايي چې په هوا کې له یو ځای څخه بل ځای ته ځي.

شتنکې: د لاس او پښو وهلو حالت ته شتنکې ویل کیږي.

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې لاندې پوښتنو ته ځوابونه ووايي:

- کوترې ولې کروندې ته راکښته شوې؟
- هلته یې اینبودل شوی دام ولې نه و لیدلی؟
- له دانوخوړلو وروسته یې څه وکړل؟
- ستاسو په اند له اسارت څخه د یو راوتلي ازاد ولس د بري راز په څه شي کې نغښتی دی؟
- خنګه کولای شو یو موټی او پرمختللی هېواد ولرو؟

۲ـ د لاندې هرې پوښتنې لپاره درې، درې ځوابونه درکړل شوي. تاسو یې تر ټولو سم ځواب په نښه کړئ:

- کوترې چېرته کښېناستې؟

الف: په باغ کې

ب: د ونو په ځنګل کې

ج: په کروندې کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

- کوترې ولې وانه الوتلې؟

الف: ټولې ترلې وې.

ب : په دام کې نښتې وې.

ج : ښکاري نیولې وې.

- کوترې د څه شي په برکت د ښکاري له لاسه و وتې؟

الف: د ډېر مرښت په برکت

ب : د الوتلو په برکت

ج : د یو والي او اتفاق په برکت

۳ــ د زده کوونکو یوه ډله دې په پورته متن کې عام نومونه پیدا او ودې لیکي. بله ډله دې په پورته متن کې د (ی) ډولونه په ګوته کړي. دواړه ډلې دې له ټولو زده کوونکو سره په خپلو لاس ته راوړنو خبرې وکړي.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په خپل کلي، کور او ښار کې د اتفاق او یو والي کومه کیسه سبا ته په ټولګي کې واوروي. ښه به وي که په دې اړه په خپل کور کې له مور او پلار او خپلوانو څخه پوښتنې وکړي.

له یوه لاسه ټک نه خېژي.

شلم لوست

د سبو ګټې: ورځنۍ اړتیا

■ تاسو کوم ډول سابه زیات خورئ؟

سابه د انسان د بدن د پیاوړتیا لپاره ډېر ارزښت لري. په سبو کې داسې ویټامینونه او معدني مالګې شته چې په نورو خوړو او ان په میوو کې نشته. ددې لپاره چې بدن مو له هر راز موادو څخه برخمن شي، باید په خپلو ورځنیو خوړو کې هرومرو سابه ولرو. هغه کورنۍ چې له سبو څخه ډېره ګټه اخلي، د هغو کورنیو په پرتله د ښې روغتیا خاوندې وي چې له سبو څخه هغومره ګټه نه اخلي.

■ تاسو د سبو ګټې پېژنئ؟

■ له سبو خوړلو پرته د انسان بدن په بشپړ ډول وده کولای شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

انسانان، څاروي، الوتونکي او په پای کې ټول ژوندي موجودات د خپل پاینښت او ودې لپاره اوبو او خوړو ته اړتیا لري. څاروي او الوتونکي هغه شی خوري چې وېږې مومي. انسانان بیا هغه شیان خوري چې د بدن د ودې او سلامتیا لپاره یې ګټور وي.

د انسان بدن د وینې، هډوکو، غړو، غوښې، پوستکي او نورو د ودې او لوېدو لپاره ځانګړو موادو او خوړو ته اړ دی. د بېلګې په توګه پروتین،کاربوهایدریت، شحم، منرالونه، ویټامینونه او نور هر یو په خپل وار د انسان د بدن په ودې، غښتلتوب، ذهني پراختیا، د هډوکو په جوړښت او نورو کې ستره برخه لري. دا مواد ټول د خوړو په یو جزء کې نشته. باید د هغوی د ترلاسه کولو لپاره بېلا بېل خواړه وخوړل شي. د بېلګې په توګه پروتین په غوښه، شېدو اوهګیو او غلو دانو، لکه لوبیا او نورو کې شته. په خوړو کې د کاربوهایدریت شتون د بدن د تودوخې او ځواك د راپیدا کېدو لامل کېږي. ټول خواړه بدن ته طاقت ورکوي، خو د ځینو شیانوخوړل د بدن طاقت ډېر زیاتوي.

کاربوهایدریت لوړه ډېر ژر پای ته رسوي. کاربوهایدریت په جوارو، وریجو، دال، کچالو، چوغندرو، ګنیو، کېلو، منو اونورو کې په زیاته اندازه پیداکېږي. هغه خواړه چې کلسیم لري، د هډوکو په جوړولو کې مرسته کوي. دې ډول توکو ته معدني توکي وايي. همدا راز ویټامینونه د بدن د غړو په ودې او د بدن د عمومي موازنې په ساتلو کې زیات ارزښت لري. ویټامینونه په مېوو او سبو کې پیداکېږي.

سابه زیاتره داسې توکي لري چې د بدن د ودې او پراختیا لپاره تر ټولو نورو خوړو ګټور او بډای دي. د بېلګې په توګه په سبو کې ډېر معدني مواد شته. همدا راز هغه مواد چې په ټېپرو، کاهو، کدو او ګازرو کې شته، د خوړو په نورو توکو کې نه موندل کېږي. له دې امله هر راز خواړه باید هرومرو په خپل وخت او موسم کې وخوړل شي.

که پام موکړی وي، د کلو او بانډو اوسیدونکي تر ښاري اوسیدونکو زیات روغمن او په پرتلیز ډول د اوږده عمر خاوندان وي. ددې لامل دا دی چې هغوی زیاتره سابه خوري.

ځیني سابه اومه خوړل کېږي، خو ځینې نور یې بیا پخولو ته اړتیا لري. د سبو اوبه باید د پخولو پر مهال تویې نه شي، ځکه کېدای شي ټول ګټور توکي یې له منځه لاړ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خام سابه باید تر خوړلو د مخه ښه پاك شي، د پتاسو په محلول کې پرېمنځل شي او یا لږ تر لږه د لس، پنځلسو دقیقو لپاره په مالګینو پاکو اوبو کې واچول شي. ګندنه، دنیا، پیاز او نور چې خام خوړل کیږي، باید هیڅکله ناپاکه ونه خوړل شي. د امکان تر حده پورې باید پر دسترخوان د نورو خوړو ترڅنګ د سبو یو ډول موجود وي چې په نورو خوړو کې له شتو توکو سره یوځای د بدن د اړتیا وړ توکي پوره کړي.

ځینې سابه د خپل ارزښت له مخې په خپل موسم کې وچېږي او بیا په هغه موسم کې خوړل کېږي چې نه پیداکېږي. په دې سبو کې شوتل، شپیشته، بینډۍ، د بادرنګو پوستکي، پیاز او رومي بانجان (باټینګر) راځي.

د متن لنډیز:

په سبوکې ډېرې ګټې پرتې دي. سابه بېلابېل ډولونه لري. د معدني موادو له مخې سابه تر نورو خوړو ډېر بډای وي. په هر موسم کې بېلا بېل سابه پیداکیږي. له دې امله هر راز خواړه باید هرومرو په خپل وخت او موسم کې وخوړل شي. همدا راز هغه مواد چې په تېپیرو، کاهو، کدو او ګازرو کې شته، د خوړو په نورو توکو کې نه موندل کیږي. هغه سابه چې پخېږي، باید د پخولو پر مهال یې اوبه تویې نه شي. همدا راز هغه سابه باید ښه پرېمینځل شي چې خام خوړل کیږي . په خپلو ورځنیو خوړو کې باید د شونتیا ترکچې پورې هرو مرو سابه ورګډکړو.

فعالیتونه

۱ــ زده کوونکي دې د لاندې پوښتنوځواب ووایي:

- مو ږ ولې سابه خورو ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د سبو نه خوراك د څه شي لامل كيږي؟
- هغه سابه چې خام خوړل كيږي، ولې ډېرو پرېمنځلو ته اړتيا لري؟

۲_ زده كوونكي دې ځواب ووايي:

- دا سمه ده چې وو ايو، دا سابه مې خوښېږي او هغه نه؟
- كه يو څوك په يو موسم كې د هغه موسم سابه ونه خوري، څه تاوان به يې كړى وي؟
- د سبو څو ډولونه پېژنئ؟

۳_ زده كوونكي دې په درېو ډلو وويشل شي:

- لومړۍ ډله دې په پورته لوست كې خاص نومونه پيدا او ودې ليكي.
- دويمه ډله دې په پورته لوست كې كارول شوي عام نومونه پيدا او هغه دې وليكي.
- درېمه ډله دې په كلمو كې بېلا بېلې (ی ګانې) پيدا او د هرې ډلې كلمې دې په ترتيب سره بېلې بېلې وليكي.

۴_ زده كوونكي دې د لاندې جملو خالي ځايونه په مناسبو كلمو پر پنسل ډك كړي:

- د .... اوبه بايد د پخولو پر مهال تويې نه شي.
- خام سابه بايد لږ تر لږه د شلو دقيقو لپاره په .... پاكو اوبو كې واچول شي.
- په سبو كې ډېر .... مواد شته.

كورنۍ دنده

زده كوونكي دې د خپلو ميندو په مرسته د سبو د ګټو په اړه معلومات راټول او په يو څو كرښو كې دې وليكي. همدا شان پام دې وكړي چې هغوى زياتره كوم سابه پخوي. خپل معلومات دې سبا ته په ټولګي كې ولولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو ویشتم لوست

چاپیریال څنګه وساتو؟



- تاسو چاپېریال پېژنئ؟

زده کوونکي باید خپل چاپېریال د خپل تاتوبي په توګه وپېژني. د رغنده او سمبال ژوند لپاره دي هغه ته پوره پام وکړي. خپله روغتیا، بدني وده او ښکلا دي په هغه کې وګوري. د هغه په ساتنه کې دي له زړه نه هڅه وکړي. هرڅوك باید د چاپېریال په پاك ساتنه کې خپله ونډه سرته ورسوي. دا ونه وایي چې په ما یې څه. دا په ما پورې اړه نه لري.

- که چاپېریال پاك ونه ساتل شي، څه به پېښ شي؟
- د چاپېریال د پاك ساتلو دنده د چا پر غاړه ده؟
- چاپېریال څنګه ښکلی کېږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټول هغه شیان چې زموږ شاوخوا ته پراته دي او یا یې زموږ شاوخوا نیولې ده، چاپېریال بلل کیږي. په ځانګړې معنا چاپېریال د انسان د استوګنې ور توکي، شیان او شاوخوا ځمکه او په هغې کې پراته ټول شیان دي. په عمومي معنا، چاپېریال ټوله هغه سیمه ده چې انسانان پکې اوسیږي. په دې توګه غرونه، سیندونه، ځنګلونه، کرنیزې ځمکې، دښتې د طبیعت او د بشر په لاس راغلي بدلونونه په چاپیریال کې راځي.

په دې ډول یو ته د ژوند یا استوګنې چاپېریال او بل ته عمومي چاپېریال ویل کیږي.

د استوګنې په چاپېریال کې بیا یوه کورنۍ، د هغې ګاونډ او په هغې پورې اړوند شیان شامل دي. موږ په چاپېریال کې ژوند کوو، سا پکې اخلو، د ژوند اړتیاوې ترې برابروو او د هغه پاکي او ناپاکي مو پر روغتیا باندې نېغ په نېغه اغېزه لري. له دې امله زموږ د ټولو دنده او ټینګ مسؤولیت دی چې خپل چاپېریال ښکلی کړو، پاک یې وساتو او د یوه ښه او خوانړه ژوند لپاره یې چمتو کړو. که د کورونو تر څنګ مو د اوبو ویالې بهیږي، باید له اوبو څخه یې د ښېنلو او کارولو لپاره سمه ګټه واخلو. خځلې او ناپاکي پکې ونه غورځوو که مېوه لرونکې یا سیوري لرونکې ونې مو شاوخوا ولاړې وي، باید پالنه یې وکړو او ښاخونه یې پرې نه کړو. د کور خځلې او د خوړو پاتې شونې هرځای ونه غورځوو او په یوه سم ځای کې یې ځای پر ځای او یا یې تر خاورو لاندې کړو. د خپلو کورونو د ټټیو مخې بندې کړو او پرې نه ږدو چې انساني فضله مواد کوڅو او لارو ته راووځي. د کورونو تر څنګ داسې شیان ونه سوځوو چې هوا یې خرابه شي. د ولاړو اوبو ډنډونه له منځه یوسو، چې د ډول ډول ناروغیو، په تېره د ملاریا او کالداني د ماشو د راپیداکېدو او ډېروالي لامل کیږي. په همدې توګه د سیمې د سمسورتیا لپاره د نیالګیو په کرلو او د باغونو، تفریح ځایونو او چمنونو په جوړولو، خپله سیمه لا ښایسته او ښکلې کړو.

ځنګلونه، څرځایونه، کرنیزې ځمکې او سیندونه زموږ د ژوند د پایښت لپاره ډېر ارزښت لري. باید په ساتنه او څارنه کې یې هر راز هلې ځلې وکړو. د ځمکې د ښوېدو د مخنیوي او ورېښت لپاره ځنګلونه ډېر ارزښت لري. د بادونو د مخنیوي او له یوه ځایه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل ځای ته د شگو د لیږدوني د مخنیوي لپاره د ونو او ځنگلونو جوړول ډېر اړین دي.

د متن لنډیز:

زموږ د استوگنې شاوخوا ته چاپېریال وايي. کور، کوڅه، سړك، باغ، ویالې، ونې، ځنگلونه او داسې ډېر نور د چاپېریال برخې دي. په چاپېریال کې موجود شیان د یو نسل مال نه دی، بلکې له هغو څخه باید راتلونکي نسلونه هم گټه واخلي. له دې امله باید دچاپېریال په ساتلو کې ډېرې هلې ځلې وکړو. د سیمې د سمسورتیا لپاره د نیالگیو په کرلو او د باغونو، تفریح ځایونو او چمنونو په جوړولو خپله سیمه لا ښایسته او ښکلې کړو.

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې لاندې جملې سمې کړي:

- د چاپېریال استوگنې زموږ شاوخوا ته وايي.
- ښکلې لا ښایسته خپله او سیمه کړو.
- ښکلی څنگه چاپېریال کېږي؟

۲ـ زده کوونکي دې لاندې پوښتنو ته ځواب ووايي:

- چاپېریال څه شي ته وايي؟
- په چاپېریال کې کوم شیان راځي؟
- چاپېریال د یو نسل مال دی، که د ډېرو؟ څرگنده یې کړئ.

۳ـ زده کوونکي دې یو په یو په متن کې راغلي نوي لغتونه دکتاب د پای له پانو څخه معنا او په جملو کې دې یې وکاروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴ـ د لاندې عبارتونو په مرسته نوې جملې جوړې کړئ.

دکلو او بانډو طبیعت

پاکي او رڼې اوبه

شنې او سمسورې ونې

۵ـ دوه شعرونه يا داسې ښکلې ادبي جملې وليکئ چې په يو کې د لمر او په بل کې يې د اوبو په هکله خبرې شوې وي.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د خپل استوګنې د چاپېريال د لا ښکلا او ښايست لپاره د خپلې خوښې يوه طرحه جوړه او په بله ورځ دې پرې د نورو زده کوونکو په وړاندې خبرې وکړي.

زده کوونکي دې لاندې جدول په کتابچه کې وليکي، د چاپېريال کلمه پيدا او په خپله خوښه دې رنګه کړي.

ا	ج	k	k	د	ر
چ	ب	k	k	و	ل
ا	پ	ی	ر	ي	ا
ط	ع	ب	ل	ن	ط
خ	ا	س	م	و	ع

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه ویشتم لوست

ژبه اوگرامر

- ژبه څه شی ده؟

انسانان د ژوند له هماغه لومړي پیل څخه د یو بل د پوهولو راپوهولو لپاره ژبې ته اړ وو. هغوی اړ وو چې خپل فکر یو بل ته انتقال کړي او د بل په فکر باندې ځانونه وپوهوي. ځکه یوازې د لاس او سر په اشارو د انسان فکر په بشپړ ډول بل چاته نه رسیږي. له دې امله ژبه د خپل ارزښت له مخې د انسان په ژوند کې خورا مهم رول لري. ژبه ده چې انسان پرې خپل فکر او نظر بیانوي. خپل مطلب اوغوښتنې یو بل ته وایي او همدا شان د نورو په غوښتنو پوهیږي. ژبه انسانان له ځارویو څخه بېلوي.

- که ژبه نه وای څه به پېښ شوي وای؟
- له ژبې پرته انسان اوسني پرمختګ ته رسېدای شو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغو کلمو او خبرو ټولګې ته ژبه ویل کیږي چې یو څوك یې بل چا ته د خپل فکر د بیان لپاره کاروي. په دې کې ټولې نښې او اشارې هم راځي چې د یو مطلب د افادې لپاره کارول کیږي.

ژبپوهان ژبه د خبرو او اشارو داسې یوه لړۍ بولي چې د یوې ټولنې وګړي یې یو له بله د پوهولو او راپوهولو لپاره کاروي او یو بل ته یې اوروي. په دې توګه ژبه د انسانانو ترمنځ د پوهولو راپوهولو یوه اله او وسیله ګرځي. وینا او خبرې کول د افکارو د څرګندولو ډېره ښه وسیله ده او له دې امله انسانان پر نورو حیواناتو امتیاز لري.

ټولې قاعدې او قوانین چې د یوې ژبې د سم ویلو او سم لیکلو په اړه خبرې کوي، د ژبې ګرامر ورته ویل کیږي.

ګرامر د یوې ژبې جوړښت د ژبې د خپلو ځانګړنو په رڼا کې څېړي. هره ژبه ځانته ګرامري قوانین او لارې چارې لري، نو ځکه د ژبې د ګرامر په لیکنه کې خپله د هماغه ژبې قواعد او اساسات غوره ګڼل کېږي.

معرفة الافغاني یو درسي ګرامر دی. پیرمحمد کاکړ دغه ګرامر په احمد شاهي دور کې لیکلی دی. پیر محمد کاکړ د پښتنو له لومړنیو لیکوالانو څخه دی چې د پښتو ژبې د لغاتو او کلمو د ټولولو فکر یې وکړ او د ژبې ابتدایي ګرامري بنې یې سره راغونډې کړې او د یوې کوچنۍ رسالې په ډول یې ولیکلې چې د ((معرفة الافغاني)) په نامه یادیږي.

پیر محمد کاکړ د احمد شاه بابا د زوی شهزاده سلېمان او د کورنۍ د نورو غړو استاد و. د معرفة الافغاني په نامه د پښتو ژبې دغه لومړنی ګرامر یې د هغه لپاره ولیکه.

پیر محمد کاکړ د خپل وخت لوی عالم او د پښتو ژبې مشهور شاعر و چې د پښتو اشعارو دیوان یې چاپ شوی دی.

د متن لنډيز

ژبه د انسانانو ترمنځ د پوهولو راپوهولو وسيله ده. انسانان خپل فکر د ژبې په واسطه بيانوي. ژبه چې د انسان فکر بيانوي، له يو لړ غږونو، نښو او اشارو څخه جوړه شوې. د ببلګې په توګه د مېز نوم دراخلئ. کله چې د مېز کلمه واورېدل شي، سمدستي ستاسو ذهن ته د ميز انځور ودرېږي. د مېز کلمه د مېز له جوړېدو دمخه نه وه، بلکې کله چې مېز جوړ شو، خلکو ورته د مېز نوم ورکړ او ټولو ومانه.

فعاليتونه

۱ـ زده کوونکي دې ځوابونه ووايي:

- ستاسو په اند ژبه د انسانانو تر منځ په پوهولو راپوهولو کې څومره ارزښت لري؟

- که ژبه نه وای انسانان به له کومو ستونزو سره مخامخ وو؟

۲ـ د لاندې جملو په خالي ځايونو کې اړوندې کلمې پر پنسل وليکئ:

- هره .... ځانته ګرامري قوانين او لارې چارې لري.
- .... يو درسي ګرامر دی.
- وينا او خبرې کول د .... د څرګندولو ډېره ښه وسيله ده.

۳ـ لاندې هرې پوښتنې ته درې ځوابونه ورکړل شوي، تاسو ترټولو سم ځواب په نښه کړئ:

انسانان له هماغه لومړي پيل څخه څه شي ته اړ وو؟

- له ختو جوړو شوو کورونو ته؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

- لاس ګاډو او ښاروبو ته؟
- پوهولو راپوهولو ته؟

ګرامر د یوې ژبې څه شی ترکتنې لاندې نیسي؟

- د یوې ژبې د جوړښت سیستم،
- د یوې ژبې د ویلو او اورولو غږنګوالی،
- د یوې ژبې د نوو کلمو شمېره.

انسان خپل ذهني انځور په څه شي بیانوي؟

- د ګوتو په اشارو،
- په ژبې او بیان،
- په سمو اورېدلو.

۴ـ زده کوونکي دې په درېو ډلو وویشل شي:

- لومړۍ ډله دې په پورته لوست کې خاص نومونه پیدا او ودې یې لیکي.
- دویمه ډله دې په پورته لوست کې کارول شوي عام نومونه پیدا او ودې یې لیکي.
- درېمه ډله دې په کلمو کې بېلا بېلې (ی ګانې) پیدا او د هرې ډلې کلمې دې په ترتیب سره بېلې بېلې ولیکي.

کورنۍ دنده

که د چا یوه ژبه زده او د چا له یوې ژبې څخه ډېرې زده وي، د دوی ترمنځ توپیر څه دی. زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې په دې اړه څو کرښې په کور کې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نشې زیانونه



■ نشه پر ژوند څه اغېز کوي؟

نشه یو تباه کوونکی عمل دی. نشه چې په هر نامه وي او هرڅومره لږه او ساده وي، خو پای یې خورا ناوره دی. که یو ځلې څوك په نشه اخته شو، بیا نو په ډېر کړاو ترې سړی خلاصېدای شي. زیاتره ځوانان په بېلابېلو پلمو په نشې روږدي کېږي. کله ورته په پیل کې نشه یو عادي او د لوبو کار بریښي. کله د میندو او پلرونو ترمنځ چال چلن سم نه وي او په دې توګه یو ځوان نشې ته مخه کوي. کله هم د یوې کورنۍ اقتصادي کچه کمزورې وي. داسې ډېر نور لاملونه شته چې په نشې باندې د روږدي کېدو سبب کېږي.

■ ستاسو په اند به د یو نشه یي ځوان ژوند څنګه وي؟

■ څنګه کولای شئ په خپل چم اوګاوندکې په نشې باندې د ځوانانو د اخته کېدو مخه ونیسئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

نشه يي توکي هغه دي چې کارونه يې د مرکزي اعصابو د نظام دګډوډۍ او د روږديوالي، لتۍ او ګنګستيا لامل کيږي.

نشه يي توکي هم په طبيعي او هم په مصنوعي توګه پيدا کېږي، لکه اپين چې د کوکنارو له بوټي څخه لاس ته راځي او هم په مصنوعي او کيمياوي توګه په لابراتوارونو کې جوړيږي، لکه هيرويين، مورفين، کوکايين، کودين او داسې نور. په نشه يي توکو کې ځينې يې طبي ارزښت لري او د ځينو درملو په جوړونه کې په لږه کچه ترې کار اخيستل کيږي. هغه درمل چې په جوړښت کې يې نشه يي توکي کارول کيږي. که په لوړه کچه استعمال شي او يا د ډاکتر له اجازې پرته ترې ګټه واخيستل شي خورا زيات زيانونه را منځ ته کوي.

د نشه يي توکو استعمال او کارول خصوصاً د پېچکارۍ له لارې د انسان روغتيا ته ډير زيانمن او خطرناك دي. پر ځينو روغتيايي زيانونو سربيره په بېلا بېلو سرطانونو، زيړي او ځېنو نورو ناروغيو انسان اخته کوي. د يو شمېر اقتصادي او ټولنيزو ستونزو لکه قتل، غلا، بيوزلي، ناوړه اخلاقو او د بشري پانګو د تباهۍ لامل هم ګرځي.

د اسلام پاك دين نشه يي توکي ناروا ګڼي ځکه چې د انسان روغتيا ته خورا زيات زيانونه لري او انساني ټولنه له تباهۍ سره مخامخ کوي. هغه کسان چې د دغو توکو په قاچاق لاس پورې کوي د انسانيت دښمنان بلل کيږي.

هغه کسان چې نشه يي توکي کاروي او ددغو توکو استعمال يې ورځنی عادت ګرځيدلی دی، د معتاد په نامه يادېږي. زموږ په ګران هيواد افغانستان کې هم له بده مرغه د ۱۸ ـ ۳۰ کلونو ترمنځ يو شمېر ډېر روږدي ځوانان شته، چې عام وګړي يې د پوډري (هيروييني) په نامه يادوي.

روږدي کسان په کورنۍ او ټولنه کې هيڅ قدر او ارزښت نه لري او له ټولنې څخه جلا شوي وي. خلك ورته د يو مجرم په سترګه ګوري. ځکه دوی هغه کسان دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د خپل ځان دښمنان او د ټولنې د اوږو بار دي. که چیرې ښه ځیر شو، نو جوته به شي، روږدي کسان هغه ناروغان دي چې له روږدیوالي څخه وراندې په یو ډول رواني ناروغۍ اخته وو او یا د ژوندانه په اوږدو کې له کورنیو، ټولنیزو یا اقتصادي ستونزو سره لاس و گریوان وو. دغه ستونزې ددې لامل گرځیدلي، چې دغه کسان د روږدیوالي په لومو کې را ښکیل شي. دا د ټولنې د وگړو، دولتي او نا دولتي موسساتو دنده ده چې ددغو ستونزو په هکله فکر او عملي گامونه اوچت کړي. له معتادانو سره هغه مرستې تر سره کړي چې د یو معتاد په درملنه کې اغېزمنې وي. د یو معتاد په درملنه کې مهم او غوره ټکي دادي چې نوموړي ته د یو ناروغ شخص په سترگه وکتل شي، نه د یو مجرم او گناهگارسړي په سترگه. که چیرې معتاد سړی ونه هڅول شي او ښه سلوك ورسره و نه شي، بې له شکه به هیڅکله هم خپل دغه ناوړه عمل پرې نږدي.

د نشه يي توکو زيانونه:

د نشه يي توکو استعمال خورا زيات ځاني، روحي، ټولنيز، اقتصادي او اخروي زيانونه لري چې موږ يې ځينو زيانونو ته په لاندې ډول گوته نيسو:

۱) د بدن دفاعي سيستم کمزوری کوي.
۲)د مرکزي اعصابو د سيستم فعاليتونه کمزوري کوي.
۳) د زړه ټکان زياتوي.
۴) د ستوني او سږو سرطان پيدا کوي.
۵) د باصرې، شامې او ذايقې حسونه کمزوري کوي.
۶) د وينې فشار زياتوي.
۷) د وينې کلسترول زياتوي.
۸) د زړه د ناڅاپي دريدلو (سکتې) لامل کيږي.
۹) په معتاد سړي کې لتي او کمزورتيا را منځته کوي.
۱۰) په تنفسي سيستم کې گډوډي رامنځته کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۱) روحي ګډوډي، (ستړیا، پرېشاني، ګوښه توب، په ځان باندې نه اعتماد، نهیلي...) راولي.

د متن لنډیز:

نشه يي توکي هغه خطرناك توکي دي چې د ځاني ناروغیو لکه: سرطان، نري رنځ، د زړه درېدل، زیړی او د اقتصادي او ټولنيزو ستونزو، لکه غلا، وژنې، بېوزلی او د بیکارۍ لامل کیږي. په هغې باندې اموخته کېدل ډېر اسانه دي، خو بیا ترې ځان خلاصول ډېر ستونزمن کار دی. ځوانان او تنکي ځوانان د توکو او ساعت تېرۍ په بهانه په نشه يي توکو باندې پیل کوي، خو کله چې د هغې په لومه کې ونښلي بیا نو پښېماني هیڅ ګټه نه لري. موږ باید خپل روغ، سالم او خوښ ژوند په نشو تباه نه کړو.

څرګندونه

باصره: د لیدلو حس

شامه: د بویولو حس

ذایقه: د څکلو (خوند حس)

کلسترول: په وینه کې د غوړو شتون

فعالیتونه

۱_ زده کوونکي دې د لاندې پوښتنو ځوابونه ووايي:

- د نشه يي توکو کارونه څه ډول زیانونه منځته راوړي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د نشه یي توکو روحي او ځاني زیانونه کوم دي؟
- په نشه روږدو کسانو ته په ټولنه کې په کومه سترګه کتل کېږي؟
- قاچاق وړونکي چا ته ویل کېږي؟

۲_ زده کوونکي دې:

- متن په پټه ولولي.
- متن ټوټې ټوټې په لوړ غږ ولولي.
- د لوست مفهوم په ساده ژبه ووایي.

۳_ زده کوونکي دې لاندې لغتونه معنا او په جملو کې وکاروي:

لامل، توکي، له بده مرغه، لومې، دنده، سربیره

۴_ ستاسو په اند په نشه یي توکو باندې د روږدي کیدو لاملونه څه شی دي؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د (نسوارو او چلم په ګډون) د بېلا بېلو نشه یي توکو نومونه او د هغوی زیانونه ولیکي او سبا ته دې په ټولګي کې ووایي.

> د خدای ﷻ په یاد د ایمان بنسټ پیاوړی کیږي.
>
> ابوریحان البیروني

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

لطفاً لاندي جدول په کتابچې کې رسم او د اړوندو ګڼو په کلمو یې ډک کړئ.



۱ـ د جرم سرته رسوونکی.

۲ـ هغه خوک چې په نشې روږدی شوی وي.

۳ـ نشه کوونکي ته کارول کیږي.

۴ـ د بدن یو غړی چې د نشه یي توکو په ډېرې کارونې له کاره لویږي.

۵ـ د نشه یي توکو په کارونې یې ژوند دې کچې ته رسیږي.

۶ـ هغه ناروغي چې د نشه یي توکو د کارونې له امله په انسان کې رامنځته کیږي.

۷ـ د نشه یي توکو د ډېرې کارونې له امله رامنځته کیږي.

۸ـ د نشه یي توکو د ډېرې کارونې له امله سړی داسې کیږي.

۹ـ د نشه یي توکو د کارونې له امله سړی دې کار ته لاس اچوي.

۱۰ـ د نشه یي توکو د کارونې موخه ده.

۱۱ـ کله چې په نشې روږدی سړی پیسې ونه لري، دې کار ته لاس اچوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلرويشتم لوست

د ماين خطرونه

د جګړې بدغوني پاتې شونې

■ تاسو ماينونه پېژنئ؟

د افغانستان د دېرش کلنې جګړې په اوږدو کې ښېلا بېلې پوځي وسلې کارول شوي، هوايي بمبارۍ شوې، راکټونه ويشتل شوي، ماينونه ايښودل شوي او د دښمن د کمزوري کولو او ماتولو لپاره له هر راز وسيلو څخه کار اخيستل شوی دی. د ۱۳۵۷ کال له پيل څخه تر اوسه پورې د ځمکنيو ماينونو بېلابېل ډولونه کرل شوي او په افغاني خاوره کې ازمايل شوي دي. سره له دې چې يو زيات شمېر يې پاك شوي، خو لا ډېر نور يې پاتې دي. که چيرته خلک پام ونه کړي، نو د معيوبيت او مرګ ژوبلې لامل کېږي.

■ ستاسو په سيمې کې ماينونه شته؟

■ د ماينونو له خطر څخه څنګه ځانونه ژغورلای شئ؟

افغانستان هغه هېواد دی چې زيات شمېر ماينونه او ناچاودې توکي پکې موجود دي. د اوږدو جګړو په بهير کې د ماينونو پريمانه کارونه د افغانستان د جګړو يوه ډېره ناوړه بېلګه ده. نن (۱۳۸۷ ل) د ماينونو او ناچاودو توکو له کبله هره مياشت د قربانيانو شمېره تر پنځوسو زياته وي.

ماينونه په عمومي توګه دوه ډوله دي:

- پرسونل ضد ماينونه
- د وسايطو ضد ماينونه

ماينونه هغه ځانګړي چاودېدونکي توکي دي چې له لرګيو، اوسپنې او پلاستيک څخه جوړ او دننه يې چاوديدونکي توکي اېښودل شوي دي. دا وسله د پښې يا د لاس په فشار چوي چې د انسان د ژوبلېدو او يا مرګ سبب کېږي. ماينونه بېلا بېلې بڼې او اندازې لري، د بېلګې په توګه د لوبو د شيانو په بڼه، د کوچنيو راديوګانو، د قلم، ساعت او نورو شيانو په بڼه جوړ شوي دي.

زياتره ماينونه د انسان د ټپي کولو او شل شوټولو په موخه جوړ شوي دي. دا يوه معموله پوځي وسله ده چې په پراخه کچه له لومړۍ نړيوالې جګړې راهيسې د ټولې نړۍ په ټولو جګړو کې کارول شوې ده.

ماينونه دکابل ښار په شاوخوا، ولايتي ښارونو او د هېواد په کليوالو سيمو او کروندو، څړځايونو، غرونو، غونډيو او پوځي چونيو ته څېرمه ځايونو کې ښخ شوي دي.

ناچاودي توکي

هغه مهمات چې د جګړې پر مهال چاودلي نه دي، د ناچاودو توکو په نامه يادېږي. په ناچاودو توکو کې راکټونه، هوايي بمونه، لاسي بمونه، د ټانک او بېلا بېلو ټوپکو ګولۍ او نور ناچاودي شيان راځي. د ناچاودو توکو مخنيوی اسان دی، ځکه هغه زياتره د ځمکې پر سر پراته وي، خو د ماينونو مخنيوی ډېر سخت دی، ځکه سړی نه پوهېږي چې ماين چېرته پټ دی. ماينونه د جګړې له پای ته رسېدو وروسته تر ډېرې مودې پورې پاتې کيږي. داسې هم کېدای شي چې دا ماينونه د هغه چا اولادونه، لمسيان اوکړوسيان ووژني، چې ښخ کړي يې وي.

د هغې ورځې په هيله چې په ګران هېواد افغانستان کې هيڅ ماين او ناچاودي توکي

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاتې نه شي او خلک په خوندي او ډاډمن زړه خپل کار ته دوام ورکړي.

دمتن لنډيز:

په افغانستان کې د اوږدې جګړې له امله ځمکني ماينونه اوناچاودي توکي په پرېمانه توګه پراته دي. غرونه، دښتې، کروندې، څړځايونه، د استوګنې ځايونه، پوځي قشلو ته څېرمه ځايونه او داسې نور له ماينونو او ناچاودو توکو ډک دي. ماينونه او ناچاودي توکي ډېر خطرناک وژونکي او ټپي کوونکي شيان دي. هغوی ته لاس مه وروړئ. موږ بايد نورو ته لارښوونه وکړو چې هغوی هم ناپېژندل شوو شيانو ته لاس ورنه وړي.

فعاليتونه

۱ـ زده کوونکي دې لاندې پوښتنو ته ځواب ووايي:

- ماينونه څه ډول شيان دي؟
- ماينونه او ناچاودي توکي چېرته ايښودل شوي دي؟
- ناچاودي توکي کومو شيانو ته ويل کېږي؟
- ماينونه څو ډوله دي؟ د هر يونوم واخلئ او دکاروني موخه يې بيان کړئ.

۲ـ زده کوونکي دې لاندې پوښتنوته تشريحي ځوابونه ووايي:

- د ماينونو له خطر څخه څنګه ځان ژغورلای شو؟
- که په يو ځای کې مو کوم ماين، ناچاودي توکي يا يونااشنا شی وليد، بايد څه وکړئ؟
- که چېرته د ماين سيمي ته ورننوتئ، څنګه بېرته راستنيږئ؟
- ايا کله مو هم د ماين له خطرونو څخه د خبرتيا په غونډه کې برخه اخيستې ده؟

که هو، نو څه مو زده کړي دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳_ زده کوونکي دې په بېلا بېلو جملو کې د ماين، ځمکني ماين، د وسايطو ضد ماين، بم، راکټ، سرګلوله، ګولۍ او نوروغندنه وکړي.

۴_ د جګړې زيانونه او د سولې ګټې وليکئ.

۵_ د لاندې کلمو ضد وليکئ:

سوکالي، سوله، خوښي، روغتيا، بندي

۶_ له لاندې درېو درکړ شويو ځوابونو څخه سم ځواب په نښه کړئ:

- ماينونه کله کارول کېږي؟

الف: د سولې پر مهال

ب: د تبليغاتو پر مهال

ج: د جګړې پر مهال

- که ماين يا بل ناآشنا شی مو وليد، څه کوئ؟

الف: له ځمکې يې پورته کوئ

ب: په لغته يې وهئ

ج: ګوتې نه وروړئ

- که د ماين سيمې ته ورننوتئ څنګه بېرته راګرځئ؟

الف: د خپلو پښو په پلونو پل ږدو او راستنېږو

ب: بېرته را منډه کوو

ج: همل‌ته پاتې کېږو

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د کور د غړو په مرسته د ماينونو او ناچاودو توکو په اړه نور معلومات هم ترلاسه کړي. د هغوی د زيانونو په اړه دې پنځه کرښې وليکي او سهار ته دې په ټولګي کې د نورو ترمخه ووايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځه ویشتم لوست

شاعر او سپوږمۍ

عبدالرؤف بېنوا د افغانستان له نومیالیو لیکوالو او شاعرانو څخه دی. په ۱۲۹۲هـ . ش. کال په کندهار کې زېږېدلی دی او په ۱۳۶۳هـ . ش. کال کې یې په پردېسی کې له نړۍ سترگې پټې کړې دي.

بېنوا په ۱۳۱۸هـ . ش . کال کې د پښتو ټولنې د علمي غړي په توگه په کار پیل او بیا یې تر مرینې پورې د مدیر، رئیس، د ولسي جرگې د غړي، وزیر او سفیر دندې تر سره کړې دي. زیات شمېر منظوم او منثور او څېړنیز اثار یې لیکلي دي.

د پښتو په معاصر شعر کې د استاد بېنوا نوم د پوره ځلا وړ دی. دلته یې د شاعر او سپوږمۍ په نوم یو شعر راوړو:

سپوږمۍ

د آسمان لویه دنیا کې
ته سپوږمۍ ښکلې زیبا یې
رنګ الوتې ګونه زرده
ته ویشتلې په زړه چاپې
جوړه ماغوندې غمجنه
څوک دې نشته یک تنها یې
خپل ښایست در پورې اور شو
که له یاره بېنوا یې
راته ووایه له مینې
څه در شوې نازنینې؟
لا لېانده سره ښورې
په شپه هر ځای کې ولاړه
محبت یو په زړه سوی
راشه کښېنو سره دواړه
زه به تاته زړګی تش کړم
ته و ماته لاس تر غاړه
غم د مینې به نیمی کړو
په یوازې سر مه ژاړه
ښایسته یې ګلالۍ یې
د آسمان پیغله نجلۍ یې
لکه اوس چې یې پخواهم
د مینو هر ځای مله وې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوار مجنون که پر سارا و
ته هم سمه ورسره وې
د شیرینې حال دې ولید
د فرهاد په غم کې ته وې
چې به راز د سینې خپور و
د هغه مجلس ډیوه وې
مقتولان د عشق لیدل تا
په ورو ورو به پرې ژړل تا
په اوبو کې سره رېږدې
ښایسته دې په تا غرونه
ستا رڼا ته هوسېږي
د رېدي ښکلي ګلونه
د زلمو زړه ته ورتېره
خوښ په تا د نجونو زړونه
ستا په ښو شغلو کې غواړي
مینان خپل امیدونه
وفاداره معشوقه یې
د عاشق د زړه ټوټه یې
د مجروح مین زړګی یې
سپوږمۍ ښکارې وجهان ته
د همزولو له ټولیه
بینوا تللې آسمان ته
چې الفت دې پکې نه لید
شوې په قهر و انسان ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو مخلص دې بیا ونه موند
چې هر څو دې کش کړه ځان ته
ټول بې درده، دردمن نشته
ټول بې واکه، واکمن نشته
***

سپوږمۍ په پښتو شاعرۍ کې ځانګړی ځای لري. په ټولو لرغونو او معاصرو اشعارو په تېره بیا په ولسي ادبیاتو کې، له غزل څخه نیولې بیا تر لنډۍ پورې سپوږمۍ د یوې سمبولیکې وسیلې په توګه خپل خاص ځای او مقام ساتلی دی. شاعر له سپوږمۍ سره خپل غم شریک کړی، د زړه خواله یې ورسره کړې ده، له خپل یوازیوالي یې ورته ګیلې او شکایتونه کړي، خپل زړه یې ورته تش کړی او هغه یې د خپل راز ملګرې ګڼلې ده. یو شمېر شاعرانو سپوږمۍ له خپل یار او معشوقې سره د دیدن او حال شریکولو وسیله ګرځولې ده. په بل ځای کې سپوږمۍ د هجران او بېلتون د شپو ورځو یار او ملګرې شوې او شاعر له هغې سره بنډار کړی دی.

په یو شمېر شعرونو کې سپوږمۍ د تاریخ زړه بلل شوی او خطاب یې ورته کړی، چې تا د دور او زمان هر څه په خپلو سترګو لیدلي او هر څه ستا په لمن کې پراته دي، وګورئ، ارواښاد ګل پاچا الفت څه ښه وايي:

ارمانونه، افسوسونه، حسرتونه
د مینـو، د غمجنـو د خوارانـو
غفلتونـه، لغزشـونه، مکیزونه
د مشـرانو، د مستانو، د خوبانو
چپاوونه، یرغلونه، شورشـونه
د چنګېز، د سـکندر، د پرنګیانو
دې هېواد کې تا لیدلي دغه واره
ته د هر چا په سر باندې یې ولاړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل ځای وایي:

ستا رڼا کې پیدا کیږي نور فکرونه
شاعران اخلي له تا ځنې الهام
په کتو کې درته وایي پټ رازونه
یا اشنا ته لیږي ستا په لاس سلام
تا سره وینمه بل راز تاثیرونه
ته په هره شپه راوړې نوی پیغام
په تا باندي د اشنا مینه ماتیږي
د دردمنو تسلي دربانديکیږي

سپوږمۍ د پښتو په ولسي ادبیاتو کې ډېر پراخ ځای لري. بې شمېره لنډۍ موجودې دي چې د سپوږمۍ نوم پکې راغلی دی. مینانو او عاشقانو خپل د زړه راز ورته ویلی او له هغې سره یې خبرې کړي دي. لاندې څو لنډۍ د بېلګې په توګه وګورئ چې د سپوږمۍ په اړه ویلې شوې دي:

سپوږمۍ په ما دې څه احسان دی
زما اشنا د دیواله سیوري ته ځینه

***

سپینې سپوږمۍ حال راته وایه
زما اشنا مجلس له چا سره کوینه

***

که دې زما دیدن یادیږي
سپوږمۍ ته ګوره زه په بام ولاړه یمه

***

سپوږمۍ په منځ د اسمان راغله
بې یاره خوب نشته که ماته نه راځینه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د متن لنډيز:

شاعر په خپل خيال کې له سپوږمۍ سره د زړه خواله کوي. د سپوږمۍ يوازېتوب له خپل ځان سره پرتله کوي. بلنه ورکوي چې راځه کينو او زړونه يو بل ته تش کړو. بيا د سپوږمۍ هغه ځانګړنه څرګندوي چې تا ډېر څه ليدلي او د هر چا له رازونو خبره يې. په پايله کې وايي چې ستا زړه له دنيا تنګ شو ځکه اسمان ته لاړې. په دنيا کې دې مينه او الفت نه ليده او په انسانانو کې دې اخلاص نه ليده، ځکه خپه شوې او اسمان ته لاړې.

فعاليتونه

۱ـ زده کوونکي دې په وار د شعرونو برخه په لوړ اواز ولولي او هره برخه دې معنا کړي.

۲ـ زده کوونکي دې شعر يو ځل په چوپه خوله ولولي او بيا دې لنډ مفهوم وليکي او پخپلو خبرو کې دې ووايي.

۳ـ زده کوونکي دې لاندې لغتونه معنا او په جملو کې وکاروي.

۱ـ ګوته ۲ـ لالهاند ۳ـ غرۍ ۴ـ ځلا ۵ـ سپوږمۍ ۶ـ مل

۴ـ زده کوونکي دې وګوري چې په شعر کې کومو کيسو ته اشاره شوې وي، نو د کيسې په اړه دې خبرې وکړي.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د سپوږمۍ په اړه يو شعر وليکي او يا دې د سپوږمۍ په اړه پنځه لنډۍ وليکي او بله ورځ دې په ټولګي کې واوروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مشرانو حقونه

■ ستاسو مشران څوك دي؟

هره ټولنه ځانته ارزښتونه لري. افغاني ټولنه په دې اړه خورا بډایه ده. کشر او مشر، ځوان او سپین ږیری، ښځه او نارینه ټول په خپلو منځونو کې د راشه درشې او چال چلن لارې او اصول لري. کشران د مشرانو درناوی کوي. په وړاندې یې بې ادبه خبره نه کوي. خبرې او لارښوونې یې مني. مشران هم په خپل وار په کشرانو مینه کوي. خواته یې رانژدې کوي او لورېنه پرې کوي. ښځې په ټولو ټولنو، په تېره بیا په افغاني ټولنې کې د زیات درناوي وړ دي. ان په جنګ جګړو کې هغوی د درناوی وړ ګڼل کېږي او څوك کار پرې نه لري.

■ د مشرانو په وړاندې تاسې څرنګه چلن کوئ؟

■ د مشرانو چلن ستاسو په وړاندې څنګه دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر مور، پلار، ورونو، ترونو، ماماګانو سربېره د نورو مشرانو درناوی او عزت هم پر موږ لازم دی. مشران دوه ډوله دي: یو هغه چې په عمر کې له یو چا څخه زیات وي. بل هغه خلك دي، چې د زیاتې پوهې او علم خاوندان وي. (لویوالی په عقل دی نه په کال - شتمني په زړه ده نه په مال) ددې دواړو ډلو احترام او درناوی پر کشرانو باندې لازم دی.

د یوې خوشحاله کورنۍ بنسټ یو بل ته پر درناوي او په خپلمنځي پوهاوي ایښی وي. لویان پر کشرانو مینه او شفقت کوي او کشران د لویانو او مشرانو درناوی کوي. خبرو ته یې غوږ نیسي او که کومه ښه لارښوونه ورته وکړي، هغه مني.

زموږ کشران باید د خپلې ټولنې له دود دستور او فرهنګ سره سم د مشرانو درناوی وکړي، په وړاندې یې په بې ادبۍ او لوړغږ خبرې ونه کړي. په سپکه سترګه ورته ونه ګوري. که سرویس یا بل داسې ځای وي چې یو مشر یا سپین ږیری ته پکې د ناستې ځای نه وي او کشران ناست وي، باید کشران خپل ځای په ډېر ادب مشرانو ته پرېږدي. کله چې په مخه ورشي، باید سلام ورکړي او عزت یې وکړي. هغسې چلن ورسره ونه کړی چې د مشرانو له شان او حیثیت سره سمون ونه لري.

مشران د ژوند ډېرې تجربې لري او هغه د چا خبره تر کشرانو یې ډېر کمیسونه زاړه کړي او د ژوند ترخې خوږې یې څکلي دي، له دې امله یې باید خبرې او لارښوونې په ډېره مینه واورېدل شي او عمل پرې وشي.

هغه خلك چې تر تاسې کشران وي، خو د پوهې او علم له مخې پر تاسې زیات وي، نو لازمه ده، چې د پوهې او علم له مخې یې درناوی وکړئ. کولای شئ، په ډېر ادب ورڅخه د هغو مسایلو پوښتنه وکړئ، چې پرې نه پوهېږئ.

له بلې خوا پر کشرانو باندې لورینه او مهرباني د لویانو دنده ده. مشران باید پر کشرانو لاس تېر کړي، پیرزوینه پرې وکړي، ویې نازوي او که چېرې کومه تېروتنه او غلطي

(c) ketabton.com: The Digital Library

تري وشي، باید ویې ښېي او سمه لاربښوونه ورته وکړي. د همځولو او نورو ملګرو تر مخه يې سپك نه كړي. تل یې وهڅوي او شخصيت ته يې وده وركړي.

د مشرانو درناوی او په کشرانو مهرباني او شفقت زموږ اسلامي دنده هم ده. د ټولنې د ښې ودې، پراختيا او د چارو د ښه سمون لپاره پر دې کار زيات ټينګار شوی دی.

که موږ وغواړو چې په سپين ږيرتوب کې مو درناوی وشي، باید له اوسه د لویانو درناوی وکړو. بې ادبه انسان د وچې ونې په څېر دی. وچه ونه، نه سیوری لري او نه مېوه کوي، یوازې د وهلو او سېځلو کار ترې اخیستل کېږي.

د متن لنډيز:

ټولنه له افرادو څخه جوړه شوې ده. دا افراد پر يو بل حقونه لري. مشر په کشر، کشر په مشر، ځوان په زوړ او زوړ په ځوان. همدا رنګه ښځې په نارينه وو زيات حقونه لري. کشران بايد تل د مشرانو عزت اودرناوی وکړي. مشران بايد پر کشرانو باندې پيرزوينه او مهرباني وکړي. ويې روزي، ويې پالي او ذهني اوبدني ودې ته يې پاملرنه وکړي. دا د ټولنې نظام دی. نظام په همدغو ستنو ولاړ دی. بايد ټينګ يې وساتو.

فعالیتونه

١ زده کوونکي دې لاندې پوښتنو ته ځواب ووايي:

- کشران پر مشرانو څه حقونه لري؟
- ولې باید پر کشرانو مینه او شفقت ولرو؟
- داسمه ده چې وايي: ((درناوی باید له کور څخه پیل، په ښوونځي کې تمرین او

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ټولنې کې عملي شي)) وېې څېړئ.

- ستاسو په اند د يوې ښې او خوشحاله کورنۍ ځانګړتياوې کومې دي؟

۲_ د لاندې جملو خالي ځايونه په مناسبو کلمو ډک کړئ:

- هره ټولنه ځانته ....لري.
- مشران بايد .... خواته نژدې او لوربنه پرې وکړي.
- د .... احترام او درناوی پر کشرانو باندې لازم دی.

۳_ زده کوونکي دې په څلورو ډلو وويشل شي:

- لومړۍ ډله دې په پورته لوست کې خاص نومونه پيدا او ودې ليکي.
- دويمه ډله دې په پورته لوست کې کارول شوي عام نومونه پيدا او ودې ليکي.
- درېمه ډله دې په کلمو کې بېلا بېلې (ې ګانې) پيدا او د هرې ډلې کلمې دې په ترتيب سره بېلې بېلې وليکي.
- څلورمه ډله دې په متن کې متضادې کلمې ولټوي او ودې ليکي.

کورنۍ دنده

- زده کوونکي دې په خپلو کورونوکې د مشرانو د حقونو په هکله له خپلو ميندو اوپلرونو سره خبرې وکړي. د هغوی نظريات دې وليکي او سبا ته دې په ټولګي کې ووايي.
- زده کوونکي دې مور، پلار يا بل کوم مشر ته ليک وليکي.

پر ماشومانو مينه او د لويانو درناوی وکړئ.

حضرت علي کرم الله وجهه

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ویشتم لوست

ستاینوم (صفت) او ډولونه یې

- ستاسو په اند ښه هلك او سره مڼه څرنګه عبارتونه دي؟

په تېرو لوستونو کې مو د (ی) بېلابېلي بڼې او د کلمو ډولونه ولوستل. دلته د صفت او د هغه د ځانګړتیاوو په اړه خبري کوو.

- ایا پخوا مو د صفت په اړه څه اورېدلي دي؟
- ستاسو په اند صفت څه معنا لري؟

لاندې جملې ولولئ او هغو کلمو ته پام وکړئ چې کرښه ورلاندې ایستل شوې ده:

- زه روغ رمټ یم.
- زموږ ملي پوخ خورا غښتلی دی.
- زه خوشحال کمزوری نه یم چې به ډار کړم.
- خدایه څه شول هغه ښکلي، ښکلي خلك؟
- تور تېل په توره تیږه تو ل توی شول.

په پورته جملو کې روغ، غښتلی، کمزوری، ښکلي، تور او توره هغه کلمې دي چې د یو چا، یو شي او یا یو نوم څرنګوالی ښیي.

ویلی شو ستاینوم هغه کلمه ده چې په خپلواك ډول نوم نه وي، خو د یو نوم حالت، څرنګوالی، څومره والی او اندازه ښیي.

پوښتنه

اصلي ستاینوم:

لاندې جملو ته وګورئ او هغو کلمو ته پام وکړئ چې کرښه ورلاندې ایستل شوې ده:

- ښه سړی د هرچا خوښیږي.
- توره تخته د تدریس جزء دی.
- په اوړي کې سپین کالي اغوندئ.

وګورئ، ښه، توره او سپین کلمې چې اصلي ستاینومونه دي، د سړي، تختې او کالیو حالت څرګندوي. په دې توګه اصلي ستاینوم هغه ستاینوم ته وایي چې د یو نوم اړوند حالت څرګند کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اصلي ستاينوم دوه ډوله دی. يو ته يې ساده او بل ته مرکب وايي.
ددې ډولونو بېلګې په لاندې جملو کې وګورئ:

- لوخ له اوبونه ډاريږي.
- ولس په خپله ژبه ژوندی دی.
- تيټ مې مه بوله غورځنګ راباندې مه کړه.
- اتل په ونه لنډ او په تنه پلن دی.

او

- توريالی په خپلې تورې وياړي.
- تر ناپوه دوست هوښيار دښمن ښه دی.
- پوهيالی د پوهنتون د استادانو علمي رتبه ده.

که پورته جملوته پام وکړئ، نو خرګنده به شي چې لوخ، ژوندی، تيټ، لنډ، پلن ساده کلمې دي چې د ولس، انسان او اتل ځرنګوالی ښيي. په دې ډول ويلای شو چې ساده ستاينوم يوه کلمه وي، يعنې مفرده کلمه وي.

توريالی، ناپوه او پوهيالی مرکبې کلمې دي، يعنې توريالی له (تورې) او (يالي)، ناپوه له (نا) او (پوه) او پوهيالی له (پوه) او (يالي) څخه جوړې شوې دي. په دې ډول مرکب هغه صفت دی، چې له دوو او يا زياتو توکو څخه جوړ شوی وي.

پوښتنه

زده کوونکي دې د ساده او مرکبو صفتونو بېلګې وړاندې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرتله ییز یا مقایسي ستاینوم:

پرتله ییز ستاینوم په دو و ډولونو تر سره کیږي.

الف: د (ډېر) په ملګرتیا، لکه:

۱_ دا قلم ترهغه قلم ډېر ښکلی دی.

۲_ احمد تر ما ډېر هوښیار دی.

ب: د (خورا یا لا) په ملګرتیا، لکه:

۳_ دا قلم ترهغه خورا ښکلی دی.

۴_ زما ورور ترما لا هوښیار دی.

د صفت او موصوف ګرداني سمون (مطابقت)

په پښتوژبه کې صفت له موصوف سره د جنس (نارینه، ښځینه)، شمېر او حالت له پلوه ګردانیږي.

صفت له موصوف سره په عمومي توګه په لاندې درېو ډلګیو وېشل کیږي:

الف: هغه صفتونه چې له خپل موصوف سره د نارینه جنس د شمېر له مخې سمون نه لري، خو د ښځینه جنس له موصوف سره پوره سمون لري، لکه په لاندې بېلګو کې:

نارینه		ښځینه	
مفرد	جمع	مفرد	جمع
شین ختکی	شنه ختکي	شنه هندوانه	شنې هندوانې
ښکلی کتاب	ښکلي کتابونه	ښکلې کتابچه	ښکلې کتابچې
ښه هلك	ښه هلکان	ښه نجلۍ	ښې نجونې

ب: هغه ډله ستاینومونه چې د نارینه جنس او ښځینه جنس د شمېر له مخې له خپل موصوف سره پوره سمون ښیي، لکه په لاندې بېلګو کې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

نارینه		ښځینه	
مفرد	جمع	مفرد	جمع
شین بڼ	شنه بڼونه	شنه لمنه	شني لمني
ترېو انار	تروه انار	خوږه منه	خوږې مڼې
پوخ ختکی	پاخه ختکي	اومه هندوانه	اومې هندوانې

د متن لنډیز:

په پښتو کې ستاینوم د یو نوم یا شي ځرنګوالی او شومره والی ښکاره کوي. ساده ستاینوم او مرکب ستاینوم سره وپېژندل. د هغو نمونې سره کلمو او جملو کې ولیدې. اوس له یو لړ تمرینونو څخه وروسته تاسو کولای شئ، صفت او ډولونه یې لا ښه وپېژنئ.

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې په لاندې جملو کې صفتونه په ګوته کړي:

- ته اوس ځنګه یې، روغ شوی یې؟
- زلمی خورا غښتلی ځوان دی.
- ته لا څومره کمزوری یې!
- دا ځنګه ښایسته او ښکلی ځای دی!
- تور توتان له تا قربان.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ـ زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي.

- لومړۍ ډله دې داسې کلمې و وايي چې ساده ستاينومونه پکې راغلي وي.
- دويمه ډله دې د مرکب ستاينومونو بېلګې راوړي.

۳ـ زده کوونکي دې په لاندې متن کې په خپل وار د صفتونو بېلا بېلې بېلګې وليکي:

((ګلالۍ له کورنۍ سره ګلباغ ته تللې وه. د پسرلي موسم و. ډېره نرمه او ښکلې هوا چلېده. ګلالۍ خپل ورور ننګيالي ته وويل، خومره توتان چې خوړی شې، خوره يې. خو ګوره چې ناروغه نه شې. پلار يې ګلالۍ ته وويل: زه تلوونکی يم، هغه زما توره کورتۍ راوړه. ګلالۍ ورته وويل، پلاره، هغه خيرنه ده. هغه بله کريمي کورتۍ مې دې راوړې ده. پلار يې په غوسه ورته وويل، ګلالۍ دا دې څويم ځل دی، چې خبرې ته ښه غوږ نه نيسې. ګلالۍ له پلار څخه بښنه وغوښته.))

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په لوست کې د کارول شوو صفتونو د ټولو ډولونو بېلګې بېلې، بېلې وليکي او ټولګي ته دې راوړي.

د اسلام ستر پيغمبر فرمايي: د ژباتې پوهې والا ارزښت تر هغه چا زيات دی، چې لږه پوهه يې ترلاسه کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اته ویشتم لوست

نظم او ډولونه يې



■ تاسو تر اوسه نظم لوستی دی؟

موږ هره ورځ په کور کې خبرې کوو، په ښوونځي کې خبرې کوو، لوست لولو، له چانه پوښتنه کوو، د چا پوښتنې ته ځواب وايو. دې عادي خبرو ته نثر وايي، خو که داسې يوه ليکنه ولولو چې وزن ولري او يا له موسيقۍ سره ويل شي، نو دا ډول وينا له خبرو سره توپير لري. دې ډول وينا ته نظم وايي. تر اوسه مو په درسي کتابونو کې نثر هم لوستی او د ژبو په کتابونو کې مو نظم هم. دلته ستاسو د زياتو معلوماتو لپاره په نظم خبرې کوو.

■ ستاسو په اند نظم څه شي ته وايي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ليکنې دوه ډوله دي. يو ته نثر وايي او بل ته نظم. نثر به په راتلونکو ټولګيوکې په مفصل ډول ولوستلی شئ. دلته په نظم باندې څغلنده نظر اچوو.

وايي، شعريا نظم هغه وينا ده چې وزن او قافيه ولري. د نظم معنا عموما د شعرمترادفه ده او له هغې سره په يوه معنا کارول کيږي. خو د شعر او نظم ترمنځ توپير شته. شعر موزونه او تخيل لرونکې وينا ده او نظم موزوني قافيه لرونکې وينا ته وايي.

نظم د بڼې له مخې دا ډولونه لري:

۱ _ مثنوي: هغه نظم دی چې د هربيت دواړه مسرۍ يې يو ډول قافيه ولري. اوږده، اوږده مطالب، تاريخي، رزمي، اخلاقي، عرفاني او داسې نور موضوعات پکې ډېر ښه بيانېدای شي. بېلګه يې په لاندې ډول ده:

ای د پـاک وطـن فـرزنـده　　ای د قـام خـوږه دلـبنـده
ای د نـوي ژونـد پيغامه　　ای ارزو د وطـن قـامـه
د افـغـان د بـاغ سنبله　　د پـښتـون د بـڼ بلبله
سبـا تـه مـسؤول د کـار يې　　کـه تـه مـور او کـه تـه پـلار يې
ښـه اخـلاق او علم زده کړه　　هـلـه هـلـه تـلـوسـه کـړه
عـلـم هـرچـا لـه پـه کـار دی　　نـه چې تـش د نـروکـار دی
ښځه نـر دواړه مـسؤول دي　　خو په ښه عمل مقبول دي ...

۲ _ بولله (قصيده): هغه نظم ته وايي چې تر يوې مطلع لاندې ويل کيږي. اوږده او ډول ډول مضامين پکې راوړل کيږي. د بيتونو شمېر يې له شپاړسو څخه نيولې بيا تر دوو سوو پورې رسيږي. يوه بېلګه يې لاندې وګورئ:

(c) ketabton.com: The Digital Library

شگفته په باغ و راغ شول د بهار گل
هم په باغ هم په کوڅه هم په دېوار گل
نه يوازې گل د گلو بوټو ونيو
بادام گل، شفتالو گل، ونيو انار گل
کانې، بوټې، خار و خس په گلو پټ شول
د همه وارو عيبونو شو ستار گل
چې د سترگو نظر لگي واړه گل دی
وړاندې گل د وروسته گل يمين يسار گل....

۳_ غزل: هغه ډول نظم دی چې د لومړي بيت دواړه مسرې يې سره هم قافيه وي. د بيتونو شمېر يې تر ۱۶ او کله ناکله تر ۲۰پورې رسيږي. ټولې دويمې مسرې يې د لومړي بيت قافيه تعقيبوي. جوړښت يې د قصيدې په څېر دی. له يوې مطلع نه پيروي کوي او وروستي بيت ته يې مقطع وايي. په مقطع کې معمولاً د شاعر نوم يا تخلص راځي. دا هم دغزل يوه بېلگه:

چې دي وگوري و مخ ته وطن پرېږدي
وطن څه دی چې روح والوزي تن پرېږدي
بلبلان که دي له حسنه خبردار شي
ستا د مخ په ننداره به چمن پرېږدي
څه خومخ و بتخانې وته جارباسه
چې د بتو پرستش برهمن پرېږدي
بنه چې زړه مې مسافر شو ستا په لوري
عقيق لا شي قيمتي چې يمن پرېږدي
د جفا د مرو ژوند څه دی حسينه
که د جور خوی زما گلبدن پرېږدي

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴_ رباعي: هغه نظم دی چې څلور مسرې لري. لومړۍ، دویمه او څلورمه مسره یې سره هم قافیه او دریمه یې اختیاري وي. بېلګه یې لاندې وګورئ:

خزان چې راشي وطن تالا کړي
د بڼ بلبلې په واویلا کړي
نن که وصال دی سبا هجران دی
نیازمند به واړه ځله جلا کړي

۵_ قطعه: هغه نظم دی، چې مطلع او مقطع نه لري. شمېر یې له دوو بیتونو څخه نیولې تر زیاتو بیتونو پورې وي. لاندې یوه بېلګه یې وګورئ:

اندېښنه که په غره کښېږدي
غر به هم لکه وېښته کا
خوار سړی ملامت نه دی
که په غم کې ځان اوبه کا

د متن لنډیز:

پښتو ادبیات خورا بډایه لمن لري. رنګارنګ بېلګې لري. ولسي ادبیات یې خپل ښکلې رنګونه لري او لیکلي ادبیات یې خپل. لیکلي ادبیات یې ډېرې زیاتې بڼې لري،. موږ ترې دلته د بېلګې په توګه د مثنوي، قصیدې، غزل، رباعي او قطعې نمونه واخیستل. داسې نور ډېر ډولونه شته چې د عربي عروضو په پیروۍ ویل شوي دي، کېدای شي په راوروسته ټولګیو کې ولوستل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

۱_ زده کوونکي دې په درېو ډلو ووېشل شي:

- لومړۍ ډله دې نثر راوپېژني او بېلګې دې ووايي.
- دوېمه ډله دې د نظم معناخرګنده کړي.
- درېمه ډله دې د نظم ډولونه بيان کړي.

۲_ زده کوونکي دې په پورته متن کې د (ی) ډولونه په نښه او اړونده کلمې دې په خپل خپل کتاركې یو تر بل لاندې ولیکي او نورو زده کوونکو ته دې بیان کړي.

۳_ زده کوونکي دې وګوري چې په پورته متن کې کوم صفتونه پیدا کولی شي. هغه دې په ګوته کړي او ودې لیکي.

۴_لاندې متن ولولئ. د نومونو ډولونه، بېلابېلې (ی)ګانې او صفتونه پکې په ګوته کړئ. هر یو یې بېلابېل ولیکئ او د زده کوونکو په وړاندې یې ولولئ:

احمد ناروغ و. ښوونځي ته لاړ. هلته یې ناروغي زیاته شوه. د ښوونځي مدیر هغه روغتون ته واستاوه. په روغتون کې یو ډاکټر له احمد څخه پوښتنه وکړه: ((احمده، په کوم ښوونځي کې یې؟)) احمد ځواب ورکړ: ((د سید جمال الدین افغان په منځني ښوونځي کې.)) بیا یې ترې وپوښتل: ((پرون دې څه کا رکړی و ؟)) احمد ځواب ورکړ: ((پرون د جمعې ورځ وه. ډوډۍ مې وخوړه او د لمبا لپاره یو ډنډ ته لاړم، هلته نور هلکان هم وو. اوبه خړې وې. له لمبا وروسته لمر ته څملاستم. کله چې کور ته لاړم تو له شپه مې ځان خوږېده.)) ډاکټر ورته وویل: ((ته هوښیار هلك یې. په ولاړو او ناپاکو اوبو کې لمبل زیان لري. له لمبا څخه وروسته تود لمر ته څملاستل ښه نه دي. په مړه ګېډه لمبا ښه نه ده. لږ ترلږه د ډوډۍ او لمبا تر منځ باید یو نیم، دوه ساعته وخت وي. باید خپلې روغتیا ته پام وکړې. هرشی باید ونه خورې. خواړه دې هرو مرو باید پاك وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځان دې هم باید پاك وي... اوس ځه، درمل مې درکړل، په خپل وخت يې وخوره، ډېر ژر به ښه شې. پام کوه، چې د مېوې خوراك دې هېر نه شي.))

احمد له ډاکټر څخه مننه وکړه او د هغه لارښوونې يې په غوږ کې ونيولې. کور ته د تګ پر مهال يې په بازار کې سرې، سرې مڼې وليدې. ډېرې يې خوښې شوې. مڼې يې واخيستې او کور ته لاړ.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې هڅه وکړي چې د خپلو کورنيو د غړو په مرسته له پورته نظمونو څخه د يو نظم نمونه پيدا کړي، ويې ليکي او سبا ته يې د نورو ټولګيوالو په مخکې ولولي.

همدا شان زده کوونکي دې هڅه وکړي د پورته نظمونو په پيروۍ له ځانه کوم نظم جوړ کړي او د زده کوونکو په وړاندې دې ولولي.

داسې کوم شی نشته، چې د زده کړې له لارې ترلاسه نه شي، هيڅ شی زده کړې ته نه رسيږي. زده کړه بد اخلاق پر ښو اخلاقو بدلوي. ناوړه اصول سموي او د هغی په ځای يې راوړي. زده کړه انسان د پرښتو ترکچې لوړوي.

مارك تواين

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویپانګه

((الف))

ابده: لرغونی، تاریخي اثر، ودانی، ځلې

اتفاق: یووالی، اتحاد

اثار: نښې، لیکنې، تألیفات

اخروي: د هغې نړۍ، د اخرت

اراده: د انسان داخلي او ذهني ځواك چې یو کار ته انسان هڅوي، په عواطفو لاسبرى

ارزښت: اهمیت، مهموالی، ارزش

ازمایل: ازمېښت، امتحان، د یو شي یا یو کارمعلومول

استوا: د ځمکې ملاوستنی، د استواکرښه (هغه فرضي کرښه چې له دوو قطبونو څخه په مساوي اندازه له ځمکې څخه راچاپېره شوې او ځمکه یې په دوو برخو وېشلې ده. یوې ته یې شمالي او بلې ته یې جنوبي نیمه کره وایي.)

استوګنځی: د اوسېدو ځای، کور، تاتوبی

افاده: ښودل، ویل، څرګندول

افاقي: د یو شي په باره کې اضافي معلومات

ام البلاد: د ښارونو مور

امتیاز: د نورو په پرتله غوره والی

انتباه: ویښتیا، له غفلت نه راوتل، خبرېدل

انتقال: لېږدول

اندېښنه: تشویش

اند: فکر

اورښت: د باران، ږلۍ یا واورې اورېدل

اټکل: تخمین، قیاس

اړخ: خوا، لوری

اړین: ضروري

اله: یو شی، یوه وسیله

((ب))

(c) ketabton.com: The Digital Library

باصره: د لیدلو حس، سترګې

بانډه: کلی، څوکورونه چې یو ځای پراته وي

بخت: طالع، هغه شی چې له پېشبینی پرته د انسان په ژوندکې رامنځته کېږي

برکت: پرېماني، نېکمرغي، مبارك

برهمن: د برهمايي (بودايي) دین لارښود

بريا: کاميابي، لاسته راوړنه

بریاوې: د بریا جمع حالت

بنډار: د همزولو انډیوالانو مجلس

بېلګه: مثال، نمونه

بېوزلی: غریب، له مال او شتو بې برخې

((پ))

پاتې شونی: باسي، کوم شی چې پاتې شي، باسي خواړه

پالل: روزل، عبادت کول

پایښت: پایېدونکی، بقا

پاڅون: قیام، د یوعمل پر وړاندې درېدل

پرتله: مقایسه، یو شی له بل شي سره پرتله کول

پرتلیز: مقایسوي

پرځې: لوېدل، سقوط کول، له منځه تلل

پرې: قطع، غوڅ شوی

پرېشاني: خپګان، اندېښنه

پنځ: طبیعت

پنډ: بار

په ځان اعتماد: په ځان باور او ویسا

پولې: سرحدونه

پوهاند: د پوهنتون د استادۍ تر ټولو لوړه او وروستی علمي رتبه

پوهندوی: د پوهنتون د استادۍ د پیل څلورمه علمي رتبه، خپلواك استاد

پوهنمل: د پوهنتون د استادۍ د پیل درېمه علمي رتبه، اسیستانت

پوهنوال: د پوهنتون د استادۍ د پیل پنځمه علمي رتبه، خپلواك استاد

پوهنیار: د پوهنتون د استادۍ د پیل دویمه علمي رتبه،اسیستانت

پوهیالی: د پوهنتون د استادۍ لومړۍ علمي رتبه، اسیستانت

پیاوړتیا: قوت، ځواك

پیرزوینه: لورېنه، پیرزو کول

پیروي: متابعت، د چا په لاره تلل

پېر: پړاو

پېښ: واقع

((ت))

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاړاك: چور وچپاول

تدبير: دکارونو يا ستونزو د سم سر ته رسولو لپاره د حل په لاري فکر کول

ترجيح: په يو شي باندې د بل شي غوره گڼل

تري: له هغه (هغې) څخه

تس ونس: بيخي له منځه ورل، پوپنا

تصوف: په مسلمانانو کې د معرفت، خدای پېژندلو او روزنې لاره چې زياتره په کې له نرۍ سره اړيکې شليږي

تعليق: ځنډول، د سرته رسونې د وخت له ټاکلو پرته د يو کار ځنډول

تلوسه: ژر ژر، هيله، ارزو

تنفسي سيستم: د هغه غړو مجموعه چې د ساکښلو (تنفس) سيستم جوړوي.

تنگسه: د ژوند د مالي شونتياو و نه لرل، سختي

توپاني: له باد او باران ډکه هوا

توحيد: د خدای ﷻ يو گڼل، د خدای ﷻ په يو والي خوله خوځول (اقرار)

تور: تور رنگ، تهمت (تور پورې کول)

توکی: ماده، شی

تړاو: اړيکې (تړښت)

تېز: چابك، بيړه، چټک

((ت))

تېتي: کناراب، د مدفوع ځای

((ج))

جمال: ښايست، ښکلا

جوت: څرگند، ښکاره

جور: ظلم، زياتي

((ځ))

ځانگړتيا: يو شی چې له بل شي څخه بېلوي

ځلانده: روښان

((چ))

چپاو: يرغل، حمله

چم: شاوخوا کلي، گاوند

چوغندر: لبلبو (د ملی او گازرې په څېر په ځمکې کې کرل کيږي او لوبيږي او د بورې د جوړولو لپاره ترې گټه اخلي.)

چونې: پوځي ځای (د عسکرو د اوسېدو ځای)

((ښ))

ښارنه: تر سترګو لاندې ساتل (مراقبت)

ښاروي: څلوربولي، حیوانات

ښرځای: د ښارویو د پوولو شین او له وښو ډک ځای، وښیانه

((ح))

حساس: ژر پوهېدونکی، هغه څوک چې د چا له معمولي خبرو یا چلن خفه خپه کیږي، ارزښت لرونکی، د پام وړ، د چټکو او ډېر ژر موندلو څواك

حیثیت: تولنیز ارزښت او اعتبار چې د یو چا د سرلوړی او نیکنامی لامل کیږي.

((خ))

خار و خس: **خاورې، خځلې،** هغه شی چې د یو کار د سرته رسولو مخه نیسي، اغزی، مزاحم

خبریال: د خبرونو ټولوونکی او لیکونکی

ختن: په چین کې یوه سیمه ده

خلقت: زوکړه

خځلې: ناپاکي، دکور پاتې شوني، جارو شوي

شیان

خړوب: موړ، سېراب،

((د))

د وینې فشار: هغه فشار چې زړه ته د ورتلونکو رګونو پر دېوالونو واردیږي.

د وینې کلسترول: هغه غوړه ماده چې په عصبي جوړښت کې موجوده ده او په وینه کې یې ډېروالی د شریانونو د تنګېدو او قلبي ناراحتی لامل کیږي. په وینه کې د غوړو زیاتوالی.

دام: د الوتونکو د نیولو وسیله، چل، فریب

دبدبه: لویوالی، عظمت

دردمن: زړه سواند، دردېدونکی

دستور: لارښوونه، دود

دلبند: په زړه پورې

دولتي مؤسسې: وزارتخانې او ریاستونه، په یوه دولت پورې اړوندې اداري

دنیا: شین بوټی دی، خام خوړل کیږي(ګشنیز)

((ذ))

ذایقه: خوند

(c) ketabton.com: The Digital Library

((ر))

راغ: د غرو لمنې

راغبرګېدنه: بېرته راتګ

رب: د ټولو ژوندیو موجوداتو پالونکی

رزمي: جنګي، پوځي

رسنۍ: مطبوعات (ورځپاڼه، اخبار، راډیو، تلویزیون، اطلاعات)

رغنده: سم، جوړ

روان، رواني: په هوښ، حافظې او عاطفې پورې د اړوندې قوې مجموعه چې د یو چا د استعداد او د چال چلن څرنګوالی ټاکي.

روحاني: په روح پورې اړوند، مذهبي شخصیت، دیني پوه

روغمن: روغ، جوړ

روږدی: اموخته

رډې (سترګې): برګې، په قهر

رڼه: پاك او شفاف

((ز))

زرده: ژیړه (بڼه)

زلال: صاف او شفاف، رڼې او خوږې (اوبه)

زوکړه: پیدایښت، زېږېدنه

زوږ: شور، غالمغال

زېږی: یو ډول ناروغي ده، چې د ځیګر د نیمګړتیا له امله په وینه کې د (بیلي روبین) په نوم ماده زیاتیږي او د انسان د څېرې او د سترګو د سپین د زېږېدو لامل کیږي.

زېرمه: سپما، پاسره، ساتل شوی

((ژ))

ژوبل: ټپي، زخمي

((س))

ساتنه: حفاظت

سارا: دښته

ستار: پوښوونکی، دګناه پوښوونکی

ستایل: ستاینه‌کول

ستاینوم: صفت

ستون: راګرځېدلی

ستونزې: مشکلات

سرطان: د جنیتیکي مادې له امله د بدن د سلولونو له واکه د وتلې ودې له امله پېښه شوې ناروغي چې د بدن د سلولونو طبیعي غذا او

(c) ketabton.com: The Digital Library

اکسیجن خوري او د تومور په نوم یوه غده رامنځته کوي. د لمریزکال د څلورمې میاشتې نوم دی.

سربښندنه: له سره تېرېدل، فداکاري

سفیر: په بهرني هېوادکې د یو هېواد رسمي استازی

سلامتیا: روغوالی

سلوك: چال چلن، روش

سمبال: په هر شي پوره

سمسور: اباد، ودان، خړوبه، ښېرازه

سمون: مطابقت

سورو ـ سواره (د سور مغیره حالت):

سویل: جنوب

سویلي: جنوبي

سیال: ساري، ورته سړی، رقیب، مانند

((ش))

شامه: د بویو لو حس، پوزه

شبنم: پرخه، هغه اوبه چې د شپې له خوا په بوټو او ګلانو باندې اوري

شتنکې: لا س او پښې وهل

شخصیت: د نسبتا مداومو او ثابتو ځانګړیتاوو یوه واحده او منسجمه ټولګه چې یو شخص له بل څخه بېلوي، د یو شخص غوره صفتونه چې د نورو په وړاندې د یو چا د اعتبار او درناوی لامل کېږي.

شغلې: رڼا، د لمر وړانګې، د اور لمبې

شفقت: مهرباني، زړه سوی

شل وشوټ: بې لاس او بې پښو

شوکت: دبدبه

شونتیا: امکان

شګفته: غوړېدلی

((ښ))

ښاد: خوښ، خوشحال

ښیراز: سمسور

((ص))

صدقه: خیرات

((ط))

طرز: ډول

((ظ))

ظرافت: نازکي، د یو شي او یا یو چا په سلوك،

(c) ketabton.com: The Digital Library

غړو او یا څېرې کې ښکلا او تناسب

((ع))

عاطفه: زړه سوی، مهرباني

عرفان: پوهه، پېژندنه

عظمت: لويي، دبدبه

عقيق: يو قيمتي غمی دی. رنګ يې سور وزمه او ځيګري وي او په ګانو کې ترې ګټه اخلي. ببرنګه ډول يې ډېر قيمتي دی.

((غ))

غندنه: د يو شي بد ويل

غندونکی: بد ويونکی

غورځنګ: حرکت

غښتلتوب: پياوړتيا، قوت

((ف))

فيوضات: برکتونه

((ق))

قاچاق: د يو شي ناقانونه وړل راوړل

قدر: برخ ليک، تقدير، سرنوشت، قضا: د خلقت او پيداکېدو لپاره د خدای ﷻ لومړنۍ اراده او قدر (د ق او دال په زور): د خدای ﷻ د لومړنۍ ارادې له مخې خلقت ته قدر وايي.

قشله: پوځي چونۍ

قيل وقال: خبرې اترې

((ک))

کاربوهايدريټ: د بورې، نشايستې، سلولوز او داسې نورو ترکيبونو ډله ده. له کاربن، اکسيجن څخه جوړه شوې او د ژوو مهمه غذايي سرچينه ده.

کالدانه: يو ډول دانه ده چې د ماشي د چيچلو له امله د انسان پر مخ يا ځان راخيژي

کاينات: لمر، سپوږمۍ، ځمکه، اسمان، ...

کتنې: په يو شي څه ويل يا زباتول

کروړ: سخت

کمال: د يو شي وروستی حد، په ښو صفتونو کې ترټولو مخکيوالی، بې عيبه، بشپړ، پوهه

کنډواله: ويجاړ شوی، خراب شوی

کوډيين: له اپينو څخه تر لاسه شوې سپينه يا بې رنګه کيمياوي ماده چې د خوږ (درد)، نشې يا ټوخې لپاره کاربري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوکايين: د يو بوټي (کوکا) له پاڼې څخه تر لاسه شوې شفافه ماده ده چې په طب کې د بې حسی او نشې په توګه کارېږي.

کوه طور: د يو غره نوم دی

((ګ))

ګالل: زغمل

ګاونډ: دکوراو کلي شاوخوا

ګلبدن: ښايسته

ګنی: يو ډول بوټی دی، په تودو سيمو کې شين کيږي، اوبه يې خوږې وي او عموما دګوړې او بورې جوړولو او خوراك لپاره کارېږي.

ګنګستيا: د ماغې نارامي، د يوې لنډې مودې لپاره په څه شي نه پوهېدل

ګونه: څېره، بڼه

ګوښه توب: يوازېوالی

ګوګل: سينه

ګټور: ارزښتمن، مفيد

ګړدود: لهجه

((ل))

لابراتوار: (ازمېښتون) چېرته چې د انسان يا حيوان طبي معاينات کيږي.

لالهانده: سرګردان

لامل: علت

لرغونی: پخوانی

لوستی: چا چې زده کړه کړې وي

لړ: جريان، سلسله

لېوالتيا: علاقه مندي

((م))

مادي: له مادې څخه جوړ شوی، په پيسو او شتمنی پورې اړوند

ماين: يوه چاودېدونکي اله، چې په جګړې کې د دښمن د ماتولو لپاره پر ځمکې ايښودل کيږي يا په ځمکې کې ښخيږي.

مترادفه: يو شان، هم معنا

متفکر: فکر کوونکی

مجاهد: جهاد کوونکی

مجروح: ټپي

محسوس: حس کېدونکی

محفوظ: ساتلې، خوندي

مخينه: سابقه

مرګ ژوبله: د سر او مال زيان

مشال: ډيوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مصور: تصویر لرونکی

مطلع: د شعر یا غزل لومړی بیت مصرع، د یو شعر دوه مسرې

معتاد: روږدی

معنوي: پټ، تر پردې لاندې

معیاري: په اندازه، ستندرد

مقبول: منلی، قبول شوی

ملاریا: یو ډول ناروغي ده، چې د ملاریا د ماشي د چیچلو له لارې رامنځته کیږي. ډیره سخته تبه او د ځان خوږ ورسره ملګری وي.

منرال: معدني توکي، په اوبو او د خوړو په ځینو منابعو کې پیدا کیږي.

منلی: قبول، بښاسته

منګول: پنجه

مهالنی: په وخت پورې مربوط، موقوته(خپرونه)

مهتمم: یو شي ته سر او سامان ورکوونکی، غمخور

مورفین: له اپینو څخه د نشې ډېر مهم لاس ته راغلی توکی چې په طبابت کې له هغې څخه د خوب راوستلو لپاره د یو مسکن په توګه کار اخیستل کیږي.

مورګې: غاړې، څنډې

میراث: پاتمړې، پاتې شوې شته

میلاد: زیږېدل، د حضرت عیسی (ع) د زیږېدو ورځ

مربښت: په یو شي مړېدل

مېشت: استوګن

((ن))

ناچاودي: ناچاودلي

نادولتي موسسې NGOs: هغه موسسې چې په دولت پورې اړه ونه لري.

نازول: ناز ورکول، لاس راکښل

ناوړه: خراب، نامناسب

ناڅاپي: نابېره

نتلو – نتلی: خوار، ځپلی

نری رنځ: یو ډول ناروغي ده، چې له میکروب څخه پیدا کیږي او په سږي حمله کوي، سیل

نسخ: په اسلامي هېوادونو کې د لیک یو مشهور ډول چې زیاتره د قرانکریم په لیکلو کې ترې ګټه اخیستل کیږي. د پښتو لیکلو لپاره هم دا لیک کارول کیږي

نظام: د قوانینو، قاعدو، دودونو یا نورو مجموعه چې د یو شي ټینګښت او انتظام پرې ابنبی وي. لکه د طبیعت نظام

نغښتی: تاو راتاو، پېچلې

ننداره: سیل، تماشه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ننګ: غیرت، پت، عزت

نهیلي: نا امیدي

نوښتګر: مبتکر، د لومړي ځل لپاره د یو شي یا یوې مفکورې رامنځته کوونکی

((هـ))

هرومرو: حتما، خامخا

هسك: پورته، اسمان

هلې ځلې: کوښښ، زیار

هم مثل: ورته، غوندې، په شان

هوسا: ارام، کرار، سوکاله

هوسېدل: د یو شي هوس کول، تپاك

هوډ: پرېکړه، تصمیم، اراده

هیرویین: سپین رنګه، بې بویه، ترخه او ډېره زهري او روږدي کېدونکې ماده چې له مورفینو څخه لاس ته راځي.

((و))

وتلی: نومیالی، مشهور

وسایط: واسطې، د یو کار د سرته رسولو لپاره پکاریږي. زیاترو موټرو ته نقلیه وسایط وایي.

((ي))

یسار: چپ لوری

یمین: ښی لوری

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخځلیکونه

۱_ ادبپوهنه، سید محی الدین هاشمي
۲_ اوسني لیکوال (لومړی ټوك) عبدالرؤف بېنوا
۳_ برگزیده سخنان بزرگان، مرضیه یعقوبي
۴_ پټه خزانه، محمد هوتك
۵_ پښتو پښویه، پوهاند دوکتور مجاور احمد زیار
۶_ پښتو گرامر، پوهاند صدیق الله رښتین
۷_ خواږه نعتونه، مولانا عباس قادریه
۸_ د افغانستان تاریخي ودانۍ، نانسي دوپرې
۹_ د افغانستان د ولایتونو جغرافیه، پوهاند غلام جیلاني عارض
۱۰_ د افغانستان مشاهیر، سید محی الدین هاشمي
۱۱_ د الفت مرغلرې، (شعري کلیات) د شهرت ننگیال په زیار
۱۲_ د بېنوا شعري کلیات
۱۳_ د پښتو ژبې لنډ گرامر، سید محی الدین هاشمي
۱۴_ د شمس الدین کاکړ دېوان
۱۵_ د عبدالقادر خان خټك گلدسته، دریم چاپ، د سید محی الدین هاشمي په زیار
۱۶_ فرهنگ ادبیات جهان، زهرای خانلري
۱۷_ فرهنگ فشرده سخن، دوکتور حسن انوري (دوه ټوکه)

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library